

# نیمګړیو د څېړنچوپېرو انګړ

ډيپلوم انجینیر صفي الله فردوس

کورس: پاتېشونې پوهه
خبروونکی: د کوشنیوالي احساس
ټاټوبي انګړ: مهترلام، لغمان، افغانستان
پېخلیک: د غبرګولي، ٦، ۱۴۰۳ لیږدی

اړیکه: ۹۳۷۸۶۹۰۴۷۹۹+
برېښنالیک: Safiullah_firdows@yahoo.com

د وګړو ګټنې له پاره منل شوی؛ وپېرول يې بې برېده دي.

نیمګړیو د څېړنچوپېرو انګړ

د پښتو ژبې ګړنې پېیلې څېړنچوپېرې

**بسم الله الرحمن الرحیم**

د الله په نوم پيل کوم چې پوره رحم کوونکی او پوره رحم لرروونکی دی؛ مهرباني د پيني پنځونکي ښتن بر لورينه ده.

## نیمکۍیو د څېړنچوپړو (ریسرچ پاڼو) انګړ

### ۲. تیسس څرګندونه

له دې پېيلو څخه نټه (انکار) نه شو کولی او نه پرې نتیالي یو، ځنې ښې شتې (خدنګې) او اننګوړې (انارکي) وي. له غوره سول (عقل) څخه ډکې وي، بېلا بېل غړيالي ( عضلاتي) وي، د پښتنو په منځ کې لوستل، لیکل او غږول کېږي. نازغموږ(د تحمل وړ) دي، نا انډوله ور سره نه ده په کار، همداسې زموږ نیکونو او اناوو نیمکۍ ( سروکی یا پام) پېيلې (اشلوک، پېيرن، شېر، شعر) پېژندلې او خپلې پېيلې یې چې سوچه ګړنې پېيلې دي. پرې پوهېږي چې د پردۍیو ژبو له ادبي کالبونو څخه پاکې دي، نه د پردۍ پېيلو په ډول تول، پښبله ( کافیه) او نه هم لړ ( ردیف) لري، په نیمکۍ یا سروکی یا پام باندې نومولي دي.

خپل پښت یې لېيل ( هڅول) چې په ولوله او ولولیز بڼه یېبرور ( باورو، حاصلخېزه) د پېيلې ونج (عوض، تعویض، میز) ایزوړ ( د کښتی لاستی) په لاس ور کړي.

بل لور ته تر روانپېره (اوس وخت) پورې، د نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپې، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ ( پام لنډۍ، پام ټپه، پام ټیکۍ او پام مصرۍ یا سروکه لنډۍ، سروکه ټپه، سروکه ټیکۍ او سروکه مصرۍ) انګړ لا پښتون پښت ته څرګند نه دی.

د نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپې، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ ترمنځ بېلوالی؛ ځانګړې ځانګېرنې؛ انځورونه؛ تعریفونه ( څرګندونې، ښکارونې، د یوه توري یا سکالو تشریح کول یې)؛ څېيزې او زورنې؛ ځمککچېوهنې ( هندسي) رغښت؛ سپړنې؛ زما څرګندول چې رونوي کتنه داسې؛ څه بڼه لوری سپيني ته را وباسم؛ آړوتی (شرط)، آر (اصل)، پېخلیک (تاریخ)، پېر (وخت) او یېبره (حاصل یا ثمره) یې هم ستونځمن کار وو. د پښتو ژبې پېيلو له پاره د ختېځ لومړي نمبر څېړونکي م. اېنج. ص. ف پيني وال ښکاروندی لښتیلیک ) او په روان پېر کې د څېړونکي ,, نیمکۍیو د څېړنچوپړي انګړ (نیمکۍیو د ریسرچ پاڼو انګړ) ،، لیکي د بېلابېلو پېيلنو او پېيلنې د نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپې، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ یېبرې ( حاصل یا

ثمرې)، لورا لور په غښتلې ډول څرګندونې او له ځانګړو ځانګېړنو سره يې په پوخ کې کول.

د دې هريوه څېړلو ته زما اوږدپېرى (اوږد پړاوى) او اوږدمنګى (اوږد عمرى) ليد لورى.

د پي ايچ ډي احتمال کشف کول: د څېړنې وړانديز ليکلو زده کړې او هغه تخنيکي ساينسي هسې چې دا نيمکۍيو د څېړنـــچوپړي (نيمکۍيو د ريسرچ پاڼې) انګړ پنډولو او غني کولو کې ملا په راتلونکي پېر کې په سرغندي بڼه علمي څېړونکو پنځونو ته ورتړي.
د دې لارښوونې پيله ساده برابر وي دا هغه ستر پوهاند چې د پي ايچ ډي له پاره د غوښتنليک پروسې ته ګوري. هغه مهارتونه او وسيلې چې موږ يې د غوره څېړنې وړانديز چمتو کولو او ليکلو ته اړتيا لرو چابک چمتو کوي.

پورتنۍ علمي سړې تودې (تجربې) کټ مټ د يوې کره پښتو ژبې د دې وګړنې پېيلو ,, پېيلې،، کښلې او خپله مې د بډايه يوې کره پښتو ژبې يوه بولن څېړونکي په بڼه سپينې ته باستلې دي؛ نيمکۍيو د څېړنچوپړو انګړ ( نيمکۍيو د ريسرچ پاڼو انګړ) غښتلې څرګندونې مې په پوخ کې کړې او تړلې دي. لکه د نورو باندنۍيو (باندنيو) هېوادونو ليکوالو په څېر چې په پينۍوال ښکاروندو سره خپل د څېړنچوپړو کښلې کښي او خپروي.

## ۳. غټ ټکي

**۱. پخښتی.......................................................................... ۱**

**۲. تیسس څرګندونه ........................................................... ۲**

**۳. غټ ټکي ......................................................................... ۳**

**۴. نیمکۍ ( سروکی یا پام)....................................................... ۱۱**

۴. ۱ ګڼ شمېر جوليز ډولونه او بېلابېل اهنګونه يا طرزونه............................ ۱۸

۴. ۲ لومړی تیرایي اهنګ (ساز، ټګنګټکور، موسيکي يا ميوزيک، د دري وۍ غنا، رامشګري، خنيا يا Music ) ............................................ ۲۱

۴. ۳ دوېيم تيرايي اهنګ (ساز، ټګنګټکور، موسيکي يا ميوزيک يا Music ) ....... ۲۲

۴. ۴ درېيم تېرايي اهنګ (ساز، ټګنګټکور، موسيکي يا ميوزيک يا Music ) ....... ۲۲

**۵. نيمکۍ لنډۍ، نيمکۍ ټپه، نيمکۍ ټيکۍ او نيمکۍ مصرۍ ( پام لنډۍ، پام ټپه، پام ټيکۍ او پام مصرۍ يا سروکه لنډۍ، سروکه ټپه، سروکه ټيکۍ او سروکه مصرۍ) ........................................................ ۲۵**

۵. ۱ رښتې ډلبندۍ د نيمکۍيو په لاندې بڼه سپيني ته را او باسم. ............ ۳۰

۵. ۲ لومړۍ ډله نيمکۍ لنډۍ:. اې ,, ا ،،:. د ځېړونکي (زما) شپږ سره نيمکۍ لنډۍ دي چې سر ليک يې دی اوږۍ. ................................................. ۳۰

۵. ۳ د نيمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ يا سروکه لنډۍ) تعريف (ځرګندونه، ښکارونه، نيمکۍ لنډۍ د يوه توري يا مو سکالو تشريح کول.) .............................. ۳۲

۵. ٤ د نيمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ يا سروکه لنډۍ) ځپيزې او زورنې.......................... ۳٤

۵. ۵ د نيمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ يا سروکه لنډۍ) ځمککچپوهنې ( هندسي) رغښت ........................................................................................ ۳۵

۵. ٦ د نيمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ يا سروکه لنډۍ) سپړنه ........................................ ۳٦

۵. ۷ لومړۍ ډله نيمکۍ لنډۍ: اې ,, ا ،،:. د ځېړونکي ځرګندول چې رونوي کتنه داسې. د ځېړونکي نيمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لورۍ موږ ته په لاس راکوي لکه: ................................................................... ۳۷

۵. ۸ لومړۍ ډله نيمکۍ لنډۍ: بې ,, ب ،،:. د صفي الله فردوس لس سره نيمکۍ لنډۍ دي چې سر ليک يې دی ,, دريځه لکړه،،:. ...................................... ٤۱

۵. ۹ لومړۍ ډله نيمکۍ لنډۍ: بې ,, ب ،،:. د ځېړونکي ځرګندول چې رونوي کتنه داسې. د ځېړونکي نيمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لورۍ موږ ته په لاس راکوي لکه: ............................................................ ٤۵

۵. ۱۰ لومړۍ ډله نيمکۍ لنډۍ: پې ,, پ ،،:. د صفي الله فردوس شپږ سره نيمکۍ لنډۍ دي چې سر ليک يې دی ,, لولۍ ،،:. ............................................ ۵۱

۵. ۱۱ لومړۍ ډله نيمکۍ لنډۍ: پې ,, پ ،،:. د ځېړونکي ځرګندول چې رونوي کتنه داسې. د ځېړونکي نيمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لورۍ موږ ته په لاس راکوي لکه: ............................................................ ۵٤

۵. ۱۲ لومړۍ ډله نيمکۍ لنډۍ : تې ,, ت ،،:. د صفي الله فردوس نيمکۍ لنډۍ چې سرليک يې دی ,, ياره هو:. ............................................................................ ۵۹

۵. ۱۳ لومړۍ ډله نيمکۍ لنډۍ: تې ,, ت ،،:. د ځېړونکي ځرګندول چې رونوي کتنه داسې. د ځېړونکي نيمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لورۍ موږ ته په لاس راکوي لکه: ............................................................ ٦۱

۵. ۱٤ لومړۍ ډله نيمکۍ لنډۍ: ټې ,, ټ ،،:. د ځېړونکي نيمکۍ لنډۍ دي چې سرليک يې دی ,, پرما ګرانه:. .................................................................. ٦۷

٥. ١٥ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: تې ,, ټ ،،. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. د څېړونکي نیمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لوری موړ. ته په لاس راکوي لکه: ........................................ ٦٩

٥. ١٦ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: جې ,, ج ،،. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ دي: ......... ٧٥

٥. ١٧ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: جې ,, ج ،،. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) ,, دوغمره چرګوړی،، په لاندې بڼه لوری موړ. ته په لاس راکوي لکه: ...................... ٧٧

٥. ١٨ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: چې ,, چ ،،. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: دا لرغوني لغماني سروکي ملاجان ملاګي اوستاد د احمد جان زوی چې د لغمان الېنګار ولسوالۍ، د کلاټکي کلي اصلي اوسیدونکي او د لغمان مهترلام ولسوالۍ د چلمتۍیو کلي اوسني اوسیدونکي په ١٣٣٥لېږدي کال کاستوري سور کې ویلې دي. ........................................ ٨٥

٥. ١٩ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: چې ,, چ ،،. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. لرغونې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ( پام لنډۍ ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لوری موړ. ته په لاس راکوي لکه: ........................................ ٨٧

٥. ٢٠ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: ځې ,, ځ ،،. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ,, دا تورې زلفې دې په مخ باندې شانه که؛ اوتـــې له کوره،، ........................ ٩٧

٥. ٢١ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: ځې ,, ځ ،،. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ( پام لنډۍ ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لوری موړ. ته په لاس راکوي لکه: ........................................ ٩٩

٥. ٢٢ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: څې ,, څ ،،. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: دا لرغوني لغمانۍ لنډۍ کاستوري سور کې ګلکي اوستاد ویلې دي. ........................ ١٠٦

٥. ٢٣ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: خې ,, خ ،،. لرغونې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ ,, بې بې شیرینې ،، یې سرلیک دی: ........................................ ١٠٧

٥. ٢٤ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: خې ,, خ ،،. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. لرغونې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لوری موړ. ته په لاس راکوي لکه: ........................................ ١١٠

٥. ٢٥ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: دې ,, د ،،. لرغونې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ,, د مشکو د امبرو بوی دې خېږي له سینې ،، ........................................ ١١٩

٥. ٢٦ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: دې ,, د ،،. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لوری موړ. ته په لاس راکوي لکه: ........................................ ١٢١

٥. ٢٧ لومړی ډله نیمکۍ لنډۍ: ډې ,, ډ ،،. لرغونې وګړنې نیمکۍ لنډۍ: ......... ١٢٧

٥. ٢٨ لومړی ډله نیمکی لنډی: رې ,, ر ،،:. لرغونې وګړنې نیمکی لنډی: دا لرغونې وګړنې سروکه لنډی یا پام لنډی کاستوري غرنې سور کې د افغانستان سرغندوي سندرغاړي الله بخښلي خان قره باغي ويلې..............١٢٩

٥. ٢٩ لومړی ډله نیمکی لنډی: ړې ,, ړ ،،:. ,, تور پیکی دې بند،،..................١٣٣

٥. ٣٠ لومړی ډله نیمکی لنډی: زې ,, ز ،،:. لرغونې وګړنې نیمکی لنډی: ,, ببو، ببو لعلداني!؟ ،،..........................................................................١٣٦

٥. ٣١ لومړی ډله نیمکی لنډی: ژې ,, ژ ،،:. زړې لغمانی نیمکی لنډی: ګل د ګوهرو له سیله راغلې...........................................................................١٣٩

٥. ٣٢ لومړی ډله نیمکی لنډی: ږې ,, ږ ،،:. زړې لغمانی نیمکی لنډی ,, شړنګ له ما تېرېږي!؟ څنې دې ول، ول شا لیلا واړول بارونه؟،،.......................١٤٢

٥. ٣٣ لومړی ډله نیمکی لنډی: سې ,, س ،،:. زړې لغمانی نیمکی لنډی: ,, پاسئ ای! شهیده!!؟ د تا په قبر باندې بلیږي سره ګلونه،،..............................١٤٤

٥. ٣٤ لومړی ډله نیمکی لنډی: شې ,, ش ،،:. زړې لغمانی نیمکی لنډی: ,, مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم ،،..............................................................١٤٦

٥. ٣٥ لومړی ډله نیمکی لنډی: ښې ,, ښ ،،:. د څېرونکي نیمکی لنډی دي چې سرلیک يې دی ,, په نالیدلو لارو څمه یاره!! نه دې هېره ومه یاره!!،،......١٤٩

**٦ دوبیمه ډله نیمکی تپه:........................................................ ١٥١**

٦. ١ د نیمکی تپې ځانګړې ځانګېرنې...................................................١٥١

٦. ٢ د نیمکی تپې ( پام تپې یا سروکه تپې) تعریف (څرګندونه، ښکارونه، نیمکی تپې د یوه توري یا مو سکالو تشریح کول)...........................................١٥٢

٦. ٣ د نیمکی تپې ( پام تپې یا سروکه تپې) څپیزې او زورنې.........................١٥٥

٦. ٤ د نیمکی تپې ( پام تپې یا سروکه تپې) څمککچپوهنې ( هندسې) رغښت .....١٥٧

٦. ٥ د نیمکی تپې ( پام تپې یا سروکه تپې) سپړنه.......................................١٥٨

٦. ٦ دوبیمه ډله نیمکی تپه: اې ,, ا ،،:. د څېرونکي شپږ سره نیمکی تپه دي چې سر لیک يې دی اه؟؟. .....................................................................١٥٩

٦. ٧ دوبیمه ډله نیمکی تپه: اې ,, ا ،،:. د څېرونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. د څېرونکي نیمکی تپه ( پام تپه، سروکه تپه) په لاندې بڼه لوری موږ ته په لاس راکوي لکه: ...................................................................١٦٥

٦. ٨ دوبیمه ډله نیمکی تپه: بې ,, ب ،،:. د څېرونکي شپږ سره نیمکی تپې دي چې سر لیک يې دی ,, ګنهکار، ګنهکار:............................................١٧١

۶. ۹ دوېیمه ډله نیمکی تپه: بې ,, ب ،،:. د څېړونکي ځرګندول چې رونوي کتنه داسې. د څېړونکي نیمکی تپه ( پام تپه، سروکه تپه) په لاندې بنه لوری موړ ته په لاس راکوي لکه: ........................... ۱۷٤

۶. ۱۰ دوېیمه ډله نیمکی تپه: پې ,, پ ،،:. ........................................... ۱۸۰

۶. ۱۱ دوېیمه ډله نیمکی تپه: تې ,, ت ،،: ............................................ ۱۸۲

۶. ۱۲ دوېیمه ډله نیمکی تپه: ټې ,, ټ ،،: ............................................ ۱۸٤

۶. ۱۳ دوېیمه ډله نیمکی تپه: جې ,, ج ،،:............................................ ۱۸٦

**۷ درېیمه ډله نیمکی ټیکی:........................................... ۱۹۰**

۷. ۱ د نیمکی ټیکی (سروکه ټیکی یا پام ټیکی) ځانګړې ځانګېرنې ............... ۱۹۰

۷. ۲ درېیمه ډله نیمکی ټیکی: اې ,, ا ،،:. د څېړونکي اته سره نیمکی ټیکی دي چې سرلیک یې دی ,, نـاوی:. ............................................ ۱۹۱

۷. ۳ د نیمکی ټیکی (سروکه ټیکی یا پام ټیکی) تعریف (څرګندونه، ښکارونه، نیمکی ټیکی د یوه توري یا مو سکالو تشریح کول.)............................ ۱۹٤

۷. ٤ د نیمکی ټیکی (سروکه ټیکی یا پام ټیکی) څپیزې او زورنې................ ۱۹۷

۷. ٥ د نیمکی ټیکی (سروکه ټیکی یا پام ټیکی) ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت ........ ۱۹۸

۷. ٦ د نیمکی ټیکی (سروکه ټیکی یا پام ټیکی) سپړنه................................ ۱۹۹

۷. ۷ درېیمه ډله نیمکی ټیکی: اې ,, ا ،،:. د څېړونکي ځرګندول چې رونوي کتنه داسې. د څېړونکي نیمکی ټیکی ( پام ټیکی، سروکه ټیکی) په لاندې بنه لوری موړ ته په لاس راکوي لکه: ............................................ ۲۰۰

۷. ۸ درېیمه ډله نیمکی ټیکی: بې ,, ب ،،: ............................................ ۲۰٥

**۸. څلورمه ډله نیمکی مصری (سروکه مصری یا پام مصری):......... ۲۰۷**

۸. ۱ د نیمکی مصری (سروکه مصری یا پام مصری) ځانګړې ځانګېرنې........ ۲۰۷

۸. ۲ څلورمه ډله نیمکی مصری: اې ,, ا ،،:. د څېړونکي شپږ سره ( شپږ مخه یا شپږ مسرېزه، شپږ مسرې لرونکې)، نیمکی مصری دي چې سرلیک یې دی ,, نیمکی:. ............................................ ۲۰۸

۸. ۳ د نیمکی مصری ( پام مصری یا سروکه مصری) تعریف (څرګندونه، ښکارونه، نیمکی تپې د یوه توري یا مو سکالو تشریح کول). .................. ۲۱۱

## ۸ چوپړۍ

# نیمګړیو د څېړنچوپړو انګړ


٨. ٤ د نیمګړی مصرۍ ( پام مصرۍ یا سروکه مصرۍ) څپیزې او زورنې.........٢١٤

٨. ٥ د نیمګړی مصرۍ ( پام مصرۍ یا سروکه مصرۍ) ځمککچپوهنې ( هندسې) رغښت..........................................................................٢١٦

٨. ٦ د نیمګړی مصرۍ ( پام مصرۍ یا سروکه مصرۍ) سپړنه ........................٢٢١

٨. ٧ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: اې ,, ا ،،:. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. د څېړونکي نیمګړی مصرۍ ( پام مصرۍ ، سروکه مصرۍ) په لاندې بڼه لورى موړ. ته په لاس راکوي لکه:..........................................٢٢٢

٨. ٨ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: بې ,, ب ،،:. د څېړونکي ودرېدوکه نیمګړی مصرۍ ( لس مخه یا لس مسرېزه، لس مسرې لرونکې) چې سرلیک یې سروکۍ، پام یا نیمګړی ده:. ..........................................................٢٢٨

٨. ٩ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: بې ,, ب ،،:. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. د څېړونکي ودرېدوکه نیمګړی مصرۍ ( پام مصرۍ ، سروکه مصرۍ) په لاندې بڼه لورى موړ. ته په لاس راکوي لکه: ........................٢٣٠

٨. ١٠ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: پې ,, پ ،،:. د څېړونکي نیمګړی مصرۍ چې سرلیک یې نیمګړی ده:...........................................................................٢٣٨

٨. ١١ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: پې ,, پ ،،:. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. د څېړونکي نیمګړی مصرۍ ( پام مصرۍ ، سروکه مصرۍ) په لاندې بڼه لورى موړ. ته په لاس راکوي لکه:..........................................٢٤٠

٨. ١٢ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: تې ,, ت ،،:. لرغونې لغمانۍ نیمګړی مصرۍ: دا لرغونې لغماني سروکي پینده محمد اوستاد په کاستوري سور کې په ١٣٢٣ لېږدي کې ویلې دي:. ..........................................................٢٤٦

٨. ١٣ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: ټې ,, ټ ،،:. لرغونې لغمانۍ نیمګړی مصرۍ: دا لرغونې لغمانۍ سروکي ملاجان ملاګي اوستاد په کاستوري سور کې د ګل محمد یا ګلو اوستاد له پاره ویلي وو. په ١٣٢٣ لېږدي کې یې د نوموړي په غوښتنه ویلې وې:..........................................................................٢٤٨

٨. ١٤ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: جې ,, ج ،،:. لرغونې لغمانۍ نیمګړی مصرۍ: دا لرغونې لغمانۍ سروکۍ په کاستوري  سور کې ملاجان ملاګي اوستاد په ١٣٢٣ لېږدي کې ویلې وې،:. ...........................................................٢٥٠

٨. ١٥ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: چې ,, چ ،،:.  لرغونې لغمانۍ نیمګړی مصرۍ: په بیروي  سور کې ګلکي اوستاد له خپل زوی پینده محمد  سره په ١٣٥۴ کې ویلې وې:. ...........................................................................٢٥٢

٨. ١٦ څلورمه ډله نیمګړی مصرۍ: ځې ,, ځ ،،:.  لرغونې لغمانۍ نیمګړی مصرۍ: په کاستوري سور کې ګلکي اوستاد ویلې او ملاجان ملاګي اوستاد هم ویلې

ده، په ۱۳۲۸ لېږدي کې ویلې دي، او دوباره قاري او قاسم ویلې دي په ۱۳۶۸ لېږدي کې: ........................................................................... ۲۵۳

۸. ۱۷ څلورمه ډله نیمګی مصری: څې ,, ځ ،،:. لرغونې لغمانی نیمګی مصری: په کاستوري سور کې ګلکي اوستاد او ملاجان ملاګي اوستاد په ۱۳۲۸ لېږدي کې ویلې وې او قاري عبدالحادي او قاسم په ۱۳۶۸ لېږدي کې دوباره ویلې دي:. ۲۵٦

۸. ۱۸ څلورمه ډله نیمګی مصری: خې ,, خ ،،:. لرغونې لغمانی نیمګی مصری: ملاجان ملاګي اوستاد په بیروي سر کې په ۱۳۵۷ کې ویلې وې، نوموړې مصری نیمګی بڼه د مصری اېزو او چاربیتې تر منځ پول او ژی ده. ډېر نږدې پېر د دې پېیلو دی چې اېزې او چاربیتي ته واوړي؛ په بله مانا د دوی تر منځ پوله ده.:........................................................................... ۲۵۸

۸. ۱۹ لومړی ډله نیمګی مصری: دې ,, د ،،:. لرغونې وګړنې نیمګی مصری:... ۲۵۹

**۹. د نیمګی لنډی، نیمګی ټپه، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری آړوتی .. ۲٦۲**

**۱۰. د نیمګی لنډی، نیمګی ټپه، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری آر ....... ۲٦۳**

**۱۱. د نیمګی لنډی، نیمګی ټپه، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری پېخلیک. ۲٦٦**

**۱۲. د نیمګی لنډی، نیمګی ټپه، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری پېر....... ۲۷۲**

**۱۳. د نیمګی لنډی، نیمګی ټپه، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری یېبره (حاصل یا ثمره) ............................................................ ۲۷۵**

۱۳. ۱ څېره ۱. اې ( الف، ا ) صفي الله فردوس د نیمګی لنډی، نیمګی ټپې، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری یېبرې لښتیلیک ,, جدول ،،.............................. ۲۸۵

۱۳. ۲ څېره ۲. بې ( ب ) د بېلابېلو پېیلنو او پېیلنې د نیمګی لنډی، نیمګی ټپې، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری یېبرې ( حاصل یا ثمرې) لښتیلیک ,, جدول ،،........................................................................... ۲۸٦

۱۳. ۳ څېره ۳. پې( پ ) په روان پېر کې د څېړونکي ,, نیمګړیو د څېړنچوپړي انګړ (نیمګړیو د ریسرچ پاڼو انګړ) ،، لیکي کې د نیمګی لنډی، نیمګی ټپې، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری یېبرې ( حاصل یا ثمرې) لښتیلیک ,, جدول ،، ........................................................................... ۲۸۷

**۱٤. انځورونو او لښتیلیکو (جدولونو) د څېرو معلومات: ................. ۲۸۸**

۱۵. د کره لیکنۍ پښتو په پښتو تشریحي وییکو چوپړي، د پښتو ابېڅې په سته په لاندې لښتیلیک کې کښل شوي: ................................ ۲۸۹
۱۶. بیبلو ګراپي Bibliography د هغو لیکونو لېست چې په یوه سکالو یا بوړونکي او کښونکي پورې اړه و لري. .............................. ۳٦٦
۱۷. لیکي پوهه........................................................... ۳٦۹
۱۸. د پخښتۍ سته ........................................................ ۳۷۳

## ٤. نیمکۍ ( سروکی یا پام)

له دې پېیلو څخه نټه (انکار) نه شو کولی او نه پرې نټیالي یو، ځنې ښې شتۍ (خدنګې) او اننګوړې (انارکې) وي. له غوره سول (عقل) څخه ډکې وي، ببلا ببېل غړیالی ( عضلاتي) وي، د پښتنو په منځ کې لوستل، لیکل او غږول کېږي.
نازغموړ(د تحمل وړ) دي، نا انډوله ور سره نه ده په کار، همداسې زموږ نیکونو نیمکۍ ( سروکی یا پام) پېیلې (اشلوک، پېیړن، شېر، شعر) پېژندلې او خپلې پېیلې یې چې سوچه ګړنې پېیلې دي، پرې پوهېږي چې د پردۍیو ژبو له ادبي کالبونو څخه پاکې دي، نه د پردۍ پېیلو په ډول تول، پښېله ( کافیه) او نه هم لړ ( ردیف) لري، په نیمکۍ یا سروکی یا پام باندې نومولي دي.

خپل پښت یې لېیل ( هڅول) چې په ولوله او ولولیز ښه یېبرور ( باورو، حاصلخېزه) د پېیلې ونج (عوض، تعویض، میز) ایزوړ ( د کښتۍ لاستی) په لاس ور کړي.

په کومه ښه چې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ډولونه لري.
نیمکۍ ( سروکی یا پام) پېیلې یې هم لري.
له ښکالوې ( مباحثې) یې سپینې ته را و باسم چې په ورته ښه نیمکۍ ( سروکی یا پام) هم دي.
لکه: نیمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ یا سروکه لنډۍ)؛ نیمکۍ ټپه (پام ټپه یا سروکه ټپه)؛ نیمکۍ ټیکۍ (پام ټیکۍ یا سروکه ټیکۍ) او نیمکۍ مصرۍ (پام مصرۍ یا سروکه مصرۍ) خپل کړه وړه له لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو څخه را خپل وي.

نیمکۍیو د څېړنچوپړو یا ریسرچ پانو انګړ کښلې ( لیکي، کتاب) ډېری برخه مې د ګرځېدو په پېر په واند او اند ښه چې په ژور پام تلو او راتلو په څورلېځ ښه بوړولي (جوړې کړې) دي.

له سلو شل ٢٠٪ مې په خپله کوټه: اووه اویاوم کور، یوه وېشتمه کوڅه، ختېځ نوی ښار، لومړۍ سیمه، مهترلام ولسوالی، لغمان ولایت کې کښلې؛ پاتې له سلو شل ٨٠٪ مې په خپله کوټه: اووم ګڼه کور، لومړی پلغاړی، درېیم پوړ، اووه پېنځوسم بلاک، شیخ خلیفه بن زاید ال نهیان (اماراتو) ښارګوټي او ارګ د چارو اداري لوی ریاست اړوند، د دارالامان او ولایتونو اداري نغښتي (کامپلکس) ریاست پلازمینه کابل کې کښلې ده.

پام مې تل داسې رټ ساتلی و، چې ځینې کښلې مې په زهن کې ګرځولې او فکر مې په زهن کې کوو، چې دا داسې کېږي!!؛ داسې یې اوړ پلان دی!!؛ په دې

## نیمګړیو د څېړنچوپړو انګړ

بڼه پیله لاسته را وړي او داسې یې ګټنه ده چې وګړیو ته د اند پرمختګ او ځان پالنې لوړ حس په ټاټوبي کې زوکړه کوي.

بیا به مې همدا کره پام د اند چې د ګرځېدلو په دوران پنځي پنځولي وو، خپل لیفټاپ کمپوټر ته کېناستم او هغه به مې کټ مټ له فکر څخه کمپیوټر ته پورته کړې؛ نوموړې کښلې به مې د پوستکالي په بڼه په سپینو چوپړو کې خوندي کړې، له څه ځنډ ورسته پېر به مې پرېښبوده چې تېر شي؛ بیا به مې و لوسته څه به مې وړاندې ورسته کړه او څه به مې په خپل ځای پرېښبوده چې دا په راتلونکي کې علمي وکړي او وکړې ته د ګټنې ګټور سبب کېدلی شي.

زما اوږدپېرى او اوږدمنګی لید لوری یوازې کټ مټ د یوې کره پښتو ژبې د دې وګړنې پېیلو چې ډېری د پېیلو پېیلن یې زه په خپله یم، له تېر پېر ( ۱۹۹۵زېږدي) څخه مې پېیلې کښلې او خپله مې د بډایه یوې کره پښتو ژبې یوه بولن په بڼه سپینې ته باستلې دي. نیمګړیو د څېړنچوپړو یا ریسرچ پاڼو انګړ غښتلو څرګندونو تازه او نوې روغه کمپله مې تړلې ده. لکه د نورو باندنیو هېوادونو لیکوالو په ډول چې د اي پي پي ایف په ښکاروندي سره خپلې څېړنچوپړي کښلې کښي او خپروي.

د دې څېړنې د چوپړو بڼه یا د دې ریسرچ پاڼې د کالب بڼه د اي في اي (APA) په کالب کې شوی دی او د نوموړي لارښود څخه ګټه اخستل شوې.
,, خپور شوی لارښود د امریکا اروا پوهنې ملګرتیا، پینځمه ګڼه. ۲۰۰۱،،
(لیونل، ۲۰۰۱م کال، ۱۰۱ چوپړی).

چې امریکا د ماچیګن مطبوعاتو له پوهنتون څخه خپرېږي؛ کټ مټ کړی دی.
زه باید هڅه و کړم چې دا لاندې شیان و وینم او وي منم د خپلې لیکنې له پاره.
له خپل ځان نه داسې پوښتنې و کړم چې ایا زه د نیمګړې لنډۍ ( پام لنډۍ یا سروکه لنډۍ)؛ نیمګړې ټپه (پام ټپه یا سروکه ټپه)؛ نیمګړې ټیکی (پام ټیکی یا سروکه ټیکۍ) او نیمګړې مصرۍ (پام مصرۍ یا سروکه مصرۍ) بېلوالی، ځانګړې ځانګېړنې، انځورونه، تعریفونه ( څرګندونې، ښکارونې، د یوه توري یا سکالو تشریح کول یې)، څپیزې او زورنې، ځمککچپوهنې ( هندسې) رغښت، سپړنې، زما څرګندول چې رونوي کتنه داسې، څه بڼه لوری سپینې ته را وباسم، آړوتی (شرط)، آر (اصل)، پېښلیک (تاریخ)، پېر ( وخت) او یېبره (حاصل یا ثمره) کوی شم:

١. ایا ما دې خپلو سوالونو ته ځوابونه برابر موندلي دي.
٢. ایا دا ټول شیان چې لیکل شوي وړ دي.
٣. ایا دا اسانه ده چې دا لیکنه دې درکړل، څارل یا تعقیبکړل شي.
٤. ایا ما په ډېره ښه کچه د پښوېې (ګرامر)، پېیلې او د ویېوکیو څخه ګټه اخستې.

## ۱۳ چوپړی   نيمکړيو د څېرنچوپړو انګړ

په دې پوهېدل چې څه شي ته اړتيا ده چې وې ليکم، هغه شي ته چې زه اړتيا لرم چې وې ليکم پرې پوهېږم.
دا تر ټولو غوره ورم دی د علمي ليکنې له پاره، ځان ډاډه کړم چې زه پوهېږم په ډاډمنه بڼه کله چې زه يې اړتيا لرم چې وې کړم؛ هر کله چې ته په رښتنې نړۍ کې يوه څه کارې په ازموينه کې نه، په دې ځان پوی کړه چې ته پوهېږې چې ته يې په کومه بڼه کارې او موخه د ليکلو مو څه ده.

همدارنګه تاسو اړتيا لرئ چې د خپلو ليکولو ډول ته مو ځواب ورکړئ.
د ليکلو ډول مې داسې نه دی لکه خپل يوه ملګري ته چې په بريښناليک کې څه ليکم.

دا علمي زياراېستل له هغو څخه ډېر توپير لري. تاسو به و مومئ؛ په علمي پښتو ژبه کې او همدا رنګه چې خلک په کومه بڼه د رېسرچ پاڼې په غښتلو پوهنتونو کې ليکي.
د ليکلو فکر مو په دې بڼه کړئ، کله چې څه ليکئ، زه اړتيا لرم چې څو جلا شيان د پورتنيو سربېره پام کې و نيسم:

۱. په اندونو فکر او پردې پرېکړه کوم، د کوم شي زه تکل لرم د ليکلو.
۲. پلان او برابروم خپلې ليکنې.
۳. ليکمه يې.
٤. کنټرول، نيونه، تمبونه يا د سمولو له پاره يې پلټنه کوم؛ د خپلو ليکلو، ښايي داسې شونې وي چې بدلون او يا و منم همغه.

ما به پردې ځان ډاډه کړه چې له ليکلو نه وړاندې به مې پلان و نيوو، پر دې به مې پام کوه چې کوم شيان په کومو لړونو يا څېرکو کې وي.
وخت به مې پرېښوده چې په پای کې زه خپلې کښلې و منم؛ جغات (هڅه، کوښښ) مې کاره چې کښلې مې په زړه پورې او ښې شي.

د خپلو کښلو د منلو له پاره مې ګرنديتوب او بيړه اسانه نه وه؛ ګواکې داسې پام مې کوه چې زه به نور هم بريالی وم، کله چې وار په وار مې پورتني شيان د پرمختلو له پاره چارچول؛ د خپلې زده کړې له پوهې مې کښل.

ګواکې دا ده چې کنه نو هر هغه څه چې مې ليکل لومړی مې هغې ته ښه فکر کو، بيا مې پلان جوړه وو ورته؛ بيا مې ليکل پيلول؛ بيا مې کتل چې څه مې زړه و؛ هغه مې لرېکول او يا پر ځای پرېښودل.

# ۱٤ چوپړی　نیمګړیو د څېړنچوپړو انګړ

د لیکلو پام مې په دې بڼه د بریا له پاره چارچولو.
سربېره پرهغو، د پښتو داسې غونډلې د ریسرچ پاڼې ( د څېړنې چوپړي) کې را سره لا ملا تېنګه وله او ترې ګټه مې اخستله. لکه:

۱. له هغه سره سم؛
۲. د هغه په آند کې؛
۳. د هغه څرګندول چې رونوي کتنه داسې؛
٤. هغه نظریه داسې کوي؛
٥. لکه څنګه چې دا وایي؛
٦. لکه څنګه چې راپورشوی د هغه په واسطه؛
۷. زده کړه داسې ښايي؛
۸. د هغې پلټنه داسې په ډاګه شوې، یا د هغې څېړنه داسې ښودل شوې؛
۹. دا څېړنه داسې سپینې ته باسې؛
۱۰. د دې پېله ساده برابروي دا؛
۱۱. له ټولو نه وړاندې؛
۱۲. بل لوري ته؛
۱۳. زما په نظریې؛
۱٤. په ټولو کې همداسې؛
۱٥. په دې پوښ (قضیه) کې؛
۱٦. دا به داسې ښکاربږي؛
۱۷. د دې ببلګه داسې ده؛
۱۸. دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی.

بل لوري ته د شمالي امریکا په ویرجینیا پوهنتون کې د ډارډن ښوونځي سوداګرۍ برخې کې زما " د پروژې پلان کولو او مدیریت اساساتو" کورس او د پروژې پلان کولو او مدیریت کې د آنلاین ماسټرۍ زده کړې چې په ۲۰۱۲ لېږدي کې اخستې وې. او د اېنګلېستان په لیسټر پوهنتون کې د ټولنیزو علومو، هنر او انسانیتونو کالج کې د پي ایچ ډي احتمالي لیکل؛ څېړنې وړاندیز لیکل، د ثالث او پانګوونې قانون زده ګړې چې په ۲۰۱٦ زیږدي کې اخستې وې؛ ستاسو درنو اند مخې ته د ګټنې له پاره رمټ ږدم.

د پي ایچ ډي احتمال کشف کول: د څېړنې وړاندیز لیکلو زده کړې او هغه تخنیکي ساینسي هسې چې په (ان لین بڼه) کړي. نیمګړیو د څېړنـــچوپړي (نیمګړیو د ریسرچ پاڼې) انګړ پنډولو او غني کولو کې ملا را تړله. د هغه کورسونو د پوهانو اوستادانو یادونو غورچاڼ او غوراوي یادونې پوړونه په لاندې بڼه دي.

## نیمګړیو د څېړنچوپړو انګړ

خپل فکرونه د خپلو ملګرو زده کونکو سره بحث کړئ. په اړه يې فکر و کړئ:
۱. ستاسو په نظر پي ايچ ډي د چا او څه له پاره ده.
۲. تاسو څه فکر کوئ چې ستاسو څېړنه به په ټولنه کې مرسته و کړي.
۳. تاسو څه اټکل کوئ چې د پي ايچ ډي ترسره کولو ننګونې به وي.

د نورو نظرونو ننګولو له پاره وړيا احساس و کړئ او خپل فکرونه وړاندې کړئ. د پي ايچ ډي ترسره کول د نظرونو، مفکورو او پراختيا دليلونو دفاع کول شامل دي. نو دا ښه عمل دی، د زده کړې پايلې له پاره. د کورس په پای کې پوهې او زده کړې داسې وړتيا را ښودله:

۱. دا مو په ګوته کوه چې موږ ولې پي ايچ ډي کول غواړو او آيا زموږ هيلې رښتنې دي.
۲. د پي ايچ ډي د ترسره کولو هدف سره اصلي اړتياوې، جوړښتونه او ستونزې مو پلټلې.
۳. ښودله مې چې څنګه د رښتنې، مديريت وړ او اغېزمنې څېړنې پوښتنې رغښت و کړم.
٤. د مجرايي او استخراجي څېړنې پوښتنې مې پرتله کولې.
٥. د ادبي بياکتنې ليکلو له پاره مې اړين ګامونه تشريح کول او پلي کول، په شمول: د ادب لټون کول، پالن کول، تنظيم کول، اوډوون کول او د ادب بيا کتنې ليکل.
٦. په دې اړه مې بحث کو چې کوم ډول ليکنيکړنلار (نظري طريقي) به زما د څېړنې له پاره ګټورې وي چې زما په وړانديز کې يې څنګه له ځانه ويل (تشريح) کړم.
۷. د اونټولوژي، Epistemology، د بېلابېلو څېړنو ډيزاينونو او ميتودولوژي ترمنځ توپيرونه مې پرتله کول.
۸. د احتمالي پي ايچ ډي له پاره د کړنو مهالويش په ګوته کوو.
۹. هغه څه مې لنډيز کول چې ما له دې کورس څخه مې زده کړې وو، د دوکتورا څېړنې وړانديز په لومړي مسوده کې او په لاره کې؛ ما هيله لرله چې زه د نورو زده کړيالانو سره ښکيلتيا و ګورم، د انعکاس ژورنال څخه مې کار اخسته، د څېړنې سکالو (موضوع) په اړه مې له ځينې پيلنيو څېړنو څخه خوند اخسته کله چې ما خپل وړانديز پلان کوو.

نوموړی کورس د چا له پاره وو؟ دا کورس په ابتدايي توګه د فراغت د څېړنې غوښتونکو له پاره رامنځته شوی و، مګر دا ممکن د هغو کسانو له پاره هم ګټور

وو؛ څوک چې غواړي د فراغت د څېړنې درجې پرته د نورو موخو له پاره د ښه بنسټ (تاسیس) شوي او ننګونې څېړنې داوطلبۍ پراختیا په اړه نور معلومات زده کړي.
زما د پي ایچ ډي شونتیا (احتمال) کشف کول: د څېړنې وړاندیز لیکل
زده کول مې چې څنګه د پوسټ فارغ غوښتنلیکونو له پاره د لوړ کیفیت څېړنې پروپوزل و لیکم او و لیکم.

زده کول مې چې څنګه د پوسټ فارغ غوښتنلیک له پاره د عالي څېړنې وړاندیز و لیکم، په احتیاط سره چمتو شوی او بشپړ څېړنې وړاندیز معمولا د پرمختللي یا دوکتورا مطالعې او غوښتنلیکونو له پاره خورا مهم دی.
پرې مې کولی شو چې د پوسټ فارغ مطالعې لومړۍ مرحلو له پاره لانچ پیډ چمتو کړم.
نوموړي آنلاین کورس زما پوهې، مهارتونو او وسیلې راکړې چې د ښه فکر کولو او لاسته راوړنې وړ څېړنېز پروپوزل و لیکم، ما سره یې زما د فراغت غوښتنلیکونو کیفیت ښه کولو کې مرسته کړې.
دې به ما ته د خپل ځاني لوستلو (مطالعې) خوند هم را کوه چې د پوسټ فارغ دوکتورا څېړنې له پاره اړین وو.
کورس په ټولنیزو علومو، هنرونو او انسانیتونو تمرکز کوو، مګر ډېری منځپانګه (محتویات) د ټولو څانګو سره تړاو لرو. ما به دغه سکالو پوښتل.

١. د دوکتورا څېړنې پېژندنه.
٢. زما د لوستې خرڅ چمتوکول (مطالعې تمویل).
٣. د ستونزې تعریف او د څېړنې پوښتنې لیکل.
٤. د ادبیاتو بیاکتنه لیکل.
٥. د څېړنې ډیزاین او میتودولوژي.
٦. څنګه خپل وړاندیز جوړ کړم.

د دې لارښوونې پیله ساده برابر وي دا هغه ستر پوهاند چې د پي ایچ ډي له پاره د غوښتنلیک پروسې ته ګوري. هغه مهارتونه او وسیلې چې موږ یې د غوره څېړنې وړاندیز چمتو کولو او لیکلو ته اړتیا لرو چابک چمتو کوي.

پورتنۍ علمي سرې تودې (تجربې) کټ مټ د یوې کره پښتو ژبې د دې وګړنې پیبلو ,, پیبلې،، (صفي الله، ١٤٠١ لیږدی، ٨ چوپړی) کښلې او خپله مې د بډایه یوې کره پښتو ژبې یوه بولن په ښه سپیني ته باستلي دي؛ نیمګړیو د څېړنچوپړو انګړ ( نیمګړیو د ریسرچ پاڼو انګړ) غښتلي څرګندونې مې په پوخ کې کړې او

تړلې دي. لکه د نورو باندنۍیو (باندنیو) هېوادونو لیکوالو په څېر چې په پینۍوال ښکارونډو سره خپل د څېړنچوپړو کښلې کښني او خپروي.

د دې له پاره زه دا کره بورُوم چې سروکی د پښتو ولسي سندرو یوه ځانګړی ډول دی، چې بېلابېل شکلونه لري.
ځینې پښتانه نیمکی ( سروکی ) بولي؛ د پکتیا سیدکرم، میزکه، لجه احمدخیل، لجه منګل؛ د خوست ځاځي میدان، موسی خیل؛ د لغمان الینګار ولسوالۍ کوټلي او دړین په منګلو کې د پام په نوم یادېږي.

نیمکۍ د پښتو ولسي سندرو د نورو ټولګۍیو په څېر د پښتون ولس زیاتره کړه وړه انځورونه کوي؛ کالب یې د پښتو لهجې یوې کره پښتو موخې پوهېدو ته راغونډوي، خلکو د ملي، اجتماعي او روحي ځانګړنو انځورګري په کې شوې وي.
نیمکی د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو په واسطه بشپړېږي.

داسې چې لومړی نیمکۍ ویل کېږي، بیا لنډۍ، ټپه، ټیکۍ، مصرۍ ور اچول کېږي. خو هغه لنډۍ، ټپه، ټیکۍ، مصرۍ چې د نیمکی له سکالو (موضع) سره اړیکه و لري، خوندورې وي.
لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ وار په وار په کې بدلېږي، خو نیمکی د هرې لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ په پای کې مکررې راځي. لکه:

سروکي نیمګړې سندریزې ټوټې دي چې په خپلواک ډول نه بولل کېږي، بلکې، لکه پاس چې یادونه و شوه، د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ په مټ او ملتیا ترې خپلواکې سندرې رامنځته کېږي، ځینې پښتو فولکلورپېستان یې د پخوانۍیو خپلواکو شعرونو یا سندرو پاتېشونې انګېري.

څېړونکي (زما) د یوې شلخې نیمکۍ لنډۍ بڼه ده او مېرمنو ته منسوبه ده. چې لنډۍ یې له نورو لرغونو پښتني وګړنې پېیلې لنډۍ څخه روغه ګډوله شوې ده:.

- د هر چا خپله، خپله خوښه
ځوک به غزل ځوک به سروکي خوښوینه
- منځنۍ خاله زویه!؛ مه ځه پاتې شه دلې
د پښتو ژبې نیمکۍ درته ویمه

د پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار له پام سره سم، لکه څنګه چې دی وایي ,,

## ۴. ۱ ګڼ شمېر جوليز ډولونه او بېلابېل اهنګونه يا طرزونه

د ژبني او شعري يا ښپيز- خجيز پلوه زياتره له دوو غونډلو، په بله وينا دوې مسرو څخه رغښت مومي؛ لږ او ډېر د يوې لنډکۍ غونډلې يا مسرې په بڼه وي.
دا چې په يوه لړ څېلونو، په تېره مستزاد ډوله سروکيو کې دوېيمه مسره له لومړۍ سره ښپيز- خجيز انډول نه لري، لاسوند يې دا دی چې دغه دوېيمه يې له سندريز تول او تال سره ځانته جلا (وزن يا ريتم) لري او يا هم د لارغه يې مسرې غونډې پر پېنځمه ښپه خجنېږي.
بلې خوا ته څنګه چې له لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو سره ويل کېږي، نو هغه هم د خپل تول او تال اړوند وي. يوه مستزاد ډوله بڼه يې دا ده:

.۱
پاس په باړه کې اوبه ګډې وډې ځينه
▲ شينوارې لونګينه

لومړۍ مسره په څلورمه (- ړه) او دوېيمه په دوېيمه خجنه ښپه (-وا-) پيل کېږي. د سروکي جوړښت زياتره په (مستزاد) ډول وي، لومړۍ مسره يې اوږده او دوېيمه يې لنډه راځي، خو ښپيز او خجيز انډول يې تل برابر نه وي.

مګر يوه لړ سروکي د (سر) چپه مستزاد جوړښت لري، داسې چې لومړۍ مسره يې لنډه او دوېيمه يې اوږده وي. خو ښپيز او خجيز انډول يې سره په هر ډول همېشه يوه راز نه وي... . اوږدې مسرې په دواړو ډولو کې زياتره د لنډۍ (دوېيمې) مسرې هومره اوږدوالی لري او خجونه يې هم ورسره همداسې سمون خوري، خو وړه مسره يې په (مستزاد او چپه مستزاد) دواړو ډولو کې پر لومړۍ يا دوېيمه ښپه خج راځي چې چپه بېلګه يې هم دا ده.

.۲
▲ لونګ کرمه
که لو مې ګډ کړ ياره تا به راولمه

لومړۍ مسره پېنځه ښپيزه ده او پر دوېيمه ښپه باندې يې خج راغلی دی. دوېيمه کټ مټ د لنډۍ د دوېيمې مسرې غونډې ديارلس ښپيزه ده او پر څلورمه، اتمه او دولسمه ښپه خجونه راغلي دي.

۳.

▲ لو دی د غنمو یاره لو
ګېډۍ را واچوه بنګړي راغلي دینه، (یاره لو)

لومړۍ مسره نهه څپيزه ده، خجونه يې پر لومړۍ او پينځمه څپه راغلي دي، دوېيمه بيا هم د لنډۍ له دوېيمې مسرې سره څپيز او خجيز سمون لري، مګر په تون آهنګ intonation) ,, د اواز تېټوالی او لوړوالی،، ) کې ورسره يوه راز نه دي، دا مانا چې دلته د لنډۍ غوندې اهنګ څوړ نه، بلکې لوړ ځي، ځکه سندرغاړی ورپسې پتليز د لومړۍ مسرې يوه برخه (ياره لو) راغبرګوي او اړ دی چې اهنګ ,, ساز، ټګنګټکور، موسيکي يا ميوزيک، د دري وی غنا، رامشګري، خنيا يا music ،، هماغسې لوړ وساتي، دغه د اهنګ لوړوالی ساتل د سروکيو يوه ټوليزه سندريزه بېلتيا ده.

٤.

▲ لېونۍ لاړه شه ګل راوړه
که دلته نه وي له کندوه پسې واوړه

دغه سروکی هم له سرچپه والي سره، سره د څپيز او خجيز جوړښت له پلوه له لنډۍ سره هېڅ کوم توپير نه لري، مګر يوه خوا د دواړ مسرو پېښپله يي (قافيه والی) او بل خوا، لکه چې په لومړۍ يو کې و ويل شول، اهنګ هم خپل نقش لوبوي چې له لنډۍ سره په وزن (ريتم) کې توپير راوړي.

٥.

په انتظار کې د جانان ولاړه يمه
▲ بارانه مه راځه ماښام دی

دا سروکی که مخکې وروسته شي، کټ مټ ترې لنډۍ جوړېږي په دې شرط چې آهنګ ته يې هم بدلون ورکړل شي. که څه هم آهنګ په ټوليز ډول د پښتو شعر په سندريز اوډ (کمپوز) پورې اړه لري، که نه په عادي لوستنه، شننه او سکښتنه (تقطيع) کې آهنګ په پام کې نه نيول کېږي.

.٦

▲ نن مه راځه جومه ده
سبا ته راشه چې اخره چارشنبه ده

دا سروکی هم، لکه دربیم هغه له قافیه والو سروکیو څخه ګڼل کېږي. لومړۍ مسره یې اووه څپیزه ده چې پر دوبیمه او شپږمه څپه یې خجونه راغلي دي. دوبیمه مسره یې د څپیز او خجیز انډول له مخې د لنډۍ دوبیمې مسرې ته ورته ده. مګر دا چې، نه د لنډۍ غونډې ترنمي توک (ـه، نه) لري او نه یې اهنګ پرېوتی پای ته رسي، نو بېخي ورسره یو راز نه شي ګڼل کېدی.

.٧

▲ سپیني باریکي لېچې تشې ګرځومه
▲ بنګړیوالې تروري، زمونږ کوڅې ته راشه

د دې سروکي دواړې مسرې د څپیز شمېر له مخې د لنډۍ له دوبیمې مسرې برابرې دي، خو د خجیز او بیا موزیکالې څپې له پلوه ورسره یوازې لومړۍ دا اړخ لګوي.
دوبیمه توټه یا مسره یې له موسیکي پلوه ګړ سره جلا اهنګ لري:
د ,,بنګړیوالې،، دربیمه څپه (-وا-) ډېر لوړ او انګازور موزیکال اهنګ لري او د ,,تروري،، ړومبۍ څپه (ترو-) یوه ناروړدي پیاوړی خج اخلي، بیا لارغه (وقفه) رامنځته کېږي او ورپسې لنډه کې غونډله عادي خبري (نحوي) لوېدونکی اهنګ راخپلوي، مانا دا چې ګرد موسیکیت لومړۍ مسره ,, سپیني باریکي لېچې تشې ګرځومه،، او بیا پر ,, بنګړیوالې ،، او ,,تروري،، ورتولېږي او ښکاره ده، ورسره را ماتېدونکې لنډۍ هماغسې غځوني کوي.

بابولالې، شین خالې، د هوتکو نارې، د کاکړو غاړې یا کاکړۍ او داسې نورې ورته سندرې د شعري جولې له پلوه د سروکیو په لړ کې راځي.
د هماغه دود او دودی (رښت، قانون) پر بنسټ یې رغېدنه او شننه تر سره کېږي، په بله وینا هره څلورمه څپه یې خجنه راځي (د پورتني اثر اړوندې څرګندونې دې وکتل شي).

اتل (شمله- لندن، لومړی ګڼه ٥ - ٩مخ) له بېلابېلو یاد شویو سندرو سره د ,,لنډۍ،، بېلابېل سندریز اهنګونه یا طرزونه راپېژندلي، یا په سرچپه وینا، د لنډۍ یو په تړاو یې یوه لړ سروکي له بېلابېلو اهنګونو سره راښوولي دي.

مانا دا چې نوموړي ليکوال د سروکيو اهنګونه د لنډۍيو له اهنګونو سره ګډ يا التباس کړي دي، نو که خبره يې د لنډۍيو د اهنګونو په تړاو وی، نو بيا ورته اړينه وه چې په نومېړلي ډول همدا لنډۍ په خپلواکه او ګوښې توګه د سيمو او ګړدودو له پلوه تر شنني لاندې و نيسي او هله يې د ويلو راز، راز ,,ترنمي،، طرزونه راډلبندي کاندي. ځکه له سروکيو سره د لنډۍيو په خپلواکو اهنګونو کې نه راځي، بلکې د سروکيو له خوا پرې پلي کېږي.

د اهنګونو کومه شمېره هم چې ښاغلي اتل له سروکيو سره د لنډۍيو په نامه ټاکلې، له آره د اړوندو سروکيو د اهنګونو شمېره ده، نه د لنډۍيو.
هن که سروکی د لنډۍ په منځ کې راننوځي، يا يې ياترې مخکې وروسته راغبرګېږي او يا ورسره په خپله لنډۍ يوه مخيزه يا برخيزه (قسماً) تکرارېږي، دا بېله خبره ده.

په هر ډول، لنډۍ له آره يوه شعري ځېل يا ډول دی، نور ,,بېنومه،، وګړني ډولونه يې پر وړاندې سندريز ډولونه دي. په دې توګه د دې پرځای چې د لنډۍ اهنګونه و نوموو، وشمېرو او ډلبندي کړو، په کارده، وار له مخه د دغو نورو، سندريز ډولونه يا اهنګونه پر ګوته کړو، و يې نوموو، و يې شمېرو او سره و يې وېشو. هرګوره، له دغو اړينو تخنيکي يادونو سره، سره د ښاغلي اتل له بېلابېلو سروکيو سره د لنډۍ د څو سندريزو ډولونو يا اهنګونو يادونه ګټوره ارزوو او د ګران مينه والو د ښه ترا پوهاوي له پاره يې بې ګټې نه بولو.

هرګوره، دلته يې له دوې ځلوېښتو څخه تش يوه څو بېلګې له لنډ، لنډ جاج سره را اخلو:

## ۲.٤ لومړی تيرايي اهنګ (ساز، ټګنګټکور، موسيکي يا ميوزيک، د دري وۍ غنا، رامشګري، خنيا يا *Music* )

د لنډۍ دا سندريز اهنګ (طرز) د دواړو مسرو د وروستۍيو څپو يا وييو له غځولو يا کشالولو سره رامنځته کېږي او په پای، پای کې يې ,,مرم شيرينه ياره،، ورسره راماتېږي، په دې بېلګه:

- ما د کوچي له عمره ځار کړې
- چې د سهار اور يې بلېږي ترېنه ځينه؛ مرم شيرينه ياره!

## ٤. ۳ دوبیم تیرایي اهنګ (ساز، ټکنګټکور، موسیکي یا میوزیک یا *Music* )

په منځ، منځ کې د بېلابېلو سروکیو په راګډولو سره رامنځته کېږي:

▲ ځان یې زړو جامو کې جوړ کړ
شابه پر لوړه تیرا جنګ دی
لکه په وران کلي کې باغ د ګلو وینه
شابه پر لوړه تیرا جنګ دی

## ٤. ٤ دربیم تېرایي اهنګ (ساز، ټکنګټکور، موسیکي یا میوزیک یا *Music* )

د لنډۍ پای ته یوه سروکی راماتېږي (اتل یوه نومبرلي یا مشخص سروکی را پر ګوته کوي) لکه:

▲ خدای دې د رود د غاړې ګل که
چې د اوبو په پلمه درشم بوی دې کړمه
▲ ,, لونګین تور یاري یې ګرانه ،،

ځیني سروکي د سندریز طرز یا اهنګ (کمپوز) د یوه ترنمي (ایو فونیک) غږ له زیاتوني سره خجیزه ناانډولي هم له منځه وړي او یا یې لږ تر لږه راکموي. دا وروسته بېلګې یې خورا ښې بېلګې جوړوي:

(وه) وه نانا وړوکې
ماله د زلفانو څوکې

د دې په زړه پورې سروکي ړومبی غونډ (رکن) له څلورو انګیوییونو (طبیعي صوتونو) رغېدلی چې ړومبنی هغه یې سرباري کړ شوی ایسي.
له دې سرباری سره یې د لنډۍ په څېر څلورم هغه خجن شوی، په بله وینا، خجیز انډول یې برابر شوی دی. خو دا چې د نورو ډېری سروکیو په څېر یې د دوبیمې

مسرې خج پر څلورمه نه، بلکې پر پينځمه څپه راغلی، د ماتې مسرې دريځ يې راخپل کړی دی.
پر دغه پاسني سروکي باندې اوس، اوس سندر غاړو نورې مسرې ور زياتې کړې او لوبه يې ترې جوړه کړه چې ځينې څانګوال يې د ولسي پانګې يوه راز غلا او يا هم يوه ناروا لاسوهنه ګڼي.

د دې بل سروکي ترنمي توکی د دوبيمې مسرې په سرکې سرباري شوی دی:

▲ بند کړه تاويزونه ليلا

"وا" سپينه روپۍ دې پر وربل وهي ټالونه، "ليلا"

لومړۍ مسره اته څپيزه ده چې په لومړۍ او پينځمه څپه کې خجنتيا لري، که څه هم د پای څپه (-لا) يې هم خج اخلي، خو څنګه چې د پښتو شعر د تولیز دود پر خلاف د څلورمې څپې په توګه خجنه نه ده، په بله وينا تر درو څپو وروسته نه، بلکې تر دوو څپو وروسته خجنه شوې ده، نو ښايي دا غونډ ويی (ليلا) د سندريز کمپوز له پلوه وروسته ور زيات شوی وي.
دا راز زياتونه د دوبيمې مسرې پای ته هم په ډاګه څرګنديږي، کټ مټ لکه (وا) د دوبيمې مسرې په سر کې، البته سم له لاسه (ليلا) دلته د رديف بڼه غوره کړې ده که نه دوبيمه مسره د لنډۍ له دوبيمې هغې سره بشپړ څپيز او خجيز سمون لري.

ښايي دا پاس سروکی له هغو کمپيښنو سروکيو څخه و ګڼل شي چې د تولیز (عام) خجيز دود پر وړاندې نادودي (بې قاعدګي) لري، هغه دا چې لومړۍ مسره يې تر دوبيمې خجنې څپې (وا) دوې څپې وروسته خجنه څپه (څه) لري او ورپسې بيا هم دوې څپې وروسته بله څپه (و) خجنه راځي. دوبيمه مسره يې بيا په څلورمه خجنه څپه (-يا-) پيل مومي او په دې توګه د لنډۍ د دوبيمې مسرې غونډې دیارلس څپيزه راغلې او خجونه يې هم هماغسې پر څلورمه، اتمه او دولسمه څپه راغلي دي.

دا چې د دغه سروکي دواړې مسرې سره هم د دغه خجيز انډول له پلوه سمون نه لري او يوازې څپيز انډول يې سره سم دی. دليل يې کمپوزي توپير دی، ځکه په ډېرو سروکيو کې د مسرو دغه موسيکي ځانګړتيا يوه راز نه ده څرګنده چې خجيز او څپيز برابری يې سره هم سمبالېدی شي که نه، لکه هماغه تېر سروکی:

پاس په باړه کې اوبه ګډې وډې ځينه

▲ شينوارې لونګينه

د دغه بل سروکي د دوېیمې مسرې په منځ و میانه کې د دوه ځپیزې (سترګې) لومړۍ ځپه راغبرګېږي. په دې چم د سندریز تول او تال سره شعري دا هم سمبالتیا مومي، په نورو ټکو د ماتې مسرې په توګه په رابېلې شوې خجنې ځپې (ستر-) پسې پېنځمې خجنې ځپې (_سو-) ته لاره هوارېږي. هرګوره دغلته د دواړو مسرو پای ځپې (-نه) د خجنتیاله کبله نه، بلکې د موزیکال اهنګ له لامله داوږده (ممدوده) الف هومره لوړېږي او ,,-نآ،، ویل کېږي او دا چې لومړۍ دا بیا راغبرګېږي، بیرته خپل آر ژبني اکر ,,-نه،، ته راستنېږي:

پاځېږه مجنونه(نآ)

لیلا ولاړه تورې ستر ګې سره لاسونه (نآ)

د سروکیو د نورو جولیزو او مانیزو ځانګړتیاوو او پېیلتیاوو په برخه کې دې د دوست شینواري "د پښتو ولسي ادب لارې، ۷۵-۸۵ مخونه) هم وکتل شي. ،، ( مجاویر احمد زیار، ۲۰۰۹ لېږدی، ۲۹ چوپړی )

## ۵. نيمکۍ لنډۍ، نيمکۍ ټپه، نيمکۍ ټيکۍ او نيمکۍ مصرۍ ( پام لنډۍ، پام ټپه، پام ټيکۍ او پام مصرۍ يا سروکه لنډۍ، سروکه ټپه، سروکه ټيکۍ او سروکه مصرۍ)

د دې له پاره زما ځېړنه دا سپيني ته را اوباسي چې نيمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ يا سروکه لنډۍ)، نيمکۍ ټپه (پام ټپه يا سروکه ټپه)، نيمکۍ ټيکۍ (پام ټيکۍ يا سروکه ټيکۍ) او نيمکۍ مصرۍ (پام مصرۍ يا سروکه مصرۍ) چې له څو سره لنډۍ، څو سره ټپې، څو سره (مخه) ټيکۍ او څو مخه مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لري. لکه:

نيمکۍ د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ له نيمې برخې څخه رغښت موندلی دی. يا به له پيلنۍ مسرې څخه پنځې شوې وي، يا به د پيلنۍ مسرې له دوېوو غبرګغونډلو څخه له پيلنۍ غبرګ غونډلې او يا يې له دوېيمې غبرګغونډلې څخه شوی وي، يا به د پيلنۍ بشپړې مسرې څخه شوی وي، ځيني وخت به همدا دوې وارې سر بارې يا بېخبارې او منځبارې شوې وي، او يا به همدا د دوېوو بېلا بېلو مسرو په ورته مېچه شوې وي.

يا به له پاينۍ مسرې څخه پنځې شوې وي، يا به د پاينۍ مسرې له دوېوو غبرګغونډلو څخه له پيلنۍ غبرګ غونډلې او يا يې له دوېيمې غبرګغونډلې څخه شوې وي، يا به د پاينۍ بشپړې مسرې څخه شوې وي، ځيني وخت به همدا دوې وارې سر بارې يا بېخبارې او منځبارې شوې وي، يا به همدا د دوېوو بېلا بېلو مسرو په ورته مېچه شوې وي، زما نظر په داسې ده او همداسې کېږي.

په هغه وخت کې ورته پام کېږي چې د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ له بشپړ حالت څخه بېلوالی پيدا کوي. دا چې وګړني پيېلې تل وګړي پېژني او روغ پېژن يې په زهن کې شتون لري، هر کله چې له پېژندلې حالت څخه و وځي لکه دوې مسرې، لوموړۍ يې ۹ او دوېيمه يې ۱۳ څخه پرته له غبرګغږونو او پارنويکو چې کله د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ په پيل ځيني وخت په منځ او ډېری وخت په پايل کې راځي. له دوی پرته له ځان څخه ځرګندونه کوي د پام لاندې راځي او پام باندې بلل کېږي، د وګړو ورته پام ( Heed, Watch (Attention, Care, وي، موږ پام ته پام کوو، پام ته مو پام وي، پام پرې کوو او په پام يې پېژنو.

د دې له پاره دا يوه رښتين رښت دی چې غبرګغږونه او پارونويکي چې د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ سره ځيني وخت په ځيني مسرو کې راځي؛ ځيني وخت په بېلا بېلو کې راځي او ځيني پېر د هرې يوې سره يې سرباري کېږي.

یا پرلهپهسي (پر له پسې) له ټولو سره راځي چې ځیني یوه څپېزه، ځیني یې دوې څپېزه، ځیني یې درې څپېزه او ځیني یې څلور څپېزه وي (ویکي یا لغات)، غونډ، غونډله، نوم او ستاین وي؛ لکه:- یه کربانه! چې څلور څپېزه غونډله ده، یا هو! یوه څپېزه غونډله ده او یا وی! (پارنویکی) یوه څپه لري چې ځای، ځای او کله پرلهپسې د هرې مسرې وړاندې ( پیل، اول، سر) کې، منځ کې او یا په پایل ( اخیر) کې راځي. هغو ته بیا هم لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ وایو. له دغو څخه پرته نورې غونډلې او مسرې چې له لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ سره یوه ځای راځي؛ سرباري کېږي، بېخباري کېږي او پرلهپسې د هرې یوې راځي ورته پام وایو.

د دې له پاره یا به یې د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ویشتلو، اچولو، وهلو او ویلو تسلسل کې خنډ، دمه، ودرېدوکه، بله لاره او بل لورى ته شوى وي. لکه په لرغونو وختونو کې به چې ځیني پښت لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ په اواز کې ویلې چې یوه درجن یا دولس داني به پوره شوې. بیا به یې یوه بله لنډه پیبله وه یا کوم خبره. وینا او یا د پښتو په لرغوني پیبل مېچه څپېزه خجېزه ټولواله ( چې له څلورګونو څپو څخه به یې یا په هر څلور څپېز کې اوله څپه باندې زورنه وي، یا په هر څلور څپېز کې دوهیمې څپه باندې زورنه وي، یا په هر څلور څپېز کې دریمې څپه باندې زورنه وي، یا په هر څلور څپېز کې څلورمې څپه باندې زورنه وي) په ستړه یوه پیبله به یې ویله بیا به بېرته په بل درځن د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ پیل کوه. یا به یې په نېغه لاره ټولې ویلې. یوه درجن ( Dozen, Douple)، دوې درجنه ان تر شل درجنو پورې ویلې.

چې ځیني وخت بیا په ساز کې پورتنۍ برخې د ساز اسبابو او بولل ته دا په لاس کېښه ورکړله چې کله په کې ډول خپل فارموله او غوره حالت وړاندې کړه، له یوه درځن ورسته؛ کله به رباب خپل فارموله او غوره حالت (کوزې او بره پردې) وړاندې کړه له یوه درځن ورسته؛ کله به ارمونیې خپل فارموله (کوزې او بره پردې) او غوره حالت وړاندې کړه له یوه درځن ورسته؛ کله به تولۍ او ځیني وخت به یوې ګډې نغمې ( سندرې، د موسیقۍ یوې پارچې، تش ساز، د دوی ټولو اسبابو په ګډه) خپل وار تېر کړه. په دې سره به په ساز کې خوند هم لاسته راغی، سندرغاړي یا بولل به هم دمه وکړه او بل درجن ته به چمتو شو.

لکه څنګه چې راپور شوي د زلمي هېوادمل، اسمعیل یون، دوست محمد دوست شنواري، مجاوير احمد زیار په واسطه له بېلا بېلو ډولونو، نومونو او له بېلابېلو یاد شویو سندرو سره د ,,لنډۍ،، بېلابېل سندریز اهنګونه یا طرزونه راپېژندلي؛ یا په سرچپه وینا، د لنډیو په تړاو یې یوه لړ سروکي له بېلابېلو اهنګونو سره راښوولي دي.

مانا دا چې د سروکیو اهنګونه د لنډیو له اهنګونو سره ګډ یا التباس کړي دي؛ خبرې یې د لنډیو د اهنګونو په تړاو دي. ځنې په نومېرلي ډول همدا لنډۍ په خپلواکه، ګوښې توګه د سیمو او ګړدودو له پلوه تر شنني لاندې نیولي. التـه یې د ویلو راز، راز ,,ترنمي،، طرزونه راډلبندي کړي. ځکه له سروکیو سره د لنډیو په خپلواکو اهنګونو کې راوستلي، بلکې د سروکیو له خوا پرې پلي کړي.

زما څرګندول چې رونوې کتنه داسې له دوی څخه په بېل توپیر رښتې ډلبندۍ د نیمکیو سپیني ته را او باسم. د دې له پاره چې د سروکی یوه شلخې پنځه، دیسي رغښت، بدل جوړښت، ټومبونه ګډوله، په زوره سر باري شوي اونګ د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ده.

هر کله چې لرغوني او نوي پېیلن د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ په پنځه ( تخلیق) او منځه ( هسته) کې ناتوانه، سویي بریالي، په زهني تسلسل په کمتون شوي، ترنګتوک د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ترې پاتې شوی؛ د ابېڅو، ویکیو، غونډ او غونډلو په ابدنه کې له خنډ سره مخ شوي؛ نو بیا یې هغه برخه پرې اېخښې ده او نیمکۍ شوې ده. په بله وینا پېییران غوښتل چې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ و بوړوي په نه بریا ترې نیمکۍ بوړېدلې دي.

سروکی پېژن یې په دې بنه ورکړی دی، چې د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ په سر، اول، پیل کې راولي؛ سر بارري، ببخ باري یا تکراري یې له هرې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ پسې راولي او په زوره نیمکۍ ته غږ جوړوي؛ یا یوې ګډې نغمې، سندرې، د موسیکۍ یوې پارچې، تش ساز، د غږونو ټولو اسبابو په ګډه خپل وار یا ترنګ جوړوي. ځکه له سروکیو سره د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ په خپلواکو اهنګونو کې راځي. په سروکیو باندې پلی کېږي بلکې د سروکیو له خوا پرې نه پلي کېږي. په بدله بنه یې ورته جوړه وو. په سوي پنځي بنه سرباري کېږي.

که شاعران، ترنمیان، سندربول، سندرغاړي، اوازیان، سازیان، ناین، هنرمندان یا ارکستران سروکي ته د غوره نغمې رغښت کوي. یا سندره جوړوي، یا موسیکي یوه پارچه تیاروي، خوړ غږ برابر وي، د پیل؛ د سر یوه کړی؛ بند؛ یا مسرې؛ یا دوې مسرې، دوبیمې کړۍ چې (استایي) ورته وایي ترې رغوي او پاتې نور بندونه، نورې کړۍ تر پایه، یا نورې مسرې چې پورتنۍ ورسره تړښتې کېږي یا بېخباري یا سر باري کېږي. پرې تړه ( انتره) وایي چې د استایي سترګې بلل کېږي، چې ډېر زیات ورته له منځې یا څرګند سکالو( دننه نۍ مسلې او موضع) له اړخه نږدې وي. څخه جوړوي. یا په لنډ پیرې بنه سندره له استایي رغول کېږي له انترې څخه نه. خو دا یوه دیسي ( شلخي یا سویې پنځي) اصل دی. اصلي ( اوریجنل، پنځي، منځي) ښکاروندی دا دی چې له انترې یې سندره رغښتېږي.

ځکه موږ یې په زوره سروکي ته جوړه وو، لورا لور سکالو يې ور ټمبو.
دوې مثاله به د لا پوهېدنې له پاره تاسو ته و وایم:.

لومړی مثال:. د خوږو لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ټاکل او په لاس راوړل؛ که ډېرې هم دي ( کره خوندي شوې ۲۱۹،۵۶۴.۰۰) خو بیا هم ګران دي، په ۱۰۰۰ دانو کې به د ځینو کسانو هېڅ یوه خوښه رانشي چې لولي يې. که د سروکي له سکالو، سور سره برابرې وي که له کوم تن یې واوري که یوه دانه هم وي بیا یې ډېره خوښېږي.

په پلازمینه کې مې اورېدلي دي چې فرهاد دریا د باران د موسکۍ ډلي غړي ویلي و، له جګړو وړاندې مې د افغانستان په راډیو تلویزیون په کتابتون کې ما په ۵۸۰ پینځه سوو او اتیا مصرو کې د ,, بابولالې ښار ناکرار کړم لېونی، وه!؛ په مین ګراني پلو راټېټ کړه شین خالی،، نیمکۍ له پاره دا مصرۍ: ,, ستا د کټ کټ خندا دي زار شم ـ لکه ماشین چې په بخمل و چلوینه ،، خوښه کړه، دا ډېر دروند کار وو ورته. چې دلته نیمکۍ د مصرۍ له دوېیمي مسرې سره په مصرۍ مېچه برابر ده ۱۳ څپې لري، په دې توګه د غونډلې بېلا بېل مانیز( بیاني، امري، پوښتني) اواز لوړوالی سره نومېږي، خو د ه ابېڅې ترنګتوک نه لري. د درنې یې ۍ ترنګتوک لري، چې له نو څخه یې د هوا راوتو کچه ورته ده. ورته بڼه خوږ غږ لري چې ډېر نږدې دی هې (ه) او ۍ (یې) سره، دوېیمه مسره یې په دې له ظاهري بڼې پېښېله ( قافیه) واله مسره ګڼو خو اواز یا اهنګ یې سره برابر دی، پورته لوري یا په لوړ دی او په ځوړ نه دی. بل لورته که د هې ابېڅۍ پرته مسره ترګټوک ورکوي نو درنې یې په ربښت کې ساتلی دی چې خپله غبرګغږ ابېڅۍ دی. دوې دانې مسرې دي، دوېیمه یې بیا یوه پارنویکی هم لري ده ,, وه!،، په بڼه، چې یوه څپه ډېره وي نیمکۍ د دوېیمي مسرې. ۱۴ څپې کېږي؛ خو دا شتون لري او په سکالو کې کومه باکه نه زوکړه کوي. شتون یې اړین دی، همدا د مصرۍیو اړین او ربښت توک دی چې په لاندې بڼه سروکۍ ترې رغښت مومي او دا شکل ځان ته غوره کوي. لکه دا لاندې نیمکۍ مصرۍ:.

- ستا د کټ کټ خندا دي زار شم
  بابولالې ښار ناکرار کړم لېونی
  وه؛ په مین ګرانې پلو راټېټ کړه شین خالی
  لکه ماشین چې په بخمل وچلوینه
  بابولالې ښار ناکرار کړم لېونی
  وه؛ په مین ګرانې پلو راټېټ کړه شین خالی

دوېیم مثال:. په ورته وخت کې د هېواد سرغندوی، تکړه، هېښنده اوستاد، د افغانستان راډيو تلویزیون ښاګلي، نوموتي، خوږ غږي او خوږ سندرغاړي پینده محمد منګل او د ده مېرمني د هنر زده کوونکي اغلي ښاپیری نغمي له پاره په ۹۰۰ تپو کې یوه تپه:

,, زړه مې سوری باد کې لړېږي- غېښې د غم ترې تېر او ببر وتلي دینه
د یاری وی اوو شاه لونګینه؛ یاری وی – او چاته مه وایه حالونه؛ یاری وی... .
''
نیمکی له پاره غوره کړې وه، هغه داسې ده.

تر ډېره پورې پیپلني یا پیپلن روغ کوښښ کړی دی چې په سویي پنځي ډول يې یوه تپه رغولې وی، خو په لومړی مسره کې يې توان نه دی رسېدلی، چې ۹ څپې شي او دوېیمه ۱۳څپې شي. دواړه مسرې يې ۱۲ څپېزې شوې دي، که له ۱۳ څپېزې يې ترنګتوک لرې کړی دی یا ترې پاتې دی خو په ۱۲ سمه څپه يې زورنه راغلي. بل لوري ته په درنې ۍ ابېڅي هم پای شوې چې غبرګغږونه لري او له خولې څخه په یوه اوږده ساه له نو څخه راوځي. لکه د هي یا ه ابېڅي ته ورته ترنګتوک برابر وي. له بل اړخه د تپې لومړی مسرې ته ورته ده، چې یوې درې څپېزه د اندېښني، درد، اېرنتیا چغې، سورې نارې، اوازونه یا بلنویکي ,, یاری وی،، دي؛ د دواړو پایني ابېڅي یا غبرګغږي ابېڅي دي، چې ترنګتوک ساتي. د هرې تپې د مسرې سره سر باري کېږي او بیا د بېخباري بنه وار په وار ورسره تر پایه پالل کېږي. چې پام، نیمکی یا سروکی کوم یوه بیت ( د کور دوې پټه لرونکي ور يې)، یوه کړی ( دوې نیمې کړۍ)، یوه بند ( دوې نیم بندۍ) پیپله نه دی چې په پښېلې بڼه دي وي، خو دوې مسرې لرونکي جوړ دی چې له تپې څخه اونګ شوی دی. لکه دا نیمکی تپه:.

زړه مې سورى باد کې لړېږي
یاری وی اوو شاه لونګینه؛ یاری وی
غېښې د غم ترې تېر او ببر وتلي دینه
یاری وی اوو شاه لونګینه؛ یاری وی
او چاته مه وایه حالونه؛ یاری وی

د دې له پاره چې غوره په غورو کې و مومي، د هندارو، مجلسونو، ننداړو په وړاندې د لیدونکو او اورېدونکو د تود هر کلي سبب شي؛ په لاسته راوړو باندې چې پېرودلي يې وي، پرې پېر (وخت) يې تېر کړی وي، مصرف يې پرې شوی وي، نورو ته وړاندې کوي او خپله هم پرې هامیانی په لاسته راوړي. ځکه له هر اړخه ډېر د پلورلو وړ دي.

په ۲۰۱۱ لېږدي کال مې د کابل شپه میرو اکاډمی پخلنځی رغوه، نو یوه هزاره سندر غاړی و، د محمد دواود هزارګي په نوم. ویل یې زه د حیات ګردیزي شاګرد یم، په همدغو پښتو شعرونو لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ زه د شپه میرو په زړونو کې ځای کړی یم. په هر مجلس کې یوه وارې ځینې وخت څوواری وایم، او زه هم پرې په اکاډمی کې پایم.

## ۵. ۱ ربښتې ډلبندۍ د نیمکۍیو په لاندې بڼه سپینې ته را او باسم.

۱. نیمکۍ لنډۍ ۲. نیمکۍ ټپه ۳. نیمکۍ ټیکی ۴. نیمکۍ مصرۍ ( ۱. پام لنډۍ ۲. پام ټپه ۳. پام ټیکی ۴. پام مصرۍ یا ۱. سروکه لنډۍ ۲. سروکه ټپه ۳. سروکه ټیکی ۴. سروکه مصرۍ).
بویمه، اړېنه ده، په چار ده چې د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ له پاینۍ مسرې سره کسر څرګندېږي برابر راځي او اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي. پاینۍ یوه تکراریدلې مسرې نیمکۍ یا پام دی، له یوې مسرې څخه چې دوېیمه مسره په یوه پښېله او لړ برابره اوړده مسره د لنډۍ ده. ترنګتوک یې ,, ړه ‹‹ سره دی، څپیزه او خچېز ټولواله یې په کې روغه ساتلې خو د لنډۍ دوېیمې مسرې په ډول خوړلن غږ نه ساتي، په هې ابېځې لړ (ردیف) شوې ده او ,, ببو، ببو ناداني!؛ ‹‹ یا په پاینۍ بېخباري کې په لړ ښلوالې سره په ورته څپیزه مېچه ,, ببو، ببو لعلداني!؛ ‹‹ شپږ څپیزه هېښانده یا ندایه غونډله سرباري شوې چې ۶+ ۱۳ ( ۱۹) څپیزې پټلېز سره ویل کېږي. غږ په لوړ ساتي ۱۹ څپې دی او په ټوله کې ۹۲ څپې کېږي. د نیمکۍ کسر( مطلع ) یې و ګڼو چې لومړۍ یوه کسر ( مطلع ) لري، ورپسې یې هره لنډۍ بندونه دي، کسر یې له یوې اوړدو، اوړدو مسرو څخه جوړ دی چې شپږ څپیزه هېښانده یا ندایه غونډله ور سره سرباري شوې، بیا د پښېله یې ترون له مخې له هر بند سره ټول تکرارېږي.
رښته نیمکۍ یې لنډۍ ده چې له څلورو لنډۍیو سره بېخباري کېږي، ټولې سړو ته منسوبې دي.

نیمکۍ لنډۍ رغښت په دې بڼه دی؛ د لنډۍ پیلنۍ مسره یا کوشنۍ مسره ( چې پرته له لومړۍ څخه یې په پاتې نورو درې واړو لومړۍیو مسرو سره ,, ووا! ،، پارنویکی سرباري شوی دی)؛ بیا منځباري سروکی دی ۱۹ څپېزه، بیا دوېیمه مسره د لنډۍ ده، بیا بېخباري سروکی دی ۱۹ څپېزه، بیا دوېیمه مسره تکراري ویل شوي ده او بیا بېخباري سروکی دی ۱۹ څپېزه ویل شوی دی.
په څلور واړه نیمکی لنډۍیو کې په همدې بڼه، په پاینۍ نیمکۍ لنډۍ کې بیا دوېیمه مسره د لنډۍ ده او بیا بېخباري سروکی دی ۱۹ څپېزه تکرار شوی دی.
د نیمکۍ لنډۍ سروکي، پام، نیمکۍ یا رښته نیمکۍ یا رښته سروکي د لنډۍ له لومړۍ مسرې څخه ورسته چې منځباري دی، د لنډۍ له دوېیمي مسرې څخه ورسته بیا ,, ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېټه څه خوله راوړه ،، ( پام، سروکی، نیمکۍ) بېخباري دی. ورپه‌سې دوېیمه اوږده مسره د لنډۍ تکراري ده، بیا پام یوه واري تکرار ویل شوی، دې له پاره دي چې ځوانان د اتڼ له پاره یا سندر غاړی د خوړ غږ له پاره یا د سندرې د سور او لی له پاره ځانونه چمتو( برابر، اماده، جوړ، تیار) کړي، په پاینۍ نیمکۍ لنډۍ کې یا پېنځمه نیمکۍ لنډۍ کې رښته نیمکۍ درې واري تکرار یا درې واري ویل، د دې له پاره دي چې ځوانان چټک، ګړندي اتڼ او د سندرې پای له پاره ځانونه چمتو ( برابر، اماده، جوړ، تیار) کړي.

د میني پالني لوړ حس، د لېوالي ستاین، لېوالي زړه باندې د رحم اوبه تېره ول، د لېوالتیا شفرونو او رازونو خبروی، سپېڅلي پښتیانه چارپېریال او هواویچي د تاثیر پنځې زېږنده ده. د دې له پاره کره بوږوم چې لرغوني پېر یې د پنځې (تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

حیات الله قراباغی زوی یې ورته رباب وهي، کوشنی زوی یې ورته ډول وهي، بل ځوی یې توله، زنګلرونکي دیرا او خپله ارمونیه ( باجه ) وهي. په دې بڼه یې لرغونې وګړنې نیمکۍ ټپې ویلې دي.:

▲ خوله دې تر کوچو لا پسته ده

ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېټه څه خوله راوړه
ځکه دې مور ته دوې لاسي سلام کومه
ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېټه څه خوله راوړه
ځکه دې مور ته دوې لاسي سلام کومه
ببو، ببو لعلدانې!؛ لعلدانې ببو تېټه څه خوله راوړه

وو!؛ د يوې خولې مې ورته و ويل

ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه
يوه يې څوک راکړه دوې يې لوټې و ويشتمه
ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه
يوه يې څوک راکړه دوې يې لوټې و ويشتمه
ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه

وو؛ سپينې سپوږمۍ ته يې خوله ښکل که

ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه
د کلا سورې ته يې مه بيايه ډارنه
ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه
د کلا سورې ته يې مه بيايه ډارنه
ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه

وو؛ د سپينې خولې دې څومره ټک شو

ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه
لکه باغوان څې په باغ ټک وهې لاسونه
ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه
لکه باغوان څې په باغ ټک وهې لاسونه
ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه

وو؛ څې کلېواله مې بللې

ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه
ځکه مې سوال د يوې خولګۍ درته کونه
ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه
ځکه مې سوال د يوې خولګۍ درته کونه
ببو، ببو نادانې!؛ نادانې ببو تېته څه خوله راوړه

## ۵. ۳۱ لومړۍ ډله نیمکۍ لنډۍ: ژېږ ،، ژ ،،:. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ګل د ګوهرو له سیله راغلې

زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: دا لرغونې لغماني سروکي قاري عبدالحادي د لغمان کیسۍ وینکي ویلي، سرلیک یې دی ,, له سیله ته راغلې بلبلې ـ وه!؛ ګل د ګوهرو، وۍ!؛ له سیله راغلې،، د خیر محمد، فیض محمد، عبدالمحمد په غوښتنه، له لغمان څخه یې د دوباره ویلو او ثبت کولو له پاره بختور میوزیک سنټر څخه کړې وه. نومورې نیمکۍ لنډۍ پېنځمه سندره ده.

کره موده یې راته معلومه نه ده، خو نومورې د جلال اباد له ستري جګړو وړاندې څو وارې په ولس کې ویلې دي. په ۷:۱۹:۲۴ ورسته له وخته ۳۱/ ۰۳/ ۲۰۱۸ زیږدي کې د سندرو هټۍوالو په غړېز پوستکالو کې یې دوباره ثبت او خوندي کړي، له پیلنی پیټې څخه لسمه سندره ده.

وخت: (وخت ټاکل، نېټه اینودل: پر سور برابرول: مهال: د موسیکي شپېه: پر وخت، پر ټاکلي وخت.).:. ۰۰:۰۴:۴۴:۳۰ ( رپه: ثانیې: د کیکې: ساعته) په وخت کې ویلې دي.

- ښه موسیقي، وۍ!؛ چې راسره وي
- وۍ!؛ ګل د ګوهرو؛ نو
- هغه ساعت په باچاهي، وۍ! نه ورکومه
- وه!؛ ګل د ګوهرو وۍ!؛ له سیله راغلې

- دا پخوانۍ مزه دې نه شته
- ګل د ګوهرو ؛ نو
- ګمان مې کیږي وه!؛ رېزه داره وۍ!؛ شوې مینه
- وه!؛ ګل د ګوهرو له سیله راغلې

- څوک چې له ما، وی!؛ سره راستي کی
- ګل د ګوهرو؛ نو
- خدای دې په هر ځای کې کامیابه، وی!؛ کې مینه
- وه!؛ ګل د ګوهرو له سیله راغلې

- جانانه بد مې اموخته کړې
- ګل د ګوهرو ؛ نو
- چې خوله درنه کمه، او؛ مرور ګرځې مینه
- ګل د ګوهرو، نو!؛ له سیله راغلې
- له سیله ته، وی!؛ راغلې بلبلې
- وه!؛ ګل د ګوهرو له سیله راغلې

- د ربابي بلا په ما کې
- وه، ! ګل د ګوهرو؛ نو
- د تبله یې بلا به پاس په تندي وږمه
- وه!؛ ګل د ګوهرو؛ نو له سیله راغلې

- چې ګلاجان به، وی!؛ په کې نه وي
- وه!؛ ګل د ګوهرو ؛ نو
- خدای دې په هغه مجلس کې اور و لړوینه
- وه!؛ ګل د ګوهرو؛ نو له سیله راغلې

- د نبي غابښ په دین شهید شو
- ګل د ګوهرو؛ نو
- امت ته یې ګوره، او!؛ چې ملنډې پرې وهینه
- وه!؛ ګل د ګوهرو؛ نو له سیله راغلې

- ری شه چې روغه، وی!؛ یې سره و کړو
- وه!؛ ګل د ګوهرو ؛ نو
- دغه ښادي د مبارکه د ټولو شینه
- ګل د ګوهرو؛ نو له سیله راغلې
- له منظرو راغلې بلبلې
- ګل د ګوهرو له سیله راغلې

**۵. ۳۲ لومړۍ بېله نیمکۍ لنډۍ: ېږ ،، ږ ،،:. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ ،، شړنګ له ما تېرېږي!؛ ځنې دې ول، ول شا لیلا واړول بارونه؛،،**

زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: دا لرغوني لغماني سروکي قاري عبدالحادي د لغمان کیسی وینکي ویلي، سرلیک یې دی ،، شړنګ له ما تېرېږي!؛ ځنې دې ول، ول شا لیلا واړول بارونه؛،، ارمونیه ورته په ننګرهار کې ګلا جان اوستاد وهله، تبله غږونکی اوستاد ګلدری او ربابي جمدر اوستاد وو.

د لغمانیانو په ښادۍ کې نوموړې نیمکۍ لنډۍ ویلې دي، د شهید حیران په یاد، د جلال اباد لوې جګړې ورسته. کاوون میوزیک سنټر د محمد بشیر هوټل خوا کې د محمد صابر په غوښتنه یې خپرې کړې دي.
کره موده یې راته معلومه نه ده، خو نوموړې د جلال اباد له سترې جګړو وړاندې څو واري په ولس کې ویلې دي. په ۷:۱۹:۲۴ ورسته له وخته ۳۱ /۰۳/ ۲۰۱۸ زیږدي کې، د سندرو هتیوالو په غږیز پوستکالو کې یې دوباره ثبت او خوندي کړې او له پیلنی پیتې ځخه اوومه سندره ده.

وخت : (وخت تاکل، نېټه اینبودل: پر سور برابرول: مهال: د موسیکي شپبه: پروخت، پرتاکلي وخت). .: ۰۰:۰۲:۳۵:۸۴ ( رپه: ثانیې: د کیکې: ساعته) په وخت کې ویلې دې.

- شړنګ له ما تېرېږي!؛
- ځنې دې ول، ول شا لیلا واړول بارونه؛ وه! له ما ترېږي
- په ګورستان مې سلام وایه،
- وه؛! چې خاورې نه کړې حیران جان ښایسته ګلونه؛ وه! له ما ترېږي
- که ګورستان ته نرۍ لار وی،
- وه! ما به حیران ته پیشکشي لېږل ګلونه؛ وه! له ما ترېږي
- شړنګ له ما تېرېږي؛
- ځنې دې ول، ول شا لیلا واړول بارونه؛ وه! له ما ترېږي

- خدای دې په عمر برکت که،
- وه!؛ ایله بیله زړه مې په ځای و لړېدنه؛ وه! له ما تربږي

- که ربابي د چا یادېږي،
- وه!؛ وطن دې پرېږدي جله‌بات ته دې راځینه؛ وه! له ما تربږي
- شرنګ له ما تربږي؛
- ځنې دې ول ول شا لیلا واړول بارونه؛ وه! له ما تربږي

- ورکه د کور کلي یاري کې،
- وه؛ د ځنې سر مې دیواله و سوله ونه؛ وه! له ما تربږي

- دیواله اوس به دې چپه کړمه،
- وه؛! تانه پنا دي سمبال کړي وربلونه؛ وه! له ما تربږي
- شرنګ له ما تربږي
- ځنې دې ول ول شا لیلا واړول بارونه؛ وه! له ما تربږي

## ۵. ۳۳ لومړۍ ډله نیمکی لنډۍ: سي ،، س ،،:. زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ،، پاسۍ ای! شهیده!!؛ د تا په قبر باندې بلېږي سره ګلونه،،

زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: دا لرغوني لغماني سروکي قاري عبدالحادي د لغمان کیسۍ ویونکي ویلي، سرلیک يې دی ،، پاسۍ!؛ ای! شهیده!! ،، ارمونیه ورته په ننګرهار کې ګلا جان اوستاد وهله، تبله غږونکی اوستاد ګلدری او ربابي جمدر اوستاد وو.

د لغمانیانو په ښادۍ کې نومورې نیمکۍ لنډۍ ویلي دي، د شهید حیران په یاد، د جلال اباد لوې جګړې ورسته. کاوون میوزیک سنټر د محمد بشیر هوټل خاواکې، د محمد صابر په غوښتنه خپره کړې دي او شاعر يې عسکر چالاک لغمانی دی.

نومورې نیمکۍ لنډۍ پېیله د درې سره لنډۍ ایزې پېیلې تر منځ پول او سرحد دی.

د نیمکۍ لنډۍ رښته سروکی یا پام يې یوه اوږده ۱۳ څپېزه مسره د لنډۍ ده، چې دوې دیفتنګونه یا غبرګغږونه د امریه غونډله ( کړ پوښتنه ده: پاسۍ! ) او بلنویکی (ای! شهیده!!) ور سره په دې ډول ،، پاسۍ!؛ ای! شهیده!! ،، سرباري شوي. چې په مسرې په کچه کې د څپو ډېروالی راغلی دی او ټوله مسره يې ۱۹ څپو ته رسولې ده.

له هرې کوشنۍ مسرې سره يې د ،، ای!؛ ،، سرباري او د ،، پاسۍ! ،، بېخباري شوي، په تکراري ډول ورسره رغښت موندلی دی. له دوبیمې اوږدې مسرې سره يې ،، پاسۍ!؛ ای! شهیده!!؛ وی!؛ ،، د امریه غونډله ( کړ پوښتنه ده: پاسۍ! )، بلنویکی (ای! شهیده!!) پارنویکی (وی!) پتلیز سرباري شوی او ورسته ورسره تکراري لړ یا تکراري خلاصه مسره بېخباري شوي.

کره موده يې راته معلومه نه ده، خو نومورې د جلال اباد له سترې جګړو وړاندې څو وارې په ولس کې ویلي دي، په ۷:۱۹:۲۴ ورسته له وخته ۳۱ /۰۳ / ۲۰۱۸ زېږدي کې. د سندرو هټۍوالو په غږېز پوستکالو کې يې دوباره ثبت او خوندي کړې، له پیلنۍ پیټې څخه اوومه سندره ده.

وخت: (وخت ټاکل، نېټه اینبودل: پر سور برابرول: مهال: د موسیکی ( موسیکي شبېه: پر وخت، پر ټاکلي وخت).:. ۰۰:۰۲:۴۹:۷۲ ( رپه: ثانیې: د کیکې: ساعته په وخت کې ویلې دي.

- پاسئ!؛ ای! شهیده!!؛ د تا په کهبر (قبر) باندې بلیږي سره ګلونه
پاسئ ای! شهیده!!؛ د تا په کهبر (قبر) باندي بلیږي سره ګلونه

- اصیلـــــي خــــــاورې ته پیدا شوې؛ پاسئ!
- ای!؛ شهید د دې خاورې رښتیا شوې؛ پاسئ!
- پاسئ!؛ ای! شهیده!!؛ وی!؛ اوس دې مزا، مزار په رپا راغل بیرغونه
- پاسئ ای! شهیده!!؛ د تا په کهبر (قبر) باندي بلیږي سره ګلونه

- اله وی!؛ تـــه واقـــعي وطنپرست یې ؛ پاسئ!
- ای!؛ تـــه د وطـــن په مینه مست یې ؛ پاسئ!
- پاسئ!؛ ای! شهیده!!؛ وی!؛ د مرګ سلګۍ پورې دې تېر کړل تکلیفونه
- پاسئ ای! شهیده!!؛ د تا په کهبر (قبر) باندي بلیږي سره ګلونه

- ګرانه!؛ نه دې کـــوم جـــــــرم نه ګنا وه ؛ پاسئ!
- ای!؛ هدف دې خـــــاورې نه دفـــاع وه ؛ پاسئ!
- پاسئ!؛ ای! شهیده!!؛ وی!؛ د مرګ په غېږ دې په ژړا شول تاریخونه
- پاسئ!؛ ای! شهیده!!؛ د تا په کهبر (قبر) باندې بلیږي سره ګلونه

- اله وی!؛ عسکر چالاک چې ځان تیار کړئ؛ پاسئ!
- اي!؛ ټولو نارې د زنده باد کړئ؛ پاسئ!
- پاسئ!؛ ای! شهیده!!؛ وی!؛ د مرګ تر وخت مو په دښمن کول بریدونه
- پاسئ!؛ ای! شهیده!!؛ د تا په کهبر (قبر) باندې بلیږي سره ګلونه

## ۵. ۳٤ لومړۍ ډله نیمکۍ لنډۍ: شې ,, ش ،،: زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: ,, مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم ،،

زړې لغمانۍ نیمکۍ لنډۍ: دا لرغوني لغمانۍ سروکۍ کاستوري سور کې ګلکي اوستاد له خپل زوی پینده محمد پینده سره ویلې. په همدې بنه ملاجان ملاکي اوستاد، حسني اوستاد ویلې دي په ۱۳۲۳ لېږدي څخه تر ۱۳۵۷ لېږدي پورې.
نومورې نیمکۍ لنډۍ مسافر کډوال یا مسافر ډېر خوښوي او ډېرى وخت په ناستو کې د نومورې نیمکۍ لنډۍیو غوښتنه له سندرغاړو څخه کوي:.

- جانانه مړ یې که ژوندی یې

مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
میراث خورو دې پر ما لاس ولګونه
مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم

- مسافري دې ډېره و کړه

مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
خدای دې سوب په خپل وطن و کړه مینه
مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم

- مسافري دې ډېره و کړه

مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
راځه، راځه روزي به خدای رارسوینه
مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم

▲ مسافرۍ خوږلې یاره

مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
کربان، کربان دې له خیرنو جامو شمه
مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم

▲ ته مسافر شوې خواره زه شوم

مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
خواره دې مور شه چې له غېږې دې شړینه
مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم

کره موده یې راته معلومه نه ده، خو نوموړي د جلال اباد له ستړې جګړې وړاندې څو واري په ولس کې ویلې دي، په ۷:۱۷:۱۰ ورسته له وخته ۳۱ /۰۳/ ۲۰۱۸ زیږدي کې، د سندرو هڅۍوالو په غږیز پوستکالو کې یې دوباره ثبت او خوندي کړي او له پیلنۍ پیتې څخه څلورمه سندره ده.

وخت: (وخت ټاکل، نېټه ایښودل: پر سور برابرول: مهال: د موسیکي شېبه: پر وخت، پر ټاکلي وخت.)..: ۰۰:۰۲:۳۲:۰۶ ( رپه: ثانیې: د کیکې: ساعته) په وخت کې حسني استاد او سید محمد اوستاد ویلې دي.

▲ میدان ته ښکلي ځوانان راغله

مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
دا پېنځوسیان یې په ډالۍ راکړه مینه
مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم

▲ یا الله؛ جلی وړه پیزوان یې غټ دی

مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
لکه ډوډی چې د کوهي په خوله کې وینه
مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم

▲ د هر چا خپله، خپله خوښه

مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
څوک به غزل څوک به سروکي خوښوینه
مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم

▲ یا الله!؛ نه سپېلنی شو نه لوګی شو

مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
جانه!؛ نه مې اشنا د دیواله منځ ته پرېږدینه
مسافره اشنا چېرته هېره درنه نه شم
د زړه سره اشنا چېرته هېره درنه نه شم

**۵. ۳۵لومړۍ ډله نیمکۍ لنډۍ: ښي ,, ښ ،،:. د څېړونکي نیمکۍ لنډۍ دي چې سرلیک یې دی ,, په نالیدلو لارو ځمه یاره!! نه دي هېره ومه یاره!!،،**

- دا سترګې ما وژني جانانه
- چې ترمي اوښکې یې سهار کې و وینمه؛ یاره! نه دي هېره ومه یاره!
- په نالیدلو لارو ځمه یاره!! نه دي هېره ومه یاره!!

- ستا له اوبښتو سترګو ځار شم
- په دا زرغونه سیمه یې ساری نه وینمه؛ یاره! نه دي هېره ومه یاره!
- په رغېدلو لارو ځمه یاره!! نه دي هېره ومه یاره!!

- لالیه! یوي دوې راتــه وایــه
- موزون کدم ډولونه زه درتـه وهمه؛ یاره! نه دي هېره ومه یاره!
- په رنګېدلو لارو ځمه یاره!! نه دي هېره ومه یاره!!

- ای خولګۍ زه د خدریوان کړم
- ځکه ولس کې د هر میر کور له ورځمه؛ یاره! نه دي هېره ومه یاره!
- په نالیدلو لارو ځمه یاره!! نه دي هېره ومه یاره!!

- زما پر تا د ســتا پر مادي
- چنـاک ګـټلــۍ داوڼ زه نــه درکــومه؛ یاره! نه دي هېره ومه یاره!
- په رغېدلو لارو ځمه یاره!! نه دي هېره ومه یاره!!

- خداېږو درکړه دي رانه جوړ کړه
- چغځۍ کوراک ومه څرمه د متاک شومه؛یاره! نه دي هېره ومه یاره!
- په رنګېدلو لارو ځمه یاره!! نه دي هېره ومه یاره!!

- په دواړو لاسومې زیندئ کړه
- ساډی سوډی ملګریه څه دې وستایمه؛ یاره! نه دې هېره ومه یاره!
- په نالیدلو لارو ځمه یاره!! نه دې هېره ومه یاره!!

- یار مې په لوبو کې څرو دی
- ځکه لوبغالې له په دنګـــــو ګامو ځمه؛ یاره! نه دې هېره ومه یاره!
- په رغېدلو لارو ځمه یاره!! نه دې هېره ومه یاره!!

- نامه دې شته حضور دې نه شته
- چرلـــنده یـــاره په بیدیـــا دې لـــتومه؛ یاره! نه دې هېره ومه یاره!
- په ړنګېدلو لارو ځمه یاره!! نه دې هېره ومه یاره!!

## ٦ دوېیمه ډله نیمکۍ تپه:.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله د څو سره نیمکۍ تپه نوم باندې نوموم، دې پښتو څو سرې پېیله له څو سره تپ یا څو سره زخم یا څو زخمه یا څو تپه، څو سره نیمکۍ تپه، درې سره تپ له درې سره نیمکۍ تپې سره، څلور سره تپ له څلور سره نیمکۍ تپې سره، پینځه سره تپ له پېنځه سره نیمکۍ تپې سره، شپږ سره تپ له شپږ سره نیمکۍ تپې سره، اووه سره تپ له اووه سره نیمکۍ تپې سره، اته سره تپ له اته سره نیمکۍ تپې سره، نهه سره تپ له نهه سره نیمکۍ تپې سره او لس سره تپ له لس سره نیمکۍ تپې سره... . ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لرې. لکه:

## ۶. ۱ د نیمکۍ تپې ځانګړې ځانګېرنې

۱ :- درد پیدا کوي، ۲:- د انسان په تن کې چې درد وي، نو بیا سم د کار نه وي، ۳:- خوښي له منځه وړي، ۴:- خفګان ډېره وي، ۵:- په هېڅ څه پام نه راوړي، ۶:- انسان په دردونو اړوي، ۷:- تاثیر یې د انسان په زړه تپ جوړه وي، ۸:- پټ زخمونه د انسان په وجود کې جوړوي چې یوازې احساس یې کېږي، خو لیدل کېږي نه، ۹:- بې واکه کړنې په انسان کوي، بېواکه خوښحالي څرګندوي او چک چک کوي، ۱۰:- تاثیر یې د انسان رنګ پرک زېړ اړوي، ۱۱:- غم ډېر وي، ۱۲:- د انسان سپیني تختوي، ۱۳:- ولس پرې خبرېږي، رسوایي کوي، ۱۵:- کړو زیاتوي، ۱۶:- د تپ باندنۍ برخه کوشنۍ وي او د تپ دننۍ برخې رېښه اوږده وي، ۱۷:- انسان رنځور وي، ۱۶. له تپې یې کچه کمه ده، ۱۸:- د یوه تپ څخه یې د درد زورنه لړه وي ځکه چې یوه تپ په روغ بدن کې ډېر پیدا کېږي، ډېر او څو تپونه په تن کې لږ پیدا کېږي، ۱۹:- نیمکۍ ( پام، سروکۍ) تپ ځان تپه وي، ۲۰. لږې دې څو شتون لرې. ۲۱. د دروغو تپ په هنداړو کې د پردو له پاره جوړېږي او په زوره په تن پورې تپول کېږي.

تاسو ته یې دا همداسې پرېږدم او په همدې بنه یې یوښ کې کوم.
هرې نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ چې دغه پورته ځانګېرنې و درلودلې نو هغو ته نیمکۍ تپه وایي. تاسو نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ تپۍ، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ ته ښه غور و نیسئ!! پام ورته و کړئ! نو بیا یې پېژنئ چې دا نیمکۍ تپې دې چې د څو سره تپ ځانګېرنې (خصوصیات) لرې. نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ دا پورته ۲۱ ځانګېرنې نه لرې او نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ نه دې، بېلوالی یې پر همدې کې دی.
د دې د بېلولو له پاره زه ( څېرونکۍ ) یوه بېلګه تاسو ته له خپلې پېیلې څخه په لاندې بڼه کښنم.

روڼ بوږم چې داسې مې و کښل د نیمکۍ ټپې له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، پنځه ( تخلیق، رغښت، جوړولو ) منځه ( هسته ) یې نیمکۍ ټپې پیېلې له سکالو څخه همدا دی، هندسي او ښکاره بڼه یې له نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ سره ورته وي.
زه نیمکۍ ټپ، نیمکۍ ټپه له یوه بڼه پیېلې سره تشبې (تشبع) کوم، چې ورته نیمکۍ ټپه وایي او ټولې ځنګېړنې یې له ټپ سره ورته وي.

## ۶. ۲ د نیمکۍ ټپې ( پام ټپې یا سروکه ټپې) تعریف (څرګندونه، ښکارونه، نیمکۍ ټپې د یوه توري یا مو سکالو تشریح کول).

د وی یا ویکیي له پامه نیمکۍ ټپې هغې څو سرې پیېلې ته وایي چې څو ټپو سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.

او په اصطلاح کې هغه وګړنې، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پرله پسې توبه ( تکراري، بیابیا کولې، واروار تړلې، ګرداني) پیېله ده؛ چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ی او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړې دي؛ له لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ څخه ورسته. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلجیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ نیمکۍ ټپې د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې یا کلیمې دي چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږوي. په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته راځي. لکه یوستووی اواز یوه وار پټلیز له خولې راوځي؛ د یوه غبرګغږ لومړی ټوک یوه خپلواک او دوېیم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي؛ کله زورکی واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکی واله یې یا درنه یې ,,ۍ ،، او داسې نور. دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناټروییکي، ټروییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هېبجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، زویه!، شېرینه، یا الله، یه، وا!، وله!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، نو، الله، کنه!، راځه!، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتینه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه کربانه!، ای الکه!، سفیره!، وروره!، فردوسه!، لغمانۍیه!، بخته میره!، اخلا وه! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نوموړي ټول د نیمکۍ ټپې توکي دي، چې کله هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېرای وخت په پای کې

ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي. د پښېلي غونډ او پښېلي کليمې یا غونډلې لړې لري. خو ډېری وخت د لومړی، دوهېمې او درېیمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. تر ډېره (هره یوه نه) پښېلي (قافيي) بايد د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ یا هي ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي. نیمکۍ ټپې د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. درېیمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته. د هرې نیمکۍ ټپې، د لومړۍ او دوهېمې مسرې څلورمه او اتمه څپه او د درېمې مسرې څلورمه اتمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي. په پیلنۍ، دوهېمې او درېیمې څپې د څلورګونو څپو ټولوالي باندې یې زورنه راځي او یا به د اوزونو ټېټوالي او لوړوالي په بڼه څپه باندې زورنه حس کېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا نیمکۍ ټپې مېچه د ځپیزه او خجیزه ټولوالي سره، سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي.
مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، او یوه دېرشتمې څپې خوږغږي د نیمکۍ ټپې مېچه د ځپیزه او خجیزه ټولوالې ترځنګه د نیمکۍ ټپې یوه بل رغنده توک ګڼل کېږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلي په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسکي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي.
دغه پایني توکونه په یوه پېر کې له دغو درېواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې نهمې، اتلسمې، یوه دېرشتمې زورنې څپې له یوه څه اغېز سره نیمکۍ ټپې ته یوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کې دی شي. غوره سټه د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د نیمکۍ رغښت پنځ کوي، د نیمکۍ غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره نیمکۍ هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې و لري، د دیفتنګونه او پارنویکي سره. خو له ایزې، انګۍ، پتۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کیسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پېیلې)، کیسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هایکویۍ، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلیزۍ، ناپېیلۍ او سلسلۍ.

دې ټولو پېيلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نی برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی و لري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېری بڼه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده دري غونډله ايزه وينا او يادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رټ بېلوالی یا ګړندی فرق یې وکولی شي، ورته ګټلي وي او د ټولو زهني پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی و شي.

خو نیمکۍ ټپه چې درې سره لري ۳۱ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بيا نو ۳۵ څپېزې وي؛ څلور سره نیمکۍ ټپه ۴۴ څپېزې وي، پينځه سره نیمکۍ ټپه ۵۳ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بيا نو ۵۷ څپېزې وي؛ شپږ سره نیمکۍ ټپه ۶۲ څپېزې وي، اووه سرې نیمکۍ ټپه ۷۱ څپېزې او که په اوږدې مسرې باندې شي بيا نو ۷۵ څپېزې وي؛ اته سره نیمکۍ ټپه ۸۴ څپېزې وي؛ نهه سرې نیمکۍ ټپه يې ۹۳ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بيا نو ۹۷ څپېزې وي ( ۴ څپې ډېرېږي او که کوشنۍ مسرې باندې شي بيا ۴ څپې ترې کمېږي) او لس سره نیمکۍ ټپه ۱۰۶ څپېزې وي.

چې تر ټولو غوره يې څلور سره نیمکۍ ټپه ۴۴ څپېزې رانښلولې لړۍ لري، دولس دانې و ويل شي خوند رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکاروندو په ستړه ولاړ راځي؛ ډېرې ښې يې اته سره نیمکۍ ټپه ۸۴ څپېزې وي چې اووه دانې و ويل شي؛ ښې به بيا درې سرې نیمکۍ ټپه دي چې دولس دانې يا شپاړس و ويل شي؛ لږې ښې بيا لس سره نیمکۍ ټپه يا لسيزونې نیمکۍ ټپې دي چې پينځه دانې و ويل شي ښې راځي. دا بيا له څلورو دانو شپږ سره نیمکۍ ټپه سره خوا په خوا ځای نيسي، پرته له غبرګغږونو او پارونويکو .... . څخه.

د څپرونکي ( زما ) نیمکۍ ټپه څپېزه ( څپه، سپلاب، هجا ,, سيليبل Syllable،، د ابېڅو شمېرلو) - خجيزه ( زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسيکي نوټ: د خج نښه: د توري په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او ټېټوالي زور، او ږدوالی، کيفيت ښيي،: ټينګه , لهجه ،: تاکيد: بېلوونکی نښه: د وينا , ځانګړی، خاص او بېل، ډول. :Accent, Morphemel ،،) جوړښت په دې ډول دی:

## ۳ .۶ د نیمکۍ تپې ( پام تپې یا سروکه تپې) څپیزې او زورنې

U؛U-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU
U؛U-UUUU-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU
U؛U-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU

د نیمکۍ تپې ( پام تپې یا سروکه تپې) څپیزې او زورنې لاتیني (یو) ابېڅو لښتېوندي

وي - نم - په - **اور** + بان - دي - سو - **زې** + ږې؛- کنه
وا - یم - و - **اف** + غا - نس - تا - **نه** + کنه

وه - سه - مې - **نه** + شته - څه - که - **څم** + تر - چر - ګۍ - **یه** + مه؛- کنه
وا - یم - و - **اف** + غا - نس - تا - **نه** + کنه

ما - ته - له - **څا** + نه - څي - ني - **ګرا** + نه؛ - کنه
وا - یم - و - **اف** + غا - نس - تا - **نه** + کنه

د نیمکۍ تپې ( پام تپې یا سروکه تپې) څپیزې او زورنې د پښتو ابېڅو لښتېوندي

۱- ۲- ۳- ۴- ۵- ۶- ۷- ۸- ۹-؛۱۰
۱۱- ۱۲- ۱۳- ۱۴- ۱۵- ۱۶- ۱۷- ۱۸- ۱۹
۲۰- ۲۱- ۲۲- ۲۳- ۲۴- ۲۵- ۲۶- ۲۷- ۲۸- ۲۹- ۳۰- ۳۱- ۳۲-؛ ۳۳
۳۴- ۳۵- ۳۶- ۳۷- ۳۸- ۳۹- ۴۰- ۴۱- ۴۲
۴۳- ۴۴- ۴۵- ۴۶- ۴۷- ۴۸- ۴۹- ۵۰- ۵۱-؛ ۵۲
۵۳- ۵۴- ۵۵- ۵۶- ۵۷- ۵۸- ۵۹- ۶۰- ۶۱

د نیمکۍ تپې ( پام تپې یا سروکه تپې) څپیزې او زورنې د پښتو ابېڅو لښتېوندي

په پورتنۍیو درې واړو د لاتیني (یو) ابېڅو لښتېوندي، د پښتو ابېڅو لښتېوندي او د شمېر لښتېوندي بڼه کې نیمکۍ اوډون په پوړیز ډول دی او په پرتو یا غزول شوي بڼه هم کښلی شو، د پښتون پښت یې چې کله په چوپړو کې کښې یا لیکي په دې دواړو بڼو څخه له یوې یې ګټنه اخلي.

په دې بڼه کې لومړی کربښه پیلنی کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لنډی، ټپې، ټیکی او مصری ده چې ځلورمه، ځلورمه څپه یې ډبله (بولډ یا پیړه) شوي. له ټکي لرونکي کامې یا ویرګول څخه ورسته دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې یا کلیمې دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږوي.) دي.

دوېیمه کربښه دوېیمه کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لنډی، ټپې، ټیکی او مصری ده چې ځلورمه، ځلورمه څپه یې ډبله (بولډ یا پیړه) شوي.

درېیمه کربښه درېیمه اوږده مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لنډی، ټپې، ټیکی او مصری ده چې ځلورمه، ځلورمه څپه یې ډبله (بولډ یا پیړه) شوي. کوشنی کربښه دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې دي.

ځلورمه کربښه ځلورمه کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لنډی، ټپې، ټیکی او مصری ده.

پېنځمه کربښه پېنځمه کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لنډی، ټپې، ټیکی او مصری ده؛ کوشنی کربښه دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې دي.

شپږمه کربښه شپږمه کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لنډی، ټپې، ټیکی او مصری ده چې ځلورمه، ځلورمه څپه یې ډبله (بولډ یا پیړه) شوي.

په پورتنیو درې واړو د لاتیني یو ابېڅو لښتبوندي، پښتو ابېڅو لښتبوندي او د شمېر لښتبوندي ځلورمه، ځلورمه لاتیني یو ابېڅو، پښتو ابېڅو او شمېر څپه یې ډبله (بولډ یا پیړه) شوي یانې پرې زورنه ده. چې د څپېزې او زورنې مېچه یا تول واله رغوي.

له ټکي لرونکي کامې (؛) څخه وړاندې یا مخکې څپه ډېرى پېر ترګتوک لري، پښېله (قافیه) وي او هې (ه) په کې لړ ( ردیف) وي.

## ۶. ٤ د نیمکی تپې ( پام تپې یا سروکه تپې) ځمککچپوهنې ( هندسې) رغښت

ځمککچپوهنې ( هندسې) رغښت یې داسې دی:

الف.

ب.

په اې بنه کې نیمکی اوډون په پوړیز ډول دی او په بې بنه د نیمکی کې په پرتو یا غزول شوې بنه دي، چې د پښتون پښت یې چې کله په چوپړو کې کښې یا لیکي په دې دواړو بنو څخه له یوې یې ګټنه اخلي.

په اې (الف) او بې (ب) بنه کې لومړی کرښه پیلنی کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لندی، تپې، ټیکی او مصری ده؛ کوشنی کرښه دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، سټربل، اوسټربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښني، هیبجاني چغې ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلي یا کلېمي دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوروي.)؛ دوېیمه کرښه دوېیمه کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لندی، تپې، ټیکی او مصری ده؛ درېیمه کرښه درېیمه اوږده مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لندی، تپې، ټیکی او مصری ده؛ کوشنی کرښه دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، سټربل، اوسټربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښني، هیبجاني چغې دي؛ څلورمه کرښه څلورمه کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لندی، تپې، ټیکی او مصری ده؛ پینځمه کرښه پینځمه کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لندی، تپې، ټیکی او مصری ده؛ کوشنی کرښه دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، سټربل، اوسټربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښني، هیبجاني چغې دي او شپږمه کرښه شپږمه کوشنی مسره ( کړی، نیمبیتی، نیمبندی) د لندی، تپې، ټیکی او مصری ده.

## ۶. ۵ د نیمکۍ ټپې ( پام ټپې یا سروکه ټپې) سپړنه

د دې نیمکۍ ټپې سپړنه

لومړۍ مسره ۰+ ۹+ ۱ = ۱۰ څپې ده چې ,, کنه ،، دفتنګ او پارنویکی لري.
دویمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده چې ,, ،، دفتنګونه او پارنویکې نه لري.
دریمه مسره ۰+۱۳+ ۱ = ۱۴ څپې ده چې ,, کنه ،، دفتنګ او پارنویکی لري.
څلورمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده چې ,, ،، دفتنګونه او پارنویکې نه لري.
پینځمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده چې ,, ،، دفتنګ او پارنویکی لري.
شپږمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده چې ,, ،، دفتنګونه او پارنویکې نه لري.

دلته ټوله نیمکۍ ټپه ۶۰ څپې ده، دا پنځې شپږ سره نیمکۍ ټپه چارټاکی کړ کنه (ومنه، باور وکړه) لري چې خپله یوه ټړلې څپه ده لکه کال، مور، خور، کور، کټ او خپل یوه څپه دی او یوه واژه څپه لکه اکا ، ابا، زه، ته، بیا نه ده، ورسره دوې څپې هم نه دی، د څپې په ګڼه کې ډېروالی راوړی ولس کې دغبرګغږونه او پارنویکې... . لرغن دود دی او د نیمکۍ ټپې برخه ده.

۱. لومړۍ مسره
۲. دویمه مسره
۳. دریمه مسره
٤. څلورمه مسره
٥. پینځمه مسره
٦. شپږمه مسره
۷. ۲. ۳. ٤. ٥. او ٦. یوه نیمکۍ ټپه ده
۸. زورنه (خجنه) **بولډ**
۹. د اوازټېوالی او لوړوالی خطونه،اهنګ؛ ترنګتوک؛
۱۰. دفتنګونه لري. ,, کنه،،
۱۱. تت اسماني رنګ یې د ښکاروندی دی.
۱۲. د رنګ ښکاروندی دی.
۱۳. نراتو ته منسوبې (اړوند)
۱٤. څپې( سیلابونه)
۱. مسره ۱۰ څپې ده
۲. مسره ۹ څپې ده
۳. مسره ۱۴ څپې ده
٤. مسره ۹ څپې ده
٥. مسره ۹ څپې ده
٦. مسره ۹ څپې ده




د لا ډېرو معلوماتو له پاره ۶. ۷ مخلیک و ګورئ.

**۶. ٦ دوېیمه ډله نیمکۍ تپه: اې ,, ا ،،:. د ځېرونکي شپږ سره نیمکۍ تپه دي چې سر لیک یې دی اه؟؟.**

- ما ته لـه ځانــه ځنـې ګـرانه؛ کنـه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه
- وینم په اور بانـدې سـوزېږي؛ کنه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه
- وسه مې نه شته ځکه ځم تر چرګی یمه؛ کنـه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه
- ما ته لـه ځانــه ځنـې ګـرانه؛ کنـه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه
- ستا مختورن ګاوندیان مړه شـه؛ کنه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه
- اوبه بانه کړي جام د زهـرو درکوینه؛ کنـه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه
- ما ته لـه ځانــه ځنـې ګـرانه؛ کنـه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه
- زه به چمبېل ګلونـه کښت کړم؛ کنه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه
- هره نوده به یې په اوښـکو اوبه کړمه؛ کنـه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه
- ما ته لـه ځانــه ځنـې ګـرانه؛ کنـه
- وایم و افغانســـــــتانه کنـه

- شپې په شپبو شپبو کړم تېري؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- چې ارامۍ ساعت پر تا کله راځینه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځنې ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- چې درته سمه توجو کړم؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- هریو سوسیس مې له چړې نه تېره وینه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځنې ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- اذان ښادې باندې ولاړوم؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- تولې پښتې کې د بچو ویورنه وه نه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځنې ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- ما د هېلمند سیند ته کتلي؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- په خاموشۍ کې مو له ځنګه تېرېده نه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځني ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- پرېښږده چې مر دلته بهیږم؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- په وینو رنګ مې ګاونډیانو کړه ځمه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځني ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- واړه د ستر ګوزړو له لاسه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- راته په زړه کې یې د وینو ځلبر کړه نه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځني ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- سور سمندر منځ کې روان یم؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- بې نومه خاښکې کجکې وکړمه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځنې ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- هربچی خپل مور ته ناري کړي؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- د کجکي سیند نه د وینو بوی راځینه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځنې ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- ستا د د فاع بچي یې حلال کړه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- چې کال کلو پورې یې اوبه په وینو شینه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځنې ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- ولې به نـه ژاړم مـورجاني؛ کنه
- وایم و افغانســــــــتانه کنـه
- ځنګي یې رنګ په رنګ لـه تېغه تېروه نه؛ کنـه
- وایم و افغانستانه کنـه
- ما ته لـه ځانــه ځنـې ګـرانه؛ کنـه
- وایم و افغانســــــــتانه کنـه

- ستا د بچو سرونه یې پـرې کړه؛ کنه
- وایم و افغانســــــــتانه کنـه
- ګلـدان تحفـه یې پنجابي ته ورکوینه؛ کنـه
- وایم و افغانســــــــتانه کنـه
- ما ته لـه ځانــه ځنـې ګـرانه؛ کنـه
- وایم و افغانســــــــتانه کنـه

- پرېږده چې ښــې بـلا وکانـدي؛ کنه
- وایم و افغانســــــــتانه کنـه
- نادان بچي دي د دښمن په لمسـون دینه؛ کنـه
- وایم و افغانســــــــتانه کنـه
- ما ته لـه ځانــه ځنـې ګـرانه؛ کنـه
- وایم و افغانســــــــتانه کنـه

- ځان سره تل په ژړا ژاړم؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- د یهودي لمسی د دین تیکه دارشونه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځني ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- خدایه اسلام دښمن برباد کړي؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- چې په هررنګ جامه کې وي هلال دي شینه؛کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځني ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

- ټول د فردوس تیکه داران شو؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- جوړ ټیکټونه یې په رنا ورځې پلورینه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه ځني ګرانه؛ کنه
- وایم و افغانستانه کنه

د ازان غونډۍ په سر، د سنګین ولسوالی، هیلمند
‹‹Roshan BTS site HLM۰۱۰, ۱۸/ ۰۱/ ۲۰۰۷ , pm ۳: ۰۰
( صفي الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۳۲۴ چوپړی)

**۶. ۷ دوبیمه ډله نیمکۍ ټپه: اې ,, ا ،،:. د ځېړونکي ځرګندول چې رونوي کتنه داسې. د ځېړونکي نیمکۍ ټپه ( پام ټپه، سروکه ټپه) په لاندې بڼه لورى موړ ته په لاس راکوي لکه:**

۱. نیمکۍ لنډۍ له لنډۍ ځخه رغښت مومي، نیمکۍ ټپه له ټپې ځخه او نیمکۍ ټیکۍ له ټیکۍ ځخه او نیمکۍ مصرۍ له مصرۍ ځخه.

۲. نیمکۍ لنډۍ د لنډۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوى روغ تکرارېدلى کوښښ دى؛ نیمکۍ ټپه د ټپې پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوى روغ تکرارېدلى کوښښ دى؛ نیمکۍ ټیکۍ د ټیکۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوى روغ تکرارېدلى کوښښ دى او نیمکۍ مصرۍ د مصرۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوى روغ تکرارېدلى کوښښ دى.

۳. تر ټول غوره بڼه د نیمکۍیو موړ ته په پوخ کې کوي چې شپږ سره لري.

٤. ځومره والى د نیمکۍیو موړ ته په پوخ کې کوي چې اته لس دانې دي او هر یوه یې شپږ مسرې لري.

۵. زورنې یې په ځلورمه، ځلورمه ځپې دي، خو ټولیز پایخج یا پاینۍ زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې ده او د مخنۍیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې تر سیورې لاندې کمزورې پاتې شوي دي. د ځلورګونو ځپو ټولوالې ځخه یې په د هرې ځلورو ځپو کې په ځلورمه ځپه زورنه ده. لومړۍ مسره کې په ځا او ګرا؛ دوبیمه مسره کې په اف او نه کې راغلې دي؛ بل لورې ته ,, نه او کنه ،، ترنګتوکونه دي، دواړه مسرې ۹، ۹ ځپېزه دي لکه د ټپې لومړۍ مسرې په بڼه دي خو ټولې مسره لکه د ټپې پیلنۍ مسرې په شان ترنګتوک ساتلى شي، اه – هه (هو) داسې روغ راځي، هن ( دا دى) چې په پیلنۍ مسره کې ,, کنه،، لارغه بڼه پیستون لري او په دوبیمه مسره کې د یوه وت په اندازه شتون لري. کنه د ویناو ابنتي او تینګار وییکي په توګه کارول کېږي، خو د نورو وییکو په توپیر د غونډلې په سر کې نه، بلکې په پاى کې راځي.

که جلا ولیکل شي کړولي وګرنه ,, جاج،، ښندي چې د ګڼې ( لکه چارټاکی کړ: ګڼه ,, ومنه، باور وکړه، که نه، ګڼې ) یوه مانا همداسې ده او بله یې ګوندې سره برابره ده. د ټپې مسرې سره سرباري، منځ باري، بېخباري په لوړ غږ ساتل کیږي، دا نو یوازې په ساز او اواز کې څپرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبني ډګره نور راوځي.

٦. د نیمکۍ پېیلې پېنځګوني رغنده توکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې په نیمکۍ، پام او سروکه بنه شتون لري.

٧. نیمکۍ ټپه مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بنه او لاربسوده مخبېلګه ده. له ژبني پلوه لږ تر لږه شپږ یا زیاتې غونډلې را اخستي، خو څپې یې له ټاکلي شمېر ۹ څخه تېرې نه دی کړی او زورنې یې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېری نه دی کړی، دغه توکي لري. دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناټروییکي، ټروییکي، سټربل، اوسټربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، چې په دې نیمکۍ ټپې کې شتون لري او په پام کې یې هم راولو. بېلابېل وییکي لکه هن ( دا دی، ګوندې، کاشکې، ګنې)، چک ( نه)، هډو ( هېڅ ) کنه ( ګڼه، ومنه، باور وکړه، که نه، ګڼې) د چارټاکي کړ په بنه، دوېیم کنه (ګوندې) ټینګار وییکي دی. په پیلنۍ مسره کې کنه چې یوه ترلې څپه ده په مسرې کې یوه وۍ ده چې ټوله ۹ څپې مسره یې رغولې، او په دوېیمه کې هم ,, کنه،، د کسر په بنه راغلې چې ماته شوې ده او ۹ څپې مسره ده چې ترنګتوک یې په ځوړ دی؛ البته په هغې کې هم په ځوړ دی.

چې په ربښت کې لومړۍ مسره ۹ څپې ده او په لارغه ( پیوستون، مکث، مکثه) نه کیږي. بل لوري ته لارغه، وت او کسر درې واړه په کې راغلي، چې کسر ( ماتیدنه، درز، برخه، ډله، فراکسیون ,, په ګوند کی دننه کوچنۍ ډله،، (Fraction, Deficit, Detraction, Depreciation او مطلع ( Opening) وت ( واټن، فاصله pace, Interval, Distance, Break, (Ravine, Interstice, Chasm, Hiatus ته وایو، کنه اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي، پاینی ۲ مسرې چې سروکی دی ۱۹ څپې، د نیمکۍ کسر (مطلع) یا یې وګڼو چې لومړۍ یوه کسر ( مطلع) لري او ورپسې یې هره ټپه

بندونه دي، کسر يې له دوې لنډو مسرو څخه جوړ دی، چې بیا د پښېله يې تړون له مخې له هر بند سره ځای، ځای يا ټول تکرارېږي. پورتنۍ دوې مسرې چې له ټپې ورسته راشي يا بېخباري شي نه سرباري نو غوره سپينې ته راوځي. دا نو داسې نه ورته نه شو ويلی چې دواړه پيلنۍ مسرې دوې تکراري لړ والې مسرې دي چې دواړه يې يو لړ دی. په ټول برابرې نه دي خو د پښتو خوږ وګړنې پېيله ده خوږ غږ لري، او تر ټولو همدا لړونه او بېخباري وييکی د هرې ټپې له دواړو مسرو څخه ورسته تکرارېږي ( منځباري او بېخباري کېږي)، چې لومړی بند يا رښته نيمکۍ ټپه شپږ سره لري. لومړی سر يې د ټپې د سره پيلنۍ مسره ده ۹+۰ څپې؛ دوېيمه مسره د نيمکۍ منځ باري ده، ۹څپې؛ درېيمه مسره د ټپې دوېيمه مسره ده ۱۳ +۱ څپې؛ څلورمه او شپږمه مسره بيا همغه دوېيمه مسره ده ۹ څپې د نيمکۍ بېخباري تشه يا خلاصه يا مطلع مسره ده او پينځمه مسره ۹+۰ څپې ده. چې نوموړې نيمکۍ ټپه شپږ لارغې لري، ۶۰ څپې ده، چې په ټوله کې ۱۸ دانې شپږ سره نيمکۍ ټپې (۱۸*۶۰ +۱۹ = ۱۰۸۰ +۱۹= ۱۰۹۹) څپې کېږي. د ورډ پوستکالي (New Microsoft Word Documents) له پامه نوموړې نيمکۍ ټپه؛ په ۵ چوپړو (Pages) کې ده؛ ۶۳۲ ويکي (Words) لري؛ ۲۶۹۱ دانې يې وت نه يا پرته له وته د ابېڅو ځای نيونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نيونه ,, د ابېڅو، اونورو،، پرانټ.،، (,, Characters ‹‹no Spaces )؛ ۳۵۹۳ دانې منشوره يې له وت سره دي (,, Characters ‹‹with Spaces )؛ ۱۱۰ پراګرافه (Paragraphs) دي او ۲۵۳ لينو (lines) کې کښل شوې دي له ليکي هرپۍ، لاندنۍ يادونې او پاينۍ يادونې سره، سره ( Include .(Textbox, Footnotes and Endnotes

۸. د رنګونو ښکاروندی يې تت اسماني ( Color model: RGB, Red:۱۵۷, Green: ۱۹۵, Blue:۲۳۰) دی. د لښتيليک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پينځه څلوېښتو پښتو شعرونو او يوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېرديز لمريز کال په ستنه ۳۲ ګڼه دی.

۹. د نيمکۍ پنځه له هغې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کېږي چې منځه ( هسته) وي. چې ځانګړې ځانګړنې يې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او يا مصرۍ ته ورته وي؛

د نیمکۍ نوموړې منځه موږ په خپل رنګ یې چې د نیمکۍ رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني دی، په تت اسماني یې ښکو او چې سرباري، یا ببخباري یا تکراري مسرې یې هم تت اسماني رنګ لري. د دې له پاره تر ډېره پورې دا سرک موږ ته په لاس راکوي چې د نیمکۍ پنځې منځه وي. او ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لنډۍ ته منسوبې وي، یا ټپې ته منسوبې وي، یا ټیکۍ ته منسوبې وي او یا مصرۍ ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې پاتې کېږي. له دې څخه یې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا نیمکۍ؛ نیمکۍ لنډۍ ده، که نیمکۍ ټپه ده، که نیمکۍ ټیکۍ ده او که نیمکۍ مصرۍ ده. له دې سره سم دا نیمکۍ ټپه ده.

۱۰. د نیمکۍ ټپې پېیلن ختیځ لومړي نمبر څېړونکي صفي الله فردوس خان ټولې په ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړې کړي ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقي ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي. هره یوه نوې ګډوله رغولې چې د نوي ټپې سکالو ځانګړنې، نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی. او هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوې او د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لري. له ټپې یې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړنې پېیلو څخه روغې ګډوله شوې نه دي. دا به داسې ښکارېږي چې پنځي , طبيعي، دي او مصنوعي, دیسي او شلخي، نه دي.

۱۱. د دې نیمکۍ ټپې پېیلن د پښتو ژبې لېوال دی، ځېک تن دی، د لغمان یوه ښه نیک نومه وګړی دی چې ډېری شعرونه یې په پښتو ادب پنځي , طبيعي، او یوه دمي پوښلې دي. د زهن د نیمکۍ ټپې زېږندې یې له ټاټوبي سره لوړه لېوالتیا حس؛ ټاټوبي ته رښتنیتوب؛ سوسیسی رېښې پرې کولو؛ خپلو ساتونکو روزنه او پالنه؛ زېمه؛ کهول او پښت ټاټوبي د سرغوندویتوب کېدلو؛ ټاټوبي ګالنه؛ د وګړو بویه او پښتونواله پاتې شونې پربړ دي. بل لوري ته دا د دې له پاره نه بوړوم چې ځانمني ستاین شي، په ټوله کې د دې له پاره ده چې د نورو پېیلنو د پېیلو له پاره ترې په لرلید ګټنې واخستل شي.

۱۲. د دې نیمکۍ ټپې د زوکړې موده لکه څنګه چې زه وایم داسې ده: ,, د ازان غونډۍ په سر، سنګین ولسوالۍ، هېلمند ولایت کې ماسپښین ۰۰:۳، د ۱/۱۸/ ۲۰۰۷ لېږدي کې مې کښلې وې ،،( صفي الله ، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۲۴ چوپړی) د دې نیمکۍ ټپې چې سرلیک یې اه؟؟ ده؛ داسې ده، بویه چې د تالبانو په غوښتنه موساکلا، سنګین، کجکي، ناوې او نادالي د روشن غوړکي ټولوالي ښادو د ځای پرځای کولو او ګټنې اختسلو له پاره غوښتې وو. تر څلوېښتو ورځو پورې همغلته وو، یوه وار د موساکلا، سنګین او کجکي ګډې ولسوالۍ کرښې څخه چې ازان غونډۍ ورته وایي او تر ډېره یې د سنګین ولسوالۍ پای بولي. د خپل کار له پاره د ملا باقي غونډۍ موساکلا څخه لاړلو د ازان غونډۍ ته چې الته مو ایچ ایل ایم ټکی لسمه ګڼه ۶۰ متره ښادې سایټ و، الته مې یوه ضیاوالله صافی نومي تخنیکي ماهر راته و ویل، راځه اېنجینېر صیب داسې تالب درته وښیم چې ۱۵ تنه د افغانستان ملي اوردو ساتونکي یې په خپله چاړه حلال کړي دي؛ دغلته یې په تېرو باندې وینې اوس هم شته، ویډیو به یې هم درته و ښایم، راغلی دی وایي موږ سره پاتې شئ د ماذیګر چای به وڅښئ او شپه به هم وکوئ، حاجي فیض محمد یې نوم دی.

ما ورته و ویل ضیا والله!!: ورته و ویه کار مو ډېر دی، بیا به وګور، و یې لېږه، خو شپه به ډاکټر ایمل دي کره و کړو د هغه په کلینیک کې چې د ازان ټېټنګ نه هغې لوري دی. ویل یې سمه ده، ما ورته و ویل، چې ا.م.ا ساتونکي یې ولې وژلي؟ هغه راته ویل دا ټول ستاسو د ځای ول او لامبووهنکي وو، دوی دوې اختره کجکي ولسوالۍ بیس کې تېر کړي وو، دربیم اختر ته یې هم رخصت نه ورکوو، اېنګلېسان په کتار کې لاړل، دوی یې نه پرېښو دل ځان په سې، سل یا دوې سوه تنه وو، هغه ډډه کې په غره کې پټ شول اېنګلېسان او تالبانو ټول چې دوی پلی مزل کووه خپلو خښتو کې وو بې وسلو هم وو له خپلې پوځي ځای څخه تښتېدل تالبانو ونیول او دغو ۱۵ تنه لامبو هم زده وه چې د هېلمند له سین څخه دې غاړې را تېر شول او د ده کور ته یې پنا را وړه، هغه ټول هغوی الته د سین په غاړه کې ترې سرونه پرې کړه، او ویډیو ګانې یې پاکستان ته ولېږلې او ده دلته له دوی ۱۵ تنو څخه په خپلې چړې سرونه پرې کړه او ویډیو ګانې ترې وباستلې او پاکستان ته یې ولېږلې چې بیا د تن پر سر ورته وجوره ورکړي، چې په ثبوت ورته څه ورانده نه کړي، هغه لږې پیسې چې ور کوي هغه هم بیا نه ورکوي.

او باوري ملګري یې نه ګڼي کنه!!!. زه ترې ښادې ته پورته شوم او د ښادې ۳۰ مېتري لوړې ناسته کې یې کېښناستم او هغه لور دغه لور مې کتل، د درې واړو ولسوالیو، د هېلمند د غلې سین نداره مې کوله او دا نیمګړې ټپې مې له زهن څخه تېرې شوې. او په غلي غږ مې و ویلې، دا د دغه ستر ناورین چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځې زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې( تخلیق،) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

۱۳. د ژور پام کونکي په ښه زه د لیک دود نخښې لکه: د نیمګړې لنډۍ، نیمګړې ټپې، نیمګړې ټیکۍ او نیمګړې مصرۍ په هره مسره کې د چپه پېښ ،، ،: Comma کامه، دغه (،) نښه چې جملې او کلیمې سره بېلوي، ویرګول. ،،؛ ندایه ,,!Exclamation: چیغه، کریکه، د تعجب نه ډکه چیغه. که !! شي دوې برابره او که درې !!! شي درې برابره لوړه چیغه ،،؛ پوښتنې نخښه ,, ؟ Question Mark: تپوس نخښه: پلټنه اعتراض نخښه: شك نخښه: پیشنهاد نخښه: پوښتل نخښه، تپوس کول نخښه: شك کول نخښه: مناقشه کول نخښه، غوښتنې نخښه، وړاندیز نخښه. ،،؛ اندره ,, (:) colon: شارحې نخښه، د لوبې کولمې یوه برخه. ،،؛ ټکی لرونکي کامه ,, (؛) Semicolon: بېلوونکې نخښه، هغه نخښه چې د جملې ملاتیر یا فقرې سره جلاکوي. ،،؛ شمېره ,, (#) Number: ګڼه، عدد، ګڼ ( = حساب )،،؛ را اخستنه ,, (,, ،،) : Right left double quotation mark را اخستنه، نقل، اقتباس. ،،؛ دوې لېندۍ ,, ( ) Superscipt right left parenthesis : د پاسه لیکل، لکه د نامه، ادرس یا نور، اځځوک، معترضه جمله، دوې لیندۍ، قوسونه. ،،؛ د اتصال ,, - hyphen minus: ګډکېدو نخښه، یوه ځای کېدو نخښه. ،،؛ ټکی ,, . full stop: پنډول، پریړول، ډك، بشپړ، مفصل، ترټولو ټېټه کچه او تر ټولو لوړه کچه ( اکثر حد او اعظمی حد). ،،؛ ریښکی ,, Tab: کړی، کارت چې د شي بیبه یا نوم پر لیکل شوی او پر بکسونو، کالیو یا نورو باندې ځړول کېږي، حساب ( په بانك کی ). ،،؛ سر لیک ( عنوان، سرلیکنه یا سر خط)؛ سر لیکنه (سر لیک یا سر مقاله)؛ سر لیکه (سردړه، سرلوحه، بورډ) او سرمخ ( سر چوپړی یا سر صفحه) په بشپړه تو ګه کارونه اړینه بولم. په خپل لیکي کې کښنم چې د غبرګغونډلو، پارنویکو، د هرې مسرې ښکاره کېدل څرګند کړي او بېلوالی یې سپینې ته راوباسي.

**۶. ۸ دوبیمه ډله نیمکۍ ټپه: بې ,, ب ،،:. د څېړونکي شپړ سره نیمکۍ ټپې دي چې سر لیک یې دی ,, ګنهکار، ګنهکار:.**

- ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
- بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

- یار په ولاړه کړیکه و کړه
- ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
- بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي
- تېر شوی عمر په ډالرو نه راځینه
- ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
- بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

- له مهترلام پېښې لوڅې راغلم
- ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
- بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي
- غاړه غاړۍ له پردي ملک راځه مینه
- ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
- بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

- ته په ښایسته ډمبر ګرځېږه
- ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
- بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي
- زه په خامه کشونو ځم لیونی شومه
- ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
- بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

▲ ستا رنګ انـار غـوندې ښکارېږي
▲ ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
▲ بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي
▲ زما دې رنګ د برنځې پانه واړه ونه
▲ ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
▲ بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

▲ زه دې رمـتـه لـېونـۍ کړم
▲ ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
▲ بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي
▲ مينه دې واخله ما په خپل خيال کـړه مينه
▲ ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
▲ بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

▲ ستا لـه اوبـښـتو سـترګو ځار شم
▲ ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
▲ بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي
▲ په دا زرغونه سـيمه يې سـاری نه وينمه
▲ ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي
▲ بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

- دا ســترګي ما وژني جانانه
- ګنهکار، ګنهکار چي په بل وطن کي دي
- بختور، بختور چي په خپل وطن کي دي
- چي ترمي اوښکي يي سهار کي و وینمه
- ګنهکار، ګنهکار چي په بل وطن کي دي
- بختور، بختور چي په خپل وطن کي دي

- محضي په خوله ربنتيني وايي
- ګنهکار، ګنهکار چي په بل وطن کي دي
- بختور، بختور چي په خپل وطن کي دي
- راځه د زړه خوالي و کاندو مرګ راځينه
- ګنهکار، ګنهکار چي په بل وطن کي دي
- بختور، بختور چي په خپل وطن کي دي

- فردوسه خپل کالـه ته راشـه
- ګنهکار، ګنهکار چي په بل وطن کي دي
- بختور، بختور چي په خپل وطن کي دي
- عمر دي تـول مسافرۍ و خوړ مينه
- ګنهکار، ګنهکار چي په بل وطن کي دي
- بختور، بختور چي په خپل وطن کي دي

**۶. ۹ دوېیمه ډله نیمکی ټپه: بې ،، ب ،،:. د ځېړونکي څرګندول چې رونړوي کتنه داسې. د ځېړونکي نیمکی ټپه ( پام ټپه، سروکه ټپه) په لاندې بڼه لوری موږ ته په لاس راکوي لکه:**

۱. نیمکی لنډی له لنډی څخه رغښت مومي، نیمکی ټپه له ټپې څخه او نیمکی ټیکی له ټیکی څخه او نیمکی مصری له مصری څخه.

۲. نیمکی لنډی د لنډی پیلنی او پاینی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ نیمکی ټپه د ټپې پیلنی او پاینی مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ نیمکی ټیکی د ټیکی پیلنی او پاینی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی او نیمکی مصری د مصری پیلنی او پاینی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی.

۳. تر ټول غوره بڼه د نیمکۍیو موږ ته په پوخ کې کوي چې شپږ سره لري.

٤. څومره والی د نیمکۍیو موږ ته په پوخ کې کوي چې نهه دانې دي او هر یوه یې شپږ مسرې لري.

۵. زورنې یې په درېیمه، درېیمه څپې دي، خو ټولیز پایخج یا پاینی زورنه یې ترټولو پیاوړې نه ده راغلې او د مخنۍیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستی غونډلې تر سیوري لاندې کمزورې پاتې شوي نه دي. خو د یې غبرګغږ یې ترګتوک ساتي، د څلورګونو څپو ټولوالې څخه یې د هرې څلورو څپو کې په درېیمه څپه زورنه ده. لومړی مسره کې په کار، چې او کې؛ دوېیمه مسره کې په ور، چې او کې راغلي دي؛ بل لوري ته ,, نه ،، ترنګتوک ترې پاتې شوی دی که ورسره ګډ یې کړو نو دواړه ۱۳ څپېزه مسرې کېږي خو ټوله مسره لکه د لنډی دوېیمې مسرې په شان ترنګتوک نه شي ساتلی. چک (نه) داسې روغ نه راځي، هن ( دا دی) چې ۱۲ څپېزه غوره راځي او د لنډی مسرو سره سرباري، منځ باري، بېخباري په ځوږ غږ ساتل کېږي، دا نو یوازې په ساز او اواز کې ځېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبني ډګره نور راوځي.

۶. د نیمکۍ پېیلې پېنځګوني رغنده توکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې په نیمکۍ، پام او سروکه بنه شتون لري.

۷. نیمکۍ تپه مېچه د څپیزه او خجیزه تولوالي ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بنه او لاربنوده مخبېلګه ده، له ژبني پلوه لږ تر لږه لس یا زیاتې غونډلې را اخستي. خو څپې یې له ټاکلي شمېر ۱۳ څخه تېرې کم کړی او زورنې یې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېرې نه دی کړی، دغه توکي نه لري. دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناترویيکي، ترویيکي، ستربل، اوستربل، پارنویيکي، بلنویيکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، چې په دې نیمکۍ تپې کې شتون نه لري او په پام کې یې هم نه راولو.

چې په ربښت کې نوموړې مسره ۱۲ څپې کېږي او په لارغه ( پیوستون، مکث، مکثه) کېږي، بل لوري ته لارغه، وت او کسر درې واړه په کې راغلي. چې کسر ( ماتیدنه، درز، برخه، ډله، فراکسیون ,, په ګوند کی دننه کوچنۍ ډله،، (Fraction, Deficit, Detraction, Depreciation او مطلع ( Opening) وت ( واټن، فاصله pace, Interval, Distance, Break, Ravine, Interstice, Chasm, Hiatus) ته وایو، له لومړی مسرې سره بختور لارغه دی، دوېیم بختور سره وت دی او دی کسر دی. بویمه، اړېنه ده، په چار ده چې د تپې دوېیمې مسرې په بنه را نه شي، ځکه ۱۲ څپې او ۱۲ په دې کې دوې غبرګغونډلې د لنډۍ، تپه، ټیکۍ او مصرۍ له پیلنۍ او پاینۍ مسرې سره کسر څرګندېږي، برابر راځي او اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي. پاینۍ ۲ مسرې چې سروکی دی ۲۴ څپې، د نیمکۍ کسر (مطلع) یا یې و ګنو چې لومړی یوه کسر ( مطلع) لري او ورپسې یې هره تپه بندونه دي، کسر یې له دوې اوږدو مسرو څخه جوړ دی، چې بیا د پېنېله یې ترون له مخې له هر بند سره ځای، ځای یا تول تکرارېږي. پورتنۍ دوې مسرې چې له تپې ورسته راشي یا بېخباري شي نه سرباري نو غوره سپینې ته راوځي.

دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی چې دواړه پیلنۍ مسرې دوې تکراري لړ والي مسرې دي چې دواړه یې یو لړ دی.

او تر ټولو همدا لړونه د هرې ټپې له دواړو مسرو څخه ورسته تکرارېږي (منځباري او بېخباري کېږي)، چې لومړی بند یا ربښته نیمکۍ ټپه شپږ سره لري؛ لومړی سر یې د ټپې د سره پیلنۍ مسره ده ۹ څپې؛ دوبیمه او دربیمه مسره د نیمکۍ منځ باري ده،۱۲څپې؛ څلورمه مسره د ټپې دوبیمه مسره ده ۱۳ څپې؛ پېنځمه او شپږمه مسره بیا همغه دوبیمه او دربیمه مسره ده ۱۲ څپې، د نیمکۍ بېخباري تشه یا خلاصه یا مطلع مسره ده چې نوموړې نیمکۍ ټپه شپږ لارغې لري، ۷۰ څپې ده.

چې په ټوله کې ۹ دانې شپږ سره نیمکۍ ټپې ( ۹* ۷۰ + ۲۴ = ۶۳۰ + ۲۴ = ۶۵۴) څپې کېږي.

د ورډ پوستکالي (New Microsoft Word Documents) له پامه نوموړې نیمکۍ ټپه، په ۳ چوپړو (Pages) کې ده؛ ۴۱۶ ویکي (Words) لري؛ ۱۴۶۴ دانې یې وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نیونه ,, د ابېڅو، اونورو،، پرانټ.،، (,, Characters ‹‹no Spaces )؛ ۱۹۵۷ دانې منشوره یې له وت سره دي (,, Characters ‹‹with Spaces )؛ ۵۶ پراګرافه (Paragraphs) دي او ۱۲۵ لینو (lines) کې کښل شوې دي له لیکي هرپۍ، لاندېنۍ یادونې او پاینۍ یادونې سره، سره ( Include (Textbox, Footnotes and Endnotes.

۸. د رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني ( Color model: RGB, Red:۱۵۷, Green: ۱۹۵, Blue:۲۳۰) دی. د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سټه ۳۲ ګڼه دی.

۹. د نیمکۍ پنځه له هغې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کېږي چې منځه ( هسته) وي، چې ځانګړې ځانګړنې یې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او یا مصرۍ ته ورته وي، د نیمکۍ نوموړې منځه موږ په خپل رنګ یې چې د نیمکۍ رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني دی، په تت اسماني یې ښکو او چې سرباري، یا بېخباري یا تکراري مسرې یې هم تت اسماني رنګ لري.

د دې له پاره تر ډېره پورې دا سرک مور ته په لاس راکوي چې د نیمکۍ پنځې منځه وي. او ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړې کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لنډۍ ته منسوبې وي، یا ټپې ته منسوبې وي، یا ټیکۍ ته منسوبې وي او یا مصرۍ ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې پاتې کېږي. له دې څخه یې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا نیمکۍ؛ نیمکۍ لنډۍ ده، که نیمکۍ ټپه ده، که نیمکۍ ټیکۍ ده او که نیمکۍ مصرۍ ده. له دې سره سم دا نیمکۍ ټپه ده.

۱۰. د نیمکۍ ټپې پېیلن د ختیځ لومړی نمبر ځېرونکي صفي الله فردوس خان ټولې په ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړې کړې ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلي دي. هره یوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې نیمکۍ ټپې سکالو ځانګړنې، نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی. هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوې او د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لري. له ټپې یې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړنې پېیلو څخه روغې ګډوله شوې نه دي. دا به داسې ښکارېږي چې پنځي , طبیعي، دي او مصنوعي, دیسي او شلخي، نه دي.

۱۱. د دې نیمکۍ ټپې پېیلن د پښتو ژبې لېوال دی، ځېګ تن دی، د لغمان یوه ښه نیک نومه و ګړی دی چې ډېری شعرونه یې په پښتو ادب پنځي , طبیعي، او یوه دمي پوښلي دي. د زهن د نیمکۍ ټپې زېږندې یې له مېنې سره لوړه لېوالتیا حس، ټاټوبي ته د راستنېدو، مسافرۍ رېښې پرې کولو، خپل شته، زېمه، ودانۍ، کهول او پښت ټاټوبي د سرغوندویتوب کېدلو، خوږ ژوند ګالنه، په باندنۍیو هېوادونو کې د پټو کارونو پایکولو، د وګړو وېښونه او پښتونواله پاتې شونې پربړ دي. بل لوري ته دا د دې له پاره نه بوږوم چې ځانمني ستاین شي، په ټوله کې د دې له پاره ده چې د نورو پېیلنو د پېیلو له پاره ترې په لرلید ګټنې واخستل شي.

۱۲. د دې نیمکۍ ټپې د زوکړې موده لکه څنګه چې زه وایم داسې ده: ,, کره موده یې راته معلومه نه ده خو په ۲۰۱۰ لېږدي کې شونې ده چې کښلې مې وي ،، ( صفي الله ، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۳۱ چوپړی )
د دې نیمکۍ ټپې چې سرلیک یې ګنهکار، ګنهکار ده داسې ده چې ګواکې د واده په کال مې خپلې مېرمنې سره په خبرو اترو کې کښلې وي، له ټاټوبي د باندې په درې باندنۍیو هېوادو کې وم ازبېکستان سمرکنډ، بخار، تاشکند کې، یا پېښور کې او یا د پاکستان لاهور ټون شیټ کې، یا به مې د تورکمنستان او ایران په سرحدونو کې کښلې وي یا به مې په درې ولایتونو کې، کابل خوشحال خان مېنه کې، فاریاب له لسو په یوې ولسوالۍ کې، غزني ډه یک بیس کې خو ډاډ من نه یم کره ځای او وخت مې پام کې نه شته، دا ده جلاوتنی، مسافرۍ چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځي زېږنده ده، له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

۱۳. د دې نیمکۍ ټپې وخت موده چې باچاخان لغماني په ننګرهار کې په پېنځه نۍ د ډیسمبر میاشت په ۲۷ د ۲۰۱۸ زېږدي کې ورسته له وخته یا ماسپښین ۲:۴۶:۴۲:۰۰ کې ثبت کړې ده، دوباره ویلې.

وخت : (وخت ټاکل، نېټه اینودل: پرسور برابرول: مهال: د موسیکي شیبه: پروخت، پرټاکلي وخت.). :.   ۰۰:۰۸:۳۵:۲۵ ( رپه: ثانیې: دکیکې: ساعته) په وخت کې ویلې دي.

دوباره نوموړي نیمکۍ ټپه استاد باچا خان لغماني په پېښور ښار کې د وقار په سټیډیو کې د کاستوري سر په غرنۍ غاړو کې ویلې دي. په پېنځه نۍ د جنوري میاشت په ۲۴ د ۲۰۱۹ زېږدي کې ورسته له وخته یا د شپې ۱۱:۲۵:۱۷:۰۰ کې ثبت کړې دي، چې د پورتنۍ نیمکۍ ټپې لومړۍ نېمکۍ ټپه، بیا پېنځمه نیمکۍ ټپې، بیا یې په منځ کې یې زما درې مصرۍ او یوه د نیکمۍ لنډۍ سرباري مسرې ویلي ( وه!؛ په لغمانیانو کې مې خوښ کړې- راځه راځه پردیه زه دې خپله ومه؛ چې د وصال په خیال کې جوړ کړم- بېلتون ظالم مې سم دستي په منځ کې شینه؛ ستا د اوبښتو سترګو ځار شم- په دا زرغونه سیمه یې سارۍ نه وینمه؛ د سرخکان او تیرګړو له پلو ور واوړه - ماته له لغمانه اوړۍ راوړه ,, بل سورکۍ،،) بیا یې درېیمه نیمکۍ مصرۍ او په پای کې یې نهه مه نیمکۍ مصرۍ ویلې ده.

وخت : (وخت ټاکل، نېټه ایښودل: پرسور برابرول: مهال: د موسیکي شیبه: پروخت، پرټاکلي وخت.). :. ۰۰:۰۶:۱۳:۲۷ ( رپه: ثانیې: دکیکې: ساعته) په وخت کې ویلې دي.

۱۴. د ژور پام کونکي په بڼه زه د لیک دود نخښې لکه: د نیمګړ لنډۍ، نیمګړ ټپې، نیمګړ ټیکۍ او نیمګړ مصرۍ په هره مسره کې د چپه پېښ ,, ،: Comma کامه، دغه (،) نښه چې جملې او کلیمې سره بېلوي، ویرګول. ،،؛ ندایه ,,!Exclamation: چیغه، کریکه، د تعجب نه ډکه چیغه. که !! شي دوې برابره او که درې !!! شي درې برابره لوړه چیغه ،،؛ پوښتنې نخښه ,, ؟ Question Mark: تپوس نخښه: پلټنه اعتراض نخښه: شك نخښه: پیشنهاد نخښه: پوښتل نخښه، تپوس کول نخښه: شك کول نخښه: مناقشه کول نخښه، غوښتنې نخښه، وړاندېز نخښه. ،،؛ انډره ,, (:) colon: شارحې نخښه، د لویې کولمې یوه برخه. ،،؛ ټکی لرونکې کامه ,, (؛) Semicolon: بېلوونکې نخښه، هغه نخښه چې د جملې ملاتیر یا فقرې سره جلاکوي. ،،؛ شمېره ,, (#) Number: ګڼه، عدد، ګڼ ( = حساب ) ،،؛ را اخیستنه ,, (,, ،،) : Right left double quotation mark را اخستنه، نقل، اقتباس. ،،؛ دوې لېندۍ ,, ( ) Superscipt right left parenthesis : د پاسه لیکل، لکه د نامه، ادرس یا نور، اخځوک، معترضه جمله، دوې لیندۍ، قوسونه. ،،؛ د اتصال ,, - hyphen minus: ګډکېدو نخښه، یوه ځای کېدو نخښه. ،،؛ ټکی ,, . full stop: پنډول، پریړول، ډك، بشپړ، مفصل، ترټولو ټېټه کچه او تر ټولو لوړه کچه ( اکثر حد او اعظمی حد). ،،؛ ریښکی ,, Tab: کړی، کارت چې د شي ببیه یا نوم پر لیکل شوی او پر بکسونو، کالیو یا نورو باندې ځړول کېږي، حساب ( په بانك کی ). ،،؛ سر لیک ( عنوان، سرلیکنه یا سر خط)؛ سر لیکنه (سر لیک یا سر مقاله)؛ سر لیکه (سرډړه، سرلوحه، بورډ) او سرمخ ( سر چوپړی یا سر صفحه) په بشپړه توګه کارونه اړینه بولم. په خپل لیکي کې کښم چې د غبرګغونډلو، پارنویکو، د هرې مسرې ښکاره کېدل څرګند کړي او بېلوالی یې سپینې ته راوباسي.

## ۶. ۱۰ دوبیمه ډله نیمکۍ ټپه: پې ،، پ ،،.:

زړې لغمانۍ نیمکۍ ټپې: دا لرغونې لغماني سروکي کاستوري سور کې ګلکي اوستاد له خپل زوی پینده محمد پیتده سره په ۱۳۲۳ لیږدي کې ویلي دي، د دې نیمکۍ ټپې اوډون پلار او زوی په دې بڼه کړی دی. چې ښځو ته منسوبې مسرې یې زوی ویلي دي او سړو ته منسوبې مسرې یې پلار ویلي دي، پارنویکي یې هم ویلي، سرباري، منځباري او بېخباري مسرې یې له لومړۍ او دوبیمې لنډۍ، دربیمې او څلورمې ټپې او پینځمې مصرې سره پټلیز ترښتي کړي دي.:

- وه! بوغانه ځانګې په لمن کې تولومه
- د زېړو ګلو ځانګې مه نیسه ماتیږي
- شیرین جانې زړه که دې بدیږي زر دې ورمه

- مبارکي ورته لازم ده

شیرین جانې زړه که دې بدیږي زر دې ورمه

چې په لنډۍ ځنه یې و وهل خالونه

شیرین جانې زړه که دې بدیږي زر دې ورمه

- زلفې مې مه لنډه مورې

وه! بوغانه ځانګې په لمن کې تولومه

مار چې لنډۍ شي دوه سره خوله لړوینه

وه! بوغانه ځانګې په لمن کې تولومه

- د سترګو تور مې دې اوبه که

شیرین جانې زړه که دې بدیږي زر دې ورمه

خدای دې په داسې یارۍ اور ولړوینه

شیرین جانې زړه که دې بدیږي زر دې ورمه

وه! بوغانه ځانګې په لمن کې تولومه

▲ وه!؛ څو د مجلس یاران خبرېږي
وه! بوغانه ځانګې په لمن کې تولومه
په ما به يې زنې په ململ ترلې وينه
وه! بوغانه ځانګې په لمن کې تولومه

▲ د تور تو‌پکو اوستاکاره
شيرين جانې زړه که دې بديږې زر دې ورمه
وه! بوغانه ځانګې په لمن کې تولومه
د خو ځوانانو خون د تا له غاړې شينه
شيرين جانې زړه که دې بديږې زر دې ورمه
وه! بوغانه ځانګې په لمن کې تولومه
د زېږو ګلو ځانګې مه نبسه ماتيږي
شيرين جانې زړه که دې بديږې زر دې ورمه

## ۶. ۱۱ دوېیمه ډله نیمکۍ ټپه: تې ,, ت ،،:

زړې لغمانۍ نیمکۍ ټپې: دا لرغوني لغمانۍ نیمکۍ ټپې کاستوري سور کې. پينی د شرق الماس سرغندوي سندر غاړي اروانباد احمد ظاهر نږدې، نږدې په ۱۹۶۰ زېږدي چې له ۱۳۳۸ لېږدي سره برابر کال دی په کې ويلې وې.

سرباري مسرې يې له دوې اوږدو مسرو د ټپې څخه رغښت شوې. اوله مسره يې ۱۳ څپې ده څلور څپيزه زورنه نه لري، ترنګټوک هم نه لري؛ دوېيمه مسره يې څلور څپيزه زورنه لري، ترنګټوک هم لري په شه باندې، اوز يې په ځوړ ساتلی، جوګي ورسره پارنويکي ګډ شوی دی او ۲ څپې مسره ډېره وي او په هره بېخباري مسره کې پټليز يي ويلي دي.

په ټوله کې درې نيمکۍ ټپې دي او د هرې ټپې کوشنۍ مسره يې دوې وارې ويلې، هرې دوېيمې مسرې سره يې ,, وه! جوګي!! ،، پارنويکی پټليز ويلی دی، چې موږ ته يې د نيمکۍ ټپې بڼه په همدې ډول را پرېښې ده.:

- اوبه درته راوړم، سابه درته پخوم
- ياره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!
- اوبه درته راوړم، سابه درته پخوم
- ياره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!

- يار مې هېندو زه مسلمان يم
- يار مې هېندو زه مسلمان يم
- د يار له پاره درمسال جارو کومه؛ وه! جوګي!!
- اوبه درته راوړم، سابه درته پخوم
- ياره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!
- ياره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!

- په کلا دوې کفترې ناستې
- په کلا دوې کفترې ناستې
- يوه يې وېشتل که بله يې ځان سينګاره وينه؛ وه! جوګي!!

▲ اوبه درته راوړم، سابه درته پخوم
▲ یاره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!
▲ یاره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!

▲ دېوال سورى که ګتمۍ راکړه
▲ دېوال سورى که ګتمۍ راکړه
▲ پلار دې خدګر دی بیا به جوړ کړي دیوالونه ؛ وه! جوګي!!
▲ اوبه درته راوړم، سابه درته پخوم
▲ یاره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!
▲ یاره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!
▲ اوبه درته راوړم، سابه درته پخوم
▲ یاره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!
▲ یاره ځم درسره خانه دې ورانه شه؛ جوګي!!

نوموړې نیمکۍ تپه د ماسپښین ۳:۰۰ ، ۲۰۲۲/۰۶/۱۶ زېږدی مې له یوتیوب کانال څخه دوباره کتلې، د البوم نوم یې دی ,, سطان قلب ها،، په لاندېني پېژند نوم یې په ګوګل، یوتیوب کانال کې لیدلی شئ!! ,, احمد ظاهر اوبه درته را وړم،،. یا

[https://www.youtube.com/watch?v=٤BktGcsgUrI&list=RD٤BktGcsgUrI&start_radio=١],
په ۰۰:۰٤:۱۸:۰۵ دومره موده کې احمد ظاهر ویلې وې.

د شرق الماس سرغندوي سندر غاړي اروابناد احمد ظاهر په ۱۹۷۹ زېږدی چې له ۱۳۵۷ لېږدي سره برابر کال دی. په کې د وخت باچا حفیظ الله امین له لوري په یوه دسیسه کې د ټاکل شوي باجه تروون نومي له لوري یوه مرمۍ د شوقي وېښتانو پورته ځای کې په سر ویشتلی و او ژوند یې ورته واخسته. په شهادت یې ورسوه؛ چې د شهادت په سبا شپه یې کور ته حفیظ الله امین له مخلصینو کمونستانو ملګرو سره راغله او په خپله یې د احمد ظاهر د پلار پخواني صدر اعظم ډاکټر محمد ظاهر په سر یې تمانچه کېښوده او هغه ناست وو، ورته وې و ویل: که دې لږ هم کشمکش ته لاس واچوه د زوی په بڼه به دې په همدې ځای و ولم او بیا ورسته یې په مرموز ډول همدې کمونیستانو په پټه صدر اعظم ( د وزیرانو رییس) ډاکټر محمد ظاهر هم شهید کړه، الله العظیم دې و بخښي په جنت کې یې ځای لا ستر شه.

## ۶. ۱۲ دوبیمه ډله نیمکی ټپه: تې ,, ت ،،:

زړې لغمانی نیمکی ټپې: دا لرغوني لغمانی نیمکی ټپې کاستوري سور کې، پینی د شرق الماس سرغندوي سندر غاړي اروابناد احمد ظاهر نږدې، نږدې په ۱۹۶۰ په زیږدي چې له ۱۳۳۸ لیږدي سره برابر کال دی په کې ویلې وې.:.

- لاړې شه ننګرهار ته کمېس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې ځلور ماته راوړه
- لاړې شه ننګرهار ته کمېس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې ځلور ماته راوړه

- شراب په شرعه ناروا ده
- فرهاد په تبی تور ده، باجوړ ګلونه
- په ما روا دي د یار غم غالته ومه
- کمېس تور، کمېس تور، کمېس تور، تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې ځلور ماته راوړه
- لاړې شه پېښور ته کمېس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې ځلور ماته راوړه

- جانان زما زه د جانان یم
- فرهاد په تبی تور ده، باجوړ ګلونه
- که په بازار مې خرسوي ورسره ځمه
- کمېس تور، کمېس تور، کمېس تور، تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې ځلور ماته راوړه
- لاړې شه ننګرهار ته کمېس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې ځلور ماته راوړه
- لاړې شه ننګرهار ته کمېس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې ځلور ماته راوړه

- په کلا دوې کفترې ناستې
- فرهاد په تبۍ تور ده، باجوړ ګلونه
- یوه یې وېشتل کړي بله یې ځان سینګار وینه
- کمپس تور، کمپس تور، کمپس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې څلور ماته راوړه
- لاړ شه ننګرهار ته کمپس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې څلور ماته راوړه

- لاړ شه ننګرهار ته کمپس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې څلور ماته راوړه
- لاړ شه ننګرهار ته کمپس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې څلور ماته راوړه
- لاړ شه ننګرهار ته کمپس تور ماته راوړه
- تازه تازه ګلونه درې څلور ماته راوړه

نوموړې نیمکۍ ټپي د ماسپښین ۳:۰۰ ، ۲۰۲۲/۰۶/۱۶ زېږدی کې مې له یوټیوب کانال څخه دوباره کتلي، د البوم نوم یې دی ,, سطان قلب ها،، په لاندېني پېژند نوم یې په ګوګل، یوټیوب کانال کې لیدلی شئ!! ,, احمد ظاهر لاړ شه ننګرهار ته کمپس تور ما ته راوړه،،.

یا [ https://www.youtube.com/watch?v=٤TJKFOJmSwU ]

په ۰۰:۰۳:۵۶:۵۸ دومره موده کې احمد ظاهر ویلې دي.

## ۶. ۱۳ دوبیمه ډله نیمکۍ ټپه: چې ,, ج ،،:

لرغوني وګړني نیمکۍ ټپې: دا لرغوني وګړني سروکه ټپې یا پام ټپې کاستوري غرني سور کې د افغانستان سرغندوي سندرغاړي الله بخښلي خان قره باغي چې د نورمحمد ترکي کلیوال و، نوموړی د خلقیانو واکمنۍ په دوران د پښتنو غوره دود او فرهنګ ساتلو خوندي کونکی وګړی و، د هغه دور د پښتنو د ټنګټکور او پېیلو سرغندوی سندرغاړی و، چې د نورمحمد ترکي سلطان یې بالله، په ۱۳۵۷ لیږدي ( ۱۹۷۸ ) زیږدي کې یې لاندېنۍ نیمکۍ ټپې ویلې وې.

کره موده یې راته معلومه نه ده، خو نوموړي له جګړو وړاندې څو وارې په ولس کې ویلي وې، او په ۴:۲۸:۱۴ ۰۷/ ۱۱/ ۲۰۱۳ زیږدي کې د سندرو هټۍوالو په غږېز پوستکالو کې یې دوباره ثبت او خوندي کړي. له پیلنۍ پېټي څخه څلورمه سندره ده؛ وخت: (وخت ټاکل، نېټه اینبودل: پرسور برابرول: مهال: د موسیکي شبېه: پروخت، پرټاکلي وخت). :. ۰۰:۰۵:۵۲:۹۷ ( رپه: ثانیې: د کیکې: ساعته) په وخت کې ویلې دي.

بویمه، اړېنه ده، په چار ده چې د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ له پاینۍ مسرې سره کسر څرګندېږي، برابر راځي او اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي، پاینۍ ۲ مسرې چې سروکۍ دی ۲۲ څپې، د نیمکۍ کسر( مطلع ) یې وګڼو چې لومړۍ یوه کسر ( مطلع ) لري او ورپسې یې هره لنډۍ بندونه دي. کسر یې له دوې مسرو چې لومړۍ یې اوږد ۱۳ څپې او لنډه مسرې ۹ څپې څخه جوړ دی، چې بیا د پښېله یې ترون له مخې له هر بند سره ځای، ځای یا ټول تکرارېږي.

رښته نیمکۍ یې ټپه ده چې له پینځو لنډۍیو سره بېخباري کېږي؛ ټولې سرو ته منسوبې دي. رښته سروکۍ ( رښته نیمکۍ، رښته پام یا پاینۍ ۲ مسرې چې سروکۍ دی۱۳+ ۹ = ۲۲ څپې) کې اوو!، او اوو لیلا! چې دواړه پارنویکۍ او بلنویکۍ دی؛ د دې پېیلې لیکوال په ۱۳ څپېزه مسره کې خپله کارولي دي، چې دفتنګونه او غبرګغږونه په بڼه له بشپړې اوږدې مسرې د ټپې سره سرباري او بېخباري شوي نه دي. خپله ټول له دوی سره ۱۳ څپېزه اوږده مسره ده او دوبیمه مسره یې کوشنۍ مسره د لنډۍ. چې نوموړې دوبیمه مسره یا کوشنۍ ۹ څپېزه مسره چې له پینځو لنډۍیو سره د نوموړو پیلنۍ او دوبیمې مسرې ورسته منځباري او بېخباري کېږي د ,, اوو لیلا !؛ ،، ورسره سرباري بلنویکۍ ګډېږي. چې ۱۲ څپېزه کېږي، او د هرې لنډۍ په ۹، ۹ مسرېزه څپې سره یوه، یوه پارنویکي د ,, اوو!؛ ،، ګډ شوی دی چې ۱۱ څپو ته یې اوږوالی رسېږي.

په سر کې د سروکي، پام، نیمکۍ یا ربنته نیمکۍ یا ربنته سروکي دوې وارې تکرار یا درې وارې ویل د دې له پاره دي چې ځوانان د اتڼ له پاره ځانونه چمتو( برابر، اماده، جوړ، تیار) کړي.
او په پاینی نیمکۍ ټپه کې یا پېنځمه نیمکۍ ټپه کې ربنته نیمکۍ درې وارې تکرار یا درې وارې ویل، د دې له پاره دي چې ځوانان چټک، ګړندي  د اتڼ او د سندرې پای له پاره ځانونه چمتو( برابر، اماده، جوړ، تیار) کړي.

د میني پالنې لوړ حس، سپېڅلې پښتیانه چارپېریال او  هواویچې د تاثیر پنځې زېرنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې لرغوني پېر یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

زوی یې حیات الله قراباغی ورته رباب وهې،  کوشنی زوی یې ورته ډول وهې، بل ځوی یې توله، زنګلرونکې دیرا او خپله ارمونیه ( باجه ) وهې. په دې بڼه یې لرغوني وګړنې نیمکۍ ټپې ویلې دي:.

اوو!؛ په بام ولاړه یې ځنګېرې؛ اوو لیلا
▲ دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
اه!؛ په بام ولاړه یې ځنګېرې؛ اوو لیلا
دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
اه!؛ په بام ولاړه یې ځنګېرې؛ اوو لیلا
دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه

▲ اوو!؛ سبا د ورځې غرمه راشه
اوو لیلا!؛ دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
زه به دروځم تورې سترګې شنه خالونه
اوو لیلا!؛ دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
اه!؛ په بام ولاړه یې ځنګېرې؛ اوو لیلا
دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه

▲ اوو!؛ په ملا نرۍ په اولې پړانګې
اوو لیلا!؛ ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
د سپیني خولې دې سوداګر راغلې دینه
اوو لیلا!؛ ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
اه!؛ په بام ولاړه یې ځنګېږي؛ اوو لیلا
ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه

▲ اوو!؛ خولې دې په سمه رضا راکړه
اوو لیلا!؛ ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
یا خولګۍ راکه یا منګۍ در ماتومه
اوو لیلا!؛ ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
په بام ولاړه یې ځنګېږي؛ اوو لیلا
ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه

▲ اوو!؛ یا د وړوکي رباب غږده
اوو لیلا!؛ ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
یا ده تروری د لور شړنګۍ اوبو ته ځینه
اوو لیلا!؛ ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
په بام ولاړه یې ځنګېږي؛ اوو لیلا
ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه

▲ اوو!؛ بېګا په خوب کې خندا راغله
اوو لیلا!؛ ادا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
ستا په نازک بدن مې لاس ولړېدنه

اوو لیلا!؛ دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
اوو!؛ په بام ولاړه یې ځنګېږې؛ اوو لیلا
دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
اوو!؛ په بام ولاړه یې ځنګېږې؛ اوو لیلا
دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه
اوو!؛ په بام ولاړه یې ځنګېږې؛ اوو لیلا
دا رنګ دې ولې زېړ ده جانانه

## ۷ درېیمه ډله نیمکی تیکی:.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپینې ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پیپله د څو سره نیمکی تیکی ( سروکه تیکی، پام تیکی) نوم باندي نوموم، چې دې پښتو درې، څلور، پینځه، شپږ، اووه، اته، نهه او لس سره پیپله له درې، څلور، پینځه، شپږ، اووه، اته، نهه او لس سره نیمک ( سروکی، پام) تیک، څو سره رټ رمټ نیمکی یا څو سره سم برابر پام او سورکه سره تشبع کوم چې ورته نیمکی تیکی وایي. په دغه ډول څېړې لري، درې سره نیمکی تیکی، څلور سره نیمکی تیکی، پینځه سره نیمکی تیکی، شپږ سره نیمکی تیکی، اووه سره نیمکی تیکی، اته سره نیمکی تیکی، نهه سره نیمکی تیکی او لس سره نیمکی تیکی ... . په بڼه مندل کېږي. د ټولو پام د ناوې ناوېتوب درناوي ته چې په همغه شیبو او چارپېریال کې ویل کېږي نوموم یې. ټولې ځنګېړنې یې د ښادی د دې شیبو سره ورته وي. هر څه د ناوې برابر وي سم برابر، یوازې د ناوې ستاینه په کې کوي همدغه چارپېریال سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لري. لکه:

## ۷. ۱ د نیمکی تیکی (سروکه تیکی یا پام تیکی) ځانګړې ځانګېړنې

۱:- ناوې د ناوېتوب درناوي په کې وي، ۲:- د ټولو پام د ناوې سپېڅلتیا ته اړوي، ۳:- رټې رمټې وي، ۴:- خوښې ډېره وي، ۵:- ډېر خوږ تاثیر لري، ۶:- ډېر پام د خلکو ورته اوړي، ۷:- تر ډېره ستایل کېږي، ۸:- تاثیر یې ټینګ وي، ۹:- مېرمنې یې لرې وایي، ۱۰:- په ودونو کې لرې اورول کېږي او یادول کېږي، ۱۱:- د پال په بڼه یې پېغلې وایي، ۱۲. له نیمکی لندی، نیمکی ټپه او نیمکی مصری یې کچه زیاته ده ځکه مېرمنې سر او کار کوراکور، لورالور له ښادیو، ودونو او محفلونو سره لري، ۱۳:- په ګډه یې وایي سره، ۱۴:- پېغلو لاسونه سره یو تر بل ورکړي وي او ناوې یې په منځ کې وي، د لاسونو په ټال سره په خوږو اوزو ناوې په ټال زنګوي، ۱۵:- ناوې پرې ډېره خوشحالیږي، ۱۶:- د ناوې ستاینه په کې وي.

او تاسو ته یې همداسې پرېږدم، په همدې بڼه یې پوښ کې کوم.
هرې نیمکی لندی، نیمکی ټپه او نیمکی مصری چې دغه پورته ځانګېړنې و درلودلې نو هغو ته نیمکی تیکی وایي. تاسو نیمکی لندیو، نیمکی ټپو، نیمکی تیکيیو او نیمکی مصریيو ته ښه غوږ ونیسئ!! پام ورته و کړئ! نو بیا یې پېژنی چې دا نیمکی تیکی دي؛ چې سمې برابر وي، د ناوې ستاینه په کې شوې وي او د واده د شپې چارپېریال زوکړې خصوصیات لري. نیمکی لندی، نیمکی ټپه او نیمکی مصری دا پورته ۱۶ ځانګېړنې نه لري بېلوالی یې پر همدې کې دی.

لکه دا لاندې زما نیمکۍ ټیکۍ دي چې په کابل کې مې په ۱۳۸۵ /۰۵/۲۳ لېږدي کال کې کښلې وې. دا زما خپلې نیمکۍ ټیکۍ دي، زه نر یم، خو ډېرو مېږو، مېرمنو به ویلې وي او دي.

## ۲.۷ درېیمه ډله نیمکۍ ټیکۍ: اې ,, ا ،،:. د څېرونکي اته سره نیمکۍ ټیکۍ دي چې سرلیک یې دی ,, نـاوی:.

- بسـم الله وایئ پـرې ګلـونه و پاشـئ یـه
- نــاوی جــوړوئ یــې ناوی یه
- د لالــې څنګ تـه پـه رو، رو یې راولـئ یـه
- نــاوی جــوړوئ یــې ناوی یه

- نـاوی د ستا خاطر له پاره
- نــاوی جــوړ وئ یې نــاوی یه
- د هر یو بـن بوټـې د نیسې لسپانی یه
- نــاوی جــوړوئ یــې ناوی یه
- بسـم الله وایئ پـرې ګلـونه و پاشـئ یـه
- نــاوی جــوړوئ یــې ناوی یه
- د لالــې څنګ تـه پـه رو، رو یې راولـئ یـه
- نــاوی جــوړوئ یــې ناوی یه

- ناوی لالــې د لاس نه نیسـه
- نــاوی جــوړ وئ یې نــاوی یه
- چې ننـواتې ستا د زړه کـور تـه درګئ یه
- نــاوی جــوړوئ یــې ناوی یه
- بسـم الله وایئ پـرې ګلـونه و پاشـئ یـه
- نــاوی جــوړوئ یــې ناوی یه

- د لالـــي ښنګ تـه پـه رو، رو يې راولـئ يـه
- نــاوې جــوړوئ يــې ناوې يه

- ناوې لالي ســره جوړه شـــه
- نــاوې جــوړ وې يې نــاوې يه
- چې سپيلني لوګـی کـوي نظـر نه شئ يه
- نــاوې جــوړوئ يــې ناوې يه
- بسم الله وايئ پــرې ګلونه و پاشــئ يـه
- نــاوې جــوړوئ يــې ناوې يه
- د لالـــي ښنګ تـه پـه رو، رو يې راولـئ يـه
- نــاوې جــوړوئ يــې ناوې يه

- نــاوې رو، رو قدم اخلـه
- نــاوې جــوړوئ يې نــاوې يه
- د ولس پيغلې پــه قطــار درسره ځئ يه
- نــاوې جــوړوئ يــې ناوې يه
- بسم الله وايئ پــرې ګلونه و پاشــئ يـه
- نــاوې جــوړوئ يــې ناوې يه
- د لالـــي ښنګ تـه پـه رو، رو يې راولـئ يـه
- نــاوې جــوړوئ يــې ناوې يه

- پيغلو نمبر بانـدې يې ښكل كړئ
- نــاوې جــوړ وئ يې نــاوې يه
- د پيغمــبر امتــی ډېـره نازوئ يــه
- نــاوې جــوړوئ يــې ناوې يه

- بسم الله وايئ پرې ګلونه و پاشئ يه
- ناوی جوړوئ يې ناوی يه
- د لالي څنګ ته په رو، رو يې راولئ يه
- ناوی جوړوئ يې ناوی يه

- پيغالو په خپل منځ کې اخته شئ
- ناوی جوړ وئ يې ناوی يه
- کړی ديندکونه چې ملګرې واده وئ يه
- ناوی جوړوئ يې ناوی يه
- بسم الله وايئ پرې ګلونه و پاشئ يه
- ناوی جوړوئ يې ناوی يه
- د لالي څنګ ته په رو، رو يې راولئ يه
- ناوی جوړوئ يې ناوی يه

- ناوی ښايسته يې زموږ په زړه يې
- ناوی جوړ وئ يې ناوی يه
- ژړا، ژړا کې هسې مونږ ژړا کوئ
- ناوی جوړوئ يې ناوی يه
- بسم الله وايئ پرې ګلونه و پاشئ يه
- ناوی جوړوئ يې ناوی يه
- د لالي څنګ ته په رو، رو يې راولئ يه
- ناوی جوړوئ يې ناوی يه

- ناوی دنيا درلـه فردوس شه
- ناوی جوړ وئ يې ناوی يه
- دوې ورځې ژوند دی په خوښۍ يې تېروئ يه

- نــاوی جــوړوئ یــي ناوی یه
- بســم الله وایئ پــرې ګلــونه و پاشــئ یــه
- نــاوی جــوړوئ یــي ناوی یه
- د لالــي ښنګ تــه پــه رو، رو یي راولــئ یــه
- نــاوی جــوړوئ یــي ناوی یه

Kabul, K.P.U Apricots garden next to lwya jarga tent sniper screen fence in my study place On ۱۳۸۵ / ۰۵ / ۲۳, ٤:۰۰ Am.

کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لویې جرګې خیمې شنې جالۍ ترسېرمه زما د مطالعې ځای کې،، ( صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۳۸چوپړی)

## ۷. ۳ د نیمکۍ ټیکی (سروکه ټیکۍ یا پام ټیکی) تعریف (څرګندونه، ښکارونه، نیمکۍ ټیکۍ د یوه توري یا مو سکالو تشریح کول.)

د وی یا ویکیي له پامه نیمکۍ ټیکۍ هغې څو سرې پېیلې ته وایي چې د څو سره ټیک سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري. او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلي، منلي، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پرله پسې توبه ( تکراري، بیابیا کولې، واروار تړلې، ګرداني) پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ی او ... .،، ښخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي؛ له لنډۍ، ټپه، ټیکی او مصرۍ ښخه ورسته. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بنې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلجیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ ټیکۍ ایزې د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې یا کلیمې دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږوي، په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته راځي او لکه یوستووی اواز یوه وار پټلیز له خولې راوځي د یوه غبرګغږ لومړی توک یوه خپلواک او دوهیم توک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکۍ واله یې یا نرمه ,,ی،،؛ زرکۍ واله یې یا درنه یې ,,ۍ،،

او داسي نور. دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، زویه!، شېرینه، یا الله، یه، وا!، وله!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، نو، الله، کنه!، راځه!، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتینه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه کربانه!، ای الکه!، سفیره!، وروره!، فردوسه!، لغمانیيه!، بخته میره!، اخلا وه! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نوموړي ټول د نیمکۍ ټیکۍ توکي دي، چې کله هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېرای وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښېلې کلیمې یا غونډلې لړې لري. خو ډېری وخت د لومړۍ، دوېیمې درېیمې، څلورمې او پېنځمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. تر ډېره ( هره یوه نه) پښېلې باید د ه ( زمور خپله ,, ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده؛ په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي. نیمکۍ ټیکۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. او درېیمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې نیمکۍ ټیکۍ د لومړۍ او دوېیمې مسرې څلورمه او اتمه څپه؛ د درېمې مسرې ( پاینۍ مسرې) څلورمه، اتمه او دولسمه څپه باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا نیمکۍ ټیکۍ مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالي سره، سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، او یوه دېرشتمې څپې خوږغږي د نیمکۍ ټیکۍ مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالي ترڅنګه د نیمکۍ ټیکۍ یوه بل رغنده توک ګڼل کېږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسکي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پایني ټوکونه په یوه پېر کې له دغو درېواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې وروستۍ نهمې، اتلسمې، یوه دېرشتمې (د لس سره نیمکۍ ټیکۍ یې نهمې، اتلسمې، یوه دېرشتمې، څلوېښتمې، دوې شپېتمې، پېنځه اویاومې او څلور اتیاومې ) زورنې څپې له یوه څه اغېز سره دوی ته یوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کې دی شي. غوره سټه د ترنګتوک په پاینی

مسره کې دی چې نوموړې مسره د نیمکۍ ټیکۍ رغښت پنځ کوي، د نیمکۍ ټیکۍ غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره نیمکۍ هغه دي چې د لنډۍ، ټپې، ټپکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې و لري؛ د دیفتنګونه او پارنویکي سره.
خو له ,, ایزې ،، (صفي الله ، د کب ۱۹، ۱۴۰۱ لېږدی، ۱۰ چوپړی)، انګۍ، پټۍ، لنډکۍ، بګټۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پیبلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پینځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هایکویۍ، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلېزۍ، ناپیبلۍ او سلسلۍ دې ټولو پیبلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی و لري؛ د دې له پاره چې دا ټول په ډېرۍ بڼه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوي؛ ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رڼ بېلوالی یا ګړندی فرق یې و کولی شي، ورته ګنلي وي او د ټولو زهني پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی و شي.

د نیمکۍ ټیکۍ د څپې شمېر بېلګه داسې ده چې درې سره لري ۳۱ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۳۵ څپېزې وي؛ څلور سره نیمکۍ ټیکۍ ۴۴ څپېزې وي؛ پینځه سره نیمکۍ ټیکۍ ۵۳ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۵۷ څپېزې وي؛ شپږ سره نیمکۍ ټیکۍ ۶۲ څپېزې وي؛ اووه سرې نیمکۍ ټیکۍ ۷۱ څپېزې او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۷۵ څپېزې وي؛ اته سره نیمکۍ ټیکۍ ۸۴ څپېزې وي؛ نهه سرې نیمکۍ ټیکۍ یې ۹۳ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۹۷ څپېزې وي ( ۴ څپې ډېرېږي او که کوشنۍ مسرې باندې شي بیا ۴ څپې ترې کمېږي) او لس سره نیمکۍ ټیکۍ ۱۰۶ څپېزې وي.

چې تر ټولو غوره یې څلور سره نیمکۍ ټیکۍ ۴۴ څپېزې رانښلولې لړۍ لري او دولس دانې و ویل شي خوند رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکاروندو په سته ولاړ راځي؛ ډېرې ښې یې اته سره نیمکۍ ټیکۍ ۸۴ څپېزې وي چې اووه دانې و ویل شي؛ ښې به بیا درې سرې نیمکۍ ټیکۍ دي چې دولس دانې یا شپاړس و ویل شي؛ لږې ښې بیا لس سره نیمکۍ ټیکۍ یا لسیزونې نیمکۍ ټیکۍ دي چې پینځه دانې و ویل شي ښې راځي، دا بیا له څلورو دانو شپږ سره نیمکۍ ټیکۍ سره خوا په خوا ځای نیسي. پرته له غبرګګږونو او پارونویکو... .

چې د ځپو په ګڼه کې منل شوی ډېروالی راولي او د منلو وړ پېیلې رښت دی.

د ځېرونکي ( زما ) نیمکۍ تیکی ځپیزه ( ځپه، سپلاب، هجا ,, سیلیبل Syllable،، د ابېځو شمېرلو) - خجیزه ( زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسیکي نوټ: د خج نښه: د توري په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او ټېټوالي زور، او ږدوالی، کیفیت ښیي،: ټینګه , لهجه ،: تاکید: بېلوونکی نښه: د وینا , ځانګړی، خاص او بېل ، ډول. :Accent, Morphemel ،،) جوړښت په دې ډول دی:

## ۷. ٤ د نیمکۍ تیکی (سروکه ټیکی یا پام ټیکی) ځپیزې او زورنې

U-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU-UUUU
U-UUUU-UUUU

د نیمکۍ تیکی ځپیزې او زورنې لاتیني (یو) ابېځو لښتېوندي

نا - وی - د - **ستا** + خا - طر - له - **پا** + ره
نا - وی - جو - **ږه** + وئ - یې - نا - **وی** + یه
د - هر - یو - **بڼ** + بو - تي - د - **ني** + سي - لس - پا - **نی** + یه
نا - وی - جو - **ږه** + وئ - یې - نا - **وی** + یه
بس - مېل - له - **وا** + یئ - پرې - ګو - **لو** + نه - و - پا - **شئ** + یه
نا - وی - جو - **ږه** + وئ - یې - نا - **وی** + یه
د - لا - لي - **ځنګ** + ته - په - رو - **رو** + یې - را – وه - **لئ** + یه
نا - وی - جو - **ږه** + وئ - یې - نا - **وی** + یه

د نیمکۍ تیکی ځپیزې او زورنې د پښتو ابېځو لښتېوندي

۱ـ ۲ـ ۳ـ ۴ـ ۵ـ ۶ـ ۷ـ ۸ـ ۹
۱۰ـ ۱۱ـ ۱۲ـ ۱۳ـ ۱۴ـ ۱۵ـ ۱۶ـ ۱۷ـ ۱۸
۱۹ـ۲۰ـ ۲۱ـ ۲۲ـ ۲۳ـ ۲۴ـ ۲۵ـ ۲۶ـ ۲۷ـ ۲۸ـ ۲۹ـ ۳۰ـ ۳۱
۳۲ـ ۳۳ـ ۳۴ـ ۳۵ـ ۳۶ـ ۳۷ـ ۳۸ـ ۳۹ـ ۴۰
۴۱ـ ۴۲ـ ۴۳ـ ۴۴ـ ۴۵ـ ۴۶ـ ۴۷ـ ۴۸ـ ۴۹ـ ۵۰ـ ۵۱ـ ۵۲ـ ۵۳
۵۴ـ ۵۵ـ ۵۶ـ ۵۷ـ ۵۸ـ ۵۹ـ ۶۰ـ ۶۱ـ ۶۲
۶۳ـ ۶۴ـ ۶۵ـ ۶۶ـ ۶۷ـ ۶۸ـ ۶۹ـ ۷۰ـ ۷۱ـ ۷۲ـ ۷۳ـ ۷۴ـ ۷۵
۷۶ـ ۷۷ـ ۷۸ـ ۷۹ـ ۸۰ـ ۸۱ـ ۸۲ـ ۸۳ـ ۸۴

د نیمکی ټیکی ځپیزې او زورنې د پښتو شمېر نوم لښتپوندي
یا د اته سره نیمکی ټیکی ځپېز او زورنې جوړښت ښه

## ۷. ۵ د نیمکی ټیکی (سروکه ټیکی یا پام ټیکی) ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت

ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت یې داسې دی:

الف.

ب.

## ۷. ٦ د نیمګړی ټیکی (سروکه ټیکی یا پام ټیکی) سپړنه

د دې نیمګړی ټیکی سپړنه

لومړی مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ ښپې ده.
دوېیمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ ښپې ده.
درېیمه مسره ۰+۱۳+ = ۱۳ ښپې ده.
څلورمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ ښپې ده.
پینځمه مسره ۰+۱۳+ = ۱۳ ښپې ده.
شپږمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ ښپې ده.
اووه مه مسره ۰+۱۳+ = ۱۳ ښپې.
اته مه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ ښپې ده.

دلته ټوله نیمګړی ټیکی ۸۴ ښپې ده، دا پنځې اته سره نیمګړی ټیکی غبرګغږونه نه لري.




۱. لومړی مسره
۲. دوېیمه مسره
۳. درېیمه مسره
٤. څلورمه مسره
٥. پینځمه مسره
٦. شپږمه مسره
۷. اووه مه مسره
۸. اته مه مسره
۹. ۱. ۲. ۳. ٤. ٥. ٦. ۷. او ۸. یوه نیمګړی ټیکی ده
۱۰. زورنه (خجنه) **بولډ** شوي
۱۱. دفتنګونه نه لري.
۱۲. تت اسماني رنګ یې د ښکاروندی دی.
۱۳. ښپې( سیلابونه)
۱. مسره ۹ ښپې ده
۲. مسره ۹ ښپې ده
۳. مسره ۱۳ ښپې ده
٤. مسره ۹ ښپې ده
٥. مسره ۱۳ ښپې ده
٦. مسره ۹ ښپې ده
۷. مسره ۱۳ ښپې ده
۸. مسره ۹ ښپې ده
۱٤. د اوازتیوالي او لوړوالي خطونه، اهنګ؛ترنګتوک؛
۱٥. ښځو ته منسوبې (اړوند)

د لا ډېرو معلوماتو له پاره ۷. ۷ مخلیک و ګورئ.

**۷. ۷ درېیمه ډله نیمکۍ ټیکۍ: اې ,, ا ،،:. د څېړونکي څرګندول چې رونوي کتنه داسې. د څېړونکي نیمکۍ ټیکۍ ( پام ټیکۍ، سروکه ټیکۍ) په لاندې بڼه لوری موږ ته په لاس راکوي لکه:**

۱. نیمکۍ لنډۍ له لنډۍ څخه رغښت مومي، نیمکۍ ټپه له ټپې څخه او نیمکۍ ټیکۍ له ټیکۍ څخه او نیمکۍ مصرۍ له مصرۍ څخه.

۲. نیمکۍ لنډۍ د لنډۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ نیمکۍ ټپه د ټپې پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ نیمکۍ ټیکۍ د ټیکۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی او نیمکۍ مصرۍ د مصرۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی.

۳. تر ټولو ډېرې ښې بڼې د نیمکۍ‌یو موږ ته په پوخ کې کوي چې اته سره لري.

٤. څومره والی د نیمکۍ‌یو موږ ته په پوخ کې کوي چې اته دانې دي او هر یوه یې اته مسرې لري.

۵. زورنې یې په څلورمه، څلورمه څپې دي، خو ټولیز پایخج یا پاینۍ زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې دي او د مخنۍ‌یو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې تر سیورې لاندې کمزورې پاتې شوې دي. د څلورګونو څپو ټولوالې څخه یې په د هرې څلورو څپو کې په څلورمه څپه زورنه ده. لومړۍ مسره کې په ستا او پا؛ دویمه مسره کې په ړه او وۍ راغلې ده؛ درېیمه مسره کې په بڼ، نې او نۍ راغلې ده؛ څلورمه مسره کې په ړه او وۍ راغلې ده؛ پینځمه مسره کې په وا، لو او شئ راغلې ده؛ شپږمه مه مسره کې په ړه او وۍ راغلې ده؛ اووه مه مسره کې په ښنګ، رو او لئ راغلې ده او اتمه مسره کې په ړه او وۍ زورنه راغلې ده. په اته واړه مسروکې ترنګتوک په څوړ دی چې په پیلنۍ مسره کې یې ,, ره ،، او په نورو ټولو اووه واړو یا ترپاینۍ مسرې پورې په ,, یه،، ترنګتوک دی.

خو ټولې مسرې لکه د ټیکۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې په شان ترنګتوک ساتلی دی، د ټیکۍ مسرو منځ باري، بېخباري په څور غږ ستاتل کیږي، دا نو یوازې په ساز او اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبني ډګره نور راوځي.

٦. د نیمکۍ پیپلې پېنځګوني رغنده ټوکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې په نیمکۍ، پام او سروکه بڼه شتون لري.

۷. نیمکۍ ټیکۍ مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بڼه او لاربنوده مخبېلګه ده؛ له ژبني پلوه لږ تر لږه اته یا زیاتې غونډلې را اخستي، خو څپې یې له ټاکلې شمېر ۹ او ۱۳ ، ۹ او ۱۳ څخه تېرې نه دی کړی او زورنې یې له ټاکلې شمېر څلورو څخه تېرې نه دی کړی، دغه توکي نه لري. دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناټرویيکي، ټرویيکي، سټربل، اوسټربل، پارنویيکي، بلنویيکي، اندېښني، هېبجاني چغې، چې په دې اته سره نیمکۍ ټیکۍ کې شتون نه لري او په پام کې یې هم نه راولو.

چې په رښت کې نوموړې مسره ۹ څپې کیږي او په لارغه ( پیوستون، مکث، مکثه) کیږي، بل لورې ته لارغه، وت او کسر درې واړه په کې راغلي، چې کسر ( ماتېدنه، درز، برخه، ډله، فراکسیون ,, په ګوند کی دننه کوچنۍ ډله،، Fraction, Deficit, Detraction, Depreciation) او مطلع ( Opening) وت ( واټن، فاصله pace, Interval, Distance, Break, Ravine, Interstice, Chasm, Hiatus) ته وایو، په لومړۍ مسرې کې ره له نا سره لارغه دی، دوېیمه مسره کې یه له د سره لارغه دی، درېیمه مسره کې یه له نا سره لارغه دی.

بویمه، اړېنه ده، په چار ده چې د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ له پیلنۍ او پاینۍ مسرې سره کسر څرګندیږي، برابر راځي او اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي؛ پاینۍ ۴ مسرې چې سروکی دی ۴۴ څپې، د نیمکۍ کسر (مطلع) یا یې وګڼو چې لومړۍ یوه کسر ( مطلع) لري او ورپسې یې هره ټیکۍ بندونه دي، کسر یې له دوې جفتو مسرو چې لومړۍ یې اوږدو او لنډه،

بیا اوړده او لنډه مسرو څخه جوړ دی، چې بیا د پښپله یې تړون له مخې له هر بند سره ځای، ځای یا ټول تکرارېږي. پورتنۍ څلور مسرې چې له ټیکۍ ورسته راشي یا بېخباري شي نه سرباري نو غوره سپینې ته راوځي.

دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی چې څلورواړه پیلنۍ مسرې دوې تکراري لړ والي مسرې دي چې دواړه یې دوې لړه دي.

او تر ټولو همدا لړونه د هرې ټیکۍ له دواړو مسرو څخه ورسته تکرارېږي ( منځباري او بېخباري کېږي)، چې لومړی بند یا رښته نیمکۍ ټیکۍ اته سره لري. لومړی سر یې د ټیکۍ د سره پیلنۍ مسره ده ۹ څپې؛ دوېیمه مسره د نیمکۍ منځ باري ده، ۹ څپې؛ درېیمه مسره د ټیکۍ دوېیمه مسره ده ۱۳ څپې؛ څلورمه، شپږمه او اته مه مسره بیا همغه دوېیمه مسره ده ۹ څپې؛ پینځمه او اووه مه مسره ده ۱۳، ۱۳ څپې چې له ۹ څپې لړ سره د نیمکۍ بېخباري تشه یا خلاصه یا مطلع مسرې دې چې نوموړې نیمکۍ ټیکۍ اته لارغي لري او ۸۴ څپې ده. چې په ټوله کې ۸ دانې اته سره نیمکۍ ټیکۍ ( ۸ * ۸۴ + ۴۴ = ۶۷۲ + ۴۴ = ۷۱۶) څپې کېږي.

د ورډ پوستکالي (New Microsoft Word Documents) له پامه نوموړې نیمکۍ ټیکۍ؛ په ۳ چوپړو (Pages) کې ده؛ ۴۴۸ ویکي (Words) لري؛ ۱۷۴۲ دانې یې وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نیونه ,, د ابېڅو، اونورو،، پرانت.،، (,, Characters ‹‹no Spaces )؛ ۲۳۴۲ دانې منشوره یې له وت سره دي (,, Characters ‹‹with Spaces )؛ ۶۸ پراګرافه (Paragraphs) دي او ۱۴۵ لینو (lines) کې کښل شوې دي له لیکي هرېۍ، لاندنۍ یادونې او پاینۍ یادونې سره، سره ( Include .(Textbox, Footnotes and Endnotes

۸. د رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني ( Color model: RGB, Red:۱۵۷, Green: ۱۹۵, Blue:۲۳۰) دی. د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پینځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته ښلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۲ ګڼه دی.

۹. د نیمکۍ پنځه له هغې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ، او مصرۍ کېږي چې منځه ( هسته) وي، چې ځانګړې ځانګړنې يې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او يا مصرۍ ته ورته وي. د نیمکۍ نوموړې منځه موږ په خپل رنګ يې چې د نیمکۍ رنګونو ښکاروندی يې تت اسماني دی، په تت اسماني يې ښکو او چې سرباري، يا بېخباري يا تکراري مسرې يې هم تت اسماني رنګ لري. د دې له پاره تر ډېره پورې دا څرګ موږ ته په لاس راکوي چې د نیمکۍ پنځې منځه وي. او ګډولې بڼه يا اونګ بڼه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې يا لنډۍ ته منسوبې وي، يا ټپې ته منسوبې وي، يا ټيکۍ ته منسوبې وي او يا مصرۍ ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شويو رنګ باندې پاتې کېږي، له دې څخه يې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا نیمکۍ؛ نیمکۍ لنډۍ ده، که نیمکۍ ټپه ده، که نیمکۍ ټيکۍ ده او که نیمکۍ مصرۍ ده. له دې سره سم دا نیمکۍ ټيکۍ ده.

۱۰. د نیمکۍ ټيکۍ پېيلن د ختيځ لومړی نمبر څېړونکي صفي الله فردوس خان ټولې په ګډولې بڼه يا اونګ بڼه جوړې کړي ( مصنوعي: ديسي، شلخي، ګډول، ترکيبي، يوه ځای کول: فيصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو يا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ،جارګی، چمبړ: مرکب) يا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي. هره يوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې ټيکۍ سکالو ځانګړنې او نخښې او ښېلوالی يې ځانته غوره کړی دی، او هره يوه مسره يې په ليکه کړې يا په ليکه برابرول (Alignment) شوې او د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لري. له ټيکۍ يې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېيلو څخه روغې ګډوله شوې نه دي. دا به داسې ښکارېږي چې پنځي , طبيعي، دي او مصنوعي, ديسي او شلخي، نه دي.

۱۱. د دې نیمکۍ ټيکۍ پېيلن د پښتو ژبې لېوال دی، ځېک تن دی، د لغمان يوه ښه نيک نومه وګړی دی چې ډېرې پېيلې (شېرونه يا شعرونه، اشلوک، پېيران) يې په پښتو ادب پنځي , طبيعي، او يوه دمي پوښلې دي، د زهن د نیمکۍ ټيکۍ زېږندې يې له ودنې سره لوړه لېوالتيا حس، ټاټوبي ته د ودنې چمتوالی، خوشحالۍ ربښې رغول کولو، د ژوند شته، زېمه، ودانۍ او کهول او پښت ټاټوبي د سرغوندويتوب کېدلو، خوږ ژوند ګالنه،

ودنې ته لوړ درناوی، د وګړو خوښونه، پښتونواله او دودواله پاتې شونې پرېږ دي. بل لوري ته دا د دې له پاره نه بوږوم چې ځانمني ستاین شي، په ټوله کې د دې له پاره ده چې د نورو پېيلنو د پېيلو له پاره ترې په لرليد ګټنې واخستل شي.

۱۲. د دې نیمکۍ ټپې د زوکړې موده لکه څنګه چې زه وایم داسې ده:

,, کره موده يې پلاځمینه کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لويې جرګې خیمې شنې جالۍ تر سېرمه زما د مطالعې ځای کې مې په کیځ څلور بجې ۴:۰۰ د ۲۳/ ۰۵/ ۱۳۸۵ لېږدي کې مې کښلې وې ،، ( صفي الله ، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۳۸ چوپړی )

د دې نیمکۍ ټیکۍ چې سرلیک يې ناوۍ ده، د اینجینیرۍ لوستیلي ازمویني له مطالعې څخه مې سر دمه کړه، یوه په بڼه مې په بله واړوله په ډېر لږ وخت کې مې زهن ته راغله او په دوې دکیکو کې مې ټوله و ویله، بیا مې ورسته په ټکی عشاره پېنځه پېنسل باندې و لیکله. د یادابښت نیونې کتابچه مې پېنسلي په دې بڼه وې، او لیکي کې چې له چاپه سلامت تېر شوی په لږ بېلوالي د ټیکۍیو په ادلون بدلون دوباره روغونې په بڼه وې؛ د ټاټوبي سوکاله، ودنې چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځي زېږنده ده. د ناوۍ نیمکۍ ټیکۍ له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

## ۸.۷ درېیمه ډله نیمکۍ ټیکۍ: بې ,, ب ،،:

زړې لغمانۍ نیمکۍ ټیکۍ: دا لرغونې لغمانۍ نیمکۍ ټیکۍ چې په هره ښادۍ کې یې مېرمنې او سړي وایي. توتي اوستاد، ګلکي اوستاد، ملاګي اوستاد، حسني اوستاد، پینده محمد پینده اوستاد، پینده محمد منګل اوستاد، باچا خان لغماني اوستاد، سراجک اوستاد، جمتلا اوستاد، اېنځري اوستاد، ګلو اوستاد، عبدالصبور صبورک اوستاد، ډېراني او منګي اوستاد په خپلو اوزونو کې ویلې دي.:.

- ښادي والا د سرو خېمه ده
- شا یې په تخت کېنولو لکه سرداره
- خپل او خپلوان یې د سروزرو تنابونه
- شا یې په تخت کېنولو لکه سرداره

- نستوني بډ وهئ ګډېږئ
- شا یې په تخت کېنولو لکه سرداره
- د لغمانیانو ښادي کله، کله وینه
- شا یې په تخت کېنولو لکه سرداره

- زه دې په دوې وو کې کرم خدایه
- شا یې په تخت کېنولو لکه سرداره
- چې د پلار کور کرم که له یاره سره څمه
- شا یې په تخت کېنولو لکه سرداره

- هرې ټیکۍ کې یار یادېږي
- شا یې په تخت کېنولو لکه سرداره
- خور یې وړنده کړې چې به ورور نه یادوینه
- شا یې په تخت کېنولو لکه سرداره

▲ دغه ښادي مو موبارک شه
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره
▲ يوه دې دا وي سل او يا دې نورې شينه
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره

▲ خدايه کراره کراري کې
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره
▲ زه او لالى به مې جوړه لغمان ته ځونه
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره

▲ په روغه زه د تولو يار وم
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره
▲ اوس چې بېيار يم څوک مې خواته نه راځينه
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره

▲ د شل کلن الک واده ده
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره
▲ کور او ګاوڼ ورته اتڼ کړي په کتاره
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره

▲ د غه ښادي زموږ خپله
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره
▲ خپل او خپلوان يې په سيلۍ ور ته راځينه
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره

▲ په نښا روغه، روغه اوړي
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره
▲ دواړه لاسونه ترې مېره تاو کړي دينه
▲ شا يې په تخت کېنولو لکه سرداره

## ۸. څلورمه ډله نیمکۍ مصرۍ (سروکه مصرۍ یا پام مصرۍ):.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله د څو سره یا څو مخه نیمکۍ مصرۍ نوم باندې نوموم، چې دې پښتو پېنځه او شپږ سره پېیله له پېنځه سره او شپږ سره نیمکۍ مصرۍ، مصرۍ تورې او نیمکۍ مصرۍ سره ورته ډېرې ځانګړې ځانګېړنې لري، چې ورته نیمکۍ مصرۍ وايي. په دغه ډول څېړې لري، درې سره نیمکۍ مصرۍ، څلور سره نیمکۍ مصرۍ، پېنځه سره نیمکۍ مصرۍ، شپږ سره نیمکۍ مصرۍ، اووه سره نیمکۍ مصرۍ، اته سره نیمکۍ مصرۍ، نهه سره نیمکۍ مصرۍ او لس سره نیمکۍ مصرۍ... . په ښه مندل کېږي. او نیمکۍ مصرۍ ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې له مصرۍ سره داسې دي. لکه:

### ۸. ۱ د نیمکۍ مصرۍ (سروکه مصرۍ یا پام مصرۍ) ځانګړې ځانګېړنې

۱:- ډېرې ښایسته وي، ۲:- ښه نادره توازن لري. ( چې لومړۍ د لاستې برخه یې لنډه او دویمه برخه یې چې تېره وي اوږده، د ثقل مرکز یې د مصرۍ دواړو مسرو ته ورته وي.)، ۳:- ډېر ژر تاثیر کوي، ۴:- انسان په یو وار له منځه وړي، ۵:- یوه وار یې سړي ته بس دی، ۶:- بېلابېلې بڼې لري، ۷:- درې خواوې یې سړی پرې کوي، ۸:- په پام او ناپامۍ کې انسان نه کړېکې باسي، ۹:- ډېرې لرغونې دي، ۱۰:- لرغونې اندازه کړل شوي، ۱۱:- لرغونې څېړل شوي، ۱۲:- د مصر هرمو غوندې جوړونکی یې معلوم نه دی، ۱۳:- لکه هرم پوره برابر شکل لري چې د الله کوم مخلوق رغولې دي، ۱۵:- زوروړې دي، ۱۶:- په هر ځای کې ترې ګټه اخستل کېږي، ۱۷:- د ننداړو شیان دي، ۱۸:- وهم لري، ۱۹:- زور دی، ۲۰:- په مینه ساتل کېږي، ۲۱:- تل انسان سره وي، ۲۲:- مکارې وي لکه لنډې مصرۍ تورې، ۲۳:- د مېرمنو د مستۍ او د سړو د سرلوړۍ توکي دي، ۲۴:- درندې دي، ۲۵:- سختې دي، ۲۶:- جوړول یې ګران دي، ۲۷:- ډېر ارزښت لري، ۲۸:- ننداړ چیانو ته یو ابلاغ وي، ۲۹:- مینه ناکې وي، انسان مینه پرې راځي، ۳۰:- په ډېره باریکۍ او مینه جوړول کېږي، ۳۱:- په خپل ځای کې کارول کېږي، ۳۲:- ډېرې اوږدې نه دي غېږې نېول ورسره سړی سترۍ کوي. ۳۳:- د میسو اونګ، وسپنې ګډولې، د سروزورګډولې، د سپین زرو اونګ او لرګنې ښه اصلې او شلخې جوړېږي.

او تاسو ته یې همداسې پرېږدم، په همدې ښه یې پوښ کې کوم.

هرې نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه او نیمکۍ ټیکۍ چې دغه پورته ځانګېړنې ودرلودلې نو هغو ته نیمکۍ مصرۍ وايي. تاسو نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او

نو بيا يې پېژنی چې دا نيمکۍ مصرۍ دي؛ چې له مصرۍ سکالو سره برابرې وي او دغه خصوصيات لري. نيمکۍ لنډۍ، نيمکۍ ټپه او نيمکۍ ټيکۍ دا پورته ۳۲ ځانګېرنې نه لري ببلوالی يې پر هـمدې کې دی.

## ۸. ۲ څلورمه ډله نيمکۍ مصرۍ: اې ,, ا ،،:. د څېړونکي شېږ سره ( شپږ مخه يا شپږ مسرېزه، شپږ مسرې لرونکي)، نيمکۍ مصرۍ دي چې سرليک يې دی ,, نيمکۍ:.

- په سرو منګولو مې بسته کـړه صدفونه
- بيا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- خولګۍ ورځـه خلک پوهيږي
- بيا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- سينه، سينه باندې مې مه کاوه خوبونه
- بيا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کـړه صدفونه
- بيا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- سترګې مې سترګو ته نږدې کړه
- بيا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- بيا مې څنګلو ځينې واړوه لاسونه
- بيا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کـړه صدفونه
- بيا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- شونډې مې غابښ باندې سورۍ کړه
- بيا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- چې څپلـه ژبـه باندې خپلې وينې څکمه

- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه

- ملګرې ما دې بېرې وان کړه
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه
- د اکلیاتوریس نوکې لاندې، لاندې څمه
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه

- خولګۍ ورځه خلک پوهېږي
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه
- ورځ کې پینځه ځله به زه غوسل کومه
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه

- جانانه بنځو کې زه نر شوم
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه
- د هر شروار ننه توزې زه ورته کومه
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شوندې راله راکړه چې څمه

- په خپلې ژمنې تینګار و کړه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- ولس جرګې به ننه واتې درلېږمه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- ربه له غیبو مې ثواب کړې
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- هغې دنیا کې مجردانو د صف شومه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- ربه هغې دنیا مې خیر کړې
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- بې پته یار مې د یهودو نوکر کړمه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- فردوسه! ځان سره مې ځان کړه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- زما تېر کې جوړ د وینو ځلېر شونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بيا دې شونډې راله راکړه چې څمه

کابل، د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ، دوېيمه کوټه. E۲۱٤, ۰٤:٤۰ pm , ۰۸ / ۰۱ / ۱۳۸۵،، ( صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۵۸ چوپرى )

## ۸. ۳ د نيمګړی مصرى ( پام مصرى يا سروکه مصرى) تعريف (څرګندونه، ښکارونه، نيمګړی ټپې د يوه توري يا مو سکالو تشريح کول).

د وی يا ويکيي له پامه نيمګړی مصرى هغې څو سرې پيېلي ته وايي چې د څو سره مصرى سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، څرنګوالى او څرګندوالى لري. او په اصطلاح کې هغه وګړنې، پياوړې، غښتلې، هېښونکې، سندريزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخيل ډکه پرله پسې توبه ( تکراري، بيابيا کولې، واروارترلې، ګرداني) پيېله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نيکونو او نياګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ،، ښ، ډ، ړ، ڼ، ی او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پيداييښت سره جوښت يې جوت کړي دي؛ له لندی، ټپه، ټيکی او مصرى څخه ورسته. پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکي بنې) يې پرته له ادبي بيرغي کولو (فلجياريزم، د بل چا افکار او ليکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنی نيمګړی مصرى د مسرو شمېر يې ۳، د څپو شمېر يې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوييکيو پرته دی. ( دفتنګونه , اليده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې يا کليمې دي چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، يې لا خوږوي، په بله مانا ديفتنګونه , غبرګغږونه يا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وايي چې د خپلواک او نيمواک په ملګرتيا منځ ته راځي او لکه يوستووی اواز يوه وار پتليز له خولې راوځي، د يوه غبرګغږ لومړی توک يوه خپلواک او دوېيم توک يې يوه نيم واک اواز وي، کله زورکی واله يې يا نرمه ،،ی،، او زرکی واله يې يا درنه يې ،،ی ،، او داسې نور. ديفتنګونه ,غبرګغږونه، ناترويېکي، ترويېکي، ستربل، اوستربل، پارنوييکي، بلنوييکي، اندېښنې، هېبجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، زويه!، شېرينه، يا الله، يه، وا!، وله!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، نو، الله، کنه!، راځه!، ګرانه!، يه کربانه!، يه پښتينه!، يه ځلميه!، هه بچيه!، يه کربانه!، ای الکه!، سفيره!،

وروره!، فردوسه!، لغمانۍیه!، بخته میره!، اخلا وه! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې... .)، نوموړي ټول د نیمکۍ مصرۍ توکي دي، چې کله د هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېرې وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښېلې کلیمي یا غونډلي لړې لري. خو ډېرې وخت د لومړۍ، دوېیمې درېیمې، څلورمې، پېنځمې او شپږمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. تر ډېره (هره یوه نه) هره نیمکۍ مصرۍ پښېله باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ،هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پایته رسېدلي وي، نیمکۍ مصرۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. او د شپږ سره نیمکۍ مصرۍ درېیمه او د پېنځمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې نیمکۍ مصرۍ، د لومړۍ او دوېیمې مسرې څلورمه او اتمه څپه؛ د درېمې مسرې څلورمه، اتمه او دولسمه څپه باندې زورنه وي او ډېرې وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي، په پیلنۍ، دوېیمې او درېیمې څپې د څلورګونو څپو ټولوالي باندې یې زورنه راځي او یا به د اوزونو ټېټوالي او لوړوالي په بڼه څپه باندې زورنه حسکېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې ښلوالی لري. په بله وینا نیمکۍ مصرۍ مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالي سره سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې او یوه دېرشتمې څپې خوږغږي د نیمکۍ مصرۍ مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ترڅنګه د نیمکۍ مصرۍ یوه بل رغنده ټوک ګڼل کېږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسکي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي، لکه په دوېیمه مسره کې دوې څپې ډېرې شوي دي او خوږ غږ یې ورته ځنډنی کړی دی. دغه پایني ټوکونه په یوه پېر کې له دغو درېواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې نهمې، اتلسمې، یوه دېرشتمې زورنې څپې له یوه څه اغېز سره نیمکۍ مصرۍ ته یوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو اندول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کې دی شي.

غوره سټه د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د نیمکۍ رغښت پنځ کوي، د نیمکۍ غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره نیمکۍ هغه دي چې د لنډۍ، ټپې، ټپکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکې نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې و لري، د دیفتنګونه او پارنویکي سره، خو له ایزې، انګۍ، پتۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پیېلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هایکویۍ، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلیزۍ، ناپېیلۍ او سلسلۍ؛ دې ټولو پېیلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی و لري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېرۍ بڼه له درې مسرو څخه رغښت مونډلی دی او زوکړه شوې، ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وې، پرې برلاسې وې، رڼ بېلوالی یا ګړندی فرق یې وکولی شې، ورته ګټلې وې او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی و شي.

کره موده يې راته معلومه نه ده، خو ۱۳۵۷ لېږدي کې لغمانۍ نيمکۍ مصرۍ وارې په ولس کې ويلي دي، او په ۷:۴۸:۲۶ ورسته له وخته ۳۰/ ۰۴/ ۲۰۱۴ زېږدي کې د سندرو هټۍوالو په غربز پوستکالو کې يې دوباره ثبت او خوندي کړي له پيلنۍ پيټي څخه څلورمه سندره ده، وخت: (وخت تاکل، نېټه ايښودل: پرسور برابرول: مهال: د موسيکي شېبه: پروخت، پرټاکلي وخت.). :.
۰۰:۰۳:۳۱:۱۲ ( رپه: ثانيې: د کيکې: ساعته) په وخت کې ويلې دي.

ما راوړي ګل دي ياره؛
▲ ستا له پاره مې تمبلي په اوربل دي ياره
ما راوړي ګل دي ياره؛
▲ ستا له پاره مې تمبلي په اوربل دي ياره

▲ نه به چرسي، وه!؛ له چرسو واوړي
؛ ما راوړي ګل دي ياره!
▲ نه به عاشق له معشوقو واخلي لاسونه؛ ګله! ما راوړي ګل دي ياره!
▲ ستا له پاره مې تمبلي په اوربل دي ياره

▲ د غم پوليس راپهسي ګرځي
؛ ما راوړي ګل دي ياره!
▲ زه د ليلا د سيني غل ختلی يمه؛ ياره! ما راوړي ګل دي ياره!
▲ ستا له پاره مې تمبلي په اوربل دي ياره

- علم خو تول درته ګواښېږي
  ؛ ما راوړي ګل دي یاره!
- سرتوره! مرګ به دې د چا له لاسه وینه؛ یاره!؛ ما راوړي ګل دي یاره!
- ستا له یاره مې ټمبلي په اوربل دي یاره

- کور دې په کلي کې معلوم ده
  ؛ ما راوړي ګل دي یاره!
- د بام په سر دې ګوشمالي کرلي دینه؛ یاره!؛ ما راوړي ګل دي یاره!
- ستا له یاره مې ټمبلي په اوربل دي یاره

- بس ده چې روغه سره و کړو
  ؛ ما راوړي ګل دي یاره!
- د کلانکارې جلۍ تګ مزه کوینه؛ یاره!؛ ما راوړي ګل دي یاره!
- ستا له یاره مې ټمبلي په اوربل دي یاره

**۸. ۱۳ څلورمه ډله نیمکۍ مصرۍ: تپې ,, ټ ،،:. لرغوني لغمانۍ نیمکۍ مصرۍ: دا لرغونې لغمانۍ سروکې ملاجان ملاګي اوستاد په کاستوري سور کې د ګل محمد یا ګلو اوستاد له پاره ویلي وو. په ۱۳۲۳ لیږدي کې یې د نوموړي په غوښتنه ویلې وې:.**

▲ وه! زه د چا لاس کله پرې دمه
ما به مې ماما خیره وي خپلې ډولۍ ته
▲ زه د چا لاس کله پرې دمه
ما به مې ماما خیره وي خپلې ډولۍ ته

▲ په نېمو شپو بیداره وسه؛ ما به مې ماما خیره وي
په غوږ به واورې، اوا! د وېشتلو فریادونه
ما به مې ماما خیره وي خپلې ډولۍ ته

▲ نصیب مې خپل دی را رسېږي؛ ما به مې ماما خیره وي
زه به د چا، نوا! په نصیب واچوم شرتونه
ما به مې ماما خیره وي خپلې ډولۍ ته

▲ اوښکې دې پاکې که مه ژاړه؛ ما به مې ماما خیره وي
الله بم بیا، وه! سره ملګري کړې مینه
ما به مې ماما خیره وي خپلې ډولۍ ته

▲ الله دې خپل وطن ته بوزه؛ ما به مې ماما خیره وي
خون دې زما، زما! له غاړې مه شه مسافره
ما به مې ماما خیره وي خپلې ډولۍ ته

▲ جانان زما نه مرور دی؛ ما به مې ماما خېره وي

زه مروره، او!؛ د تمام کلي نه يمه
ما به مې ماما خېره وي خپلې ډولی ته

▲ له دې خندې ونې دې ځار شمه؛ ما به مې ماما خېره وي

لکه سپځی، نو!؛ چې په کمره ولاړه وینه
ما به مې ماما خېره وي خپلې ډولی ته

▲ جانانه لاړې اسماني شوې؛ ما به مې ماما خېره وي

اسمان چې ځمکي، وه!؛ ته راځي قيامت به وينه
ما به مې ماما خېره وي خپلې ډولی ته

▲ صبر به کړم خېرې به نه کړمه؛ ما به مې ماما خېره وي

صبر سرور دی، او!؛ ځواني مرګ به شي مينه
ما به مې ماما خېره وي خپلې ډولی ته
زه د چا لاس کله پرې دمه
ما به مې ماما خېره وي خپلې ډولی ته

▲ شونډې شربت کړه ماته يې راکړه؛ ما به مې ماما خېره وي

د کمبېرې، نو!؛ په ډاګ کې جل وهلې يمه
ما به مې ماما خېره وي خپلې ډولی ته

▲ راځه چې روغه يې سره وکړو؛ ما به مې ماما خېره وي

خدای دې خفه، خفه!؛ زړونه خوشحاله کړي مينه
ما به مې ماما خېره وي خپلې ډولی ته
زه د چا لاس کله پرې دمه
ما به مې ماما خېره وي خپلې ډولی ته

**۸. ۱٤ څلورمه ډله نیمکۍ مصرۍ: جې ،، ج ،،:. لرغوني لغمانۍ نیمکۍ مصرۍ: دا لرغونې لغمانۍ سروکی په کاستوري سور کې ملاجان ملاګي اوستاد په ۱۳۲۳ لېږدي کې ویلې وې،:.**

- ای!؛ دیدن کوه مه مني کېږه؛ نن بیا جماله مړه ده
- په تش دیدن به دې ځوک نه حلال وینه؛ نن بیا جماله مړه ده
- د چینارو په لاره مه ځه لار اوړده ده؛ نن بیا جماله مړه ده
- د چینارو په لاره مه ځه لار اوړده ده؛ نن بیا جماله مړه ده

- یا خو به ما ته ښه ښکارېږي؛ نن بیا جماله مړه ده
- یا خو به ما ته ښه ښکارېږي؛ نن بیا جماله مړه ده
- یا دې په ټول وطن کې سارۍ نه وینمه؛ نن بیا جماله مړه ده

- ما دې په تا باندې حلال کړي؛ نن بیا جماله مړه ده
- ما دې په تا باندې حلال کړي؛ نن بیا جماله مړه ده
- لکه ځېرلی چې په رنځور حلاله وینه؛ نن بیا جماله مړه ده
- د چینارو په لاره مه ځه لاراوړده ده؛نن بیا جماله مړه ده ده
- اه هه!؛ د چینارو په لاره مه ځه لار اوړده ده؛ نن بیا جماله مړه ده

- یوه نېســـــتي بل جدایي شوه؛ نن بیا جماله مړه ده
- یوه نېســـــتي بل جدایي شوه؛ نن بیا جماله مړه ده
- نېستي د خــــدای ده جدایي مې ژړوینه؛ نن بیا جماله مړه ده

- وی؛! په نصیبو در سره یو شوم؛ نن بیا جماله مړه ده
- په نصیبو در ســره یو شــوم؛ نن بیا جماله مړه ده
- ما خو په داسې خلکو چرګ نه خرسونه؛ نن بیا جماله مړه ده
- د چینارو په لاره مه ځه لار اوړده ده؛ نن بیا جماله مړه ده

- دیدن مې کور ته په سې وپوړ؛ نن بیا جماله مړه ده
- دیدن مې کور ته په سې وپوړ؛ نن بیا جماله مړه ده
- په کدر دان جانان مې ځان بپکدره کنه؛ نن بیا جماله مړه ده

- خوله دې د سرو زرو راشه ده؛ نن بیا جماله مړه ده
- خوله دې د سرو زرو راشه ده؛ نن بیا جماله مړه ده
- کوم بختور به ورته غوندی غوړوینه؛ نن بیا جماله مړه ده
- د چینارو په لاره مه ځه لار اوړده ده؛ نن بیا جماله مړه ده

د دې نیمکۍ مصرۍ د زوکړې موده نامعلومه ده، له پخوانۍیو زمانو څخه یې وګړي خوله په خوله مهترلام کې وایي. له جګړو وړاندې په ۱۳۲۲ لېږدي کې ښه په درز کې رواني وې. د پېیلې له سکالو، له لومړي خوندي کوني، د ولس په کرارو ناستو په سته یې نومورې موده سپینې ته راغلې.
کره موده یې راته معلومه نه ده، خو په غږېزه پوستکالي ( اډیو) له پیټي ( کیسټو) څخه د سندرو هتۍوالو دوباره، اړولي دي. په دونۍ، ۴:۳۵:۵۲ ۲۰۱۶/۰۷/۰۳ زېږدي کې یې دوباره غږېزه پوستکالي خوندي کړي چې له څلورمې پیټې کې دوبیمه سندره ده، وخت: (وخت ټاکل، نېټه ایښودل: پرسور برابرول: مهال: د موسیکي شپبه: پروخت، پرټاکلي وخت). .:
۰۰:۰۲:۵۱:۱۵ ( رپه: ثانیې: د کیکې: ساعته) په وخت کې ویلي ده.

**۸. ۱۵ څلورمه ډله نیمکۍ مصرۍ: چې ,, چ ‹‹:. لرغوني لغمانۍ نیمکۍ مصرۍ: په بیروي سور کې ګلکي اوستاد له خپل زوی پینده محمد پینده سره په ۱۳۵۴ کې ویلې وې:.**

د یاراني منګی په لپه ډکوینه
▲ لیلا ګودر ته ځینه؛ لیلا!
د یاراني منګی په لپه ډکوینه؛ وه!
▲ لیلا ګودر ته ځینه؛ لیلا!

▲ چې مې د تورو زلفو وار وی؛ لیلا ګدر ته ځینه؛ وه! لیلا!
▲ یه! چې مې د تورو زلفو وار وی؛ لیلا ګدر ته ځینه یه! لیلا!
سهار کې یار وی بې پــروا به کرځیدمه؛ لیلا ګدر ته ځینه
د یاراني منګی په لپه ډکوینه
لیلا ګدر ته ځینه؛ لیلا!

▲ زړه مې د غم قصه خانه ده؛ وه! لیلا ګدر ته ځینه؛ لیلا!
د پېښور ډمې دوګړې په کې وهینه؛ لیلا ګودر ته ځینه؛ لیلا
د یاراني منګی په لپه ډکوینه
لیلا ګدر ته ځینه؛ لیلا!

**۸. ۱٦ څلورمه ډله نیمکۍ مصرۍ: ځې ,, خ ،،:. لرغوني لغمانۍ نیمکۍ مصرۍ: په کاستوري سور کې ګلکي اوستاد ویلې او ملاجان ملاکي اوستاد هم ویلې ده، په ۱۳۲۸ لیږدي کې ویلې دي، او دوباره قاري او قاسم ویلې دي په ۱۳۶۸ لیږدي کې:.**

▲ دا وړه لیلا په کړا وو اوبه راوړینه

▲ دا وړه لیلا په کړا وو اوبه راوړینه

▲ زلفې پر مخ باندې خورې کړې

تال یې ترې جوړ کړه خپل اشنا پرې زنګوینه؛ دا وړه لیلا؛ وۍ!

▲ چې مور یې وي، نو!؛ منګۍ به ور کړي

چې مور یې نه وي الکان به څوروینه؛ دا وړه لیلا؛

▲ ارمان به و کې وار به تېر وي

بیا به وطن راپسې چاڼ کړې نه به یمه؛ دا وړه لیلا؛ وۍ!

▲ بلا ( بلحه) دې واخلم قاسم خانه!

زما د زړه ستنې پر تا ولاړې دینه؛ دا وړه لیلا؛

▲ د تحمتونو یار دې زه موم

وۍ!؛ پتاسو دسمال دې بر کلي ته ځینه؛ دا وړه لیلا؛ وه!

▲ د پتاسې، نو!؛ په شان خوږه یې

څومره اوږده یې لړ راتوله شه مینه؛ دا وړه لیلا؛

▲ خیال دې په خوب کې را په یاد شي
د شپې مې ویخ کړي تر سبا سلګۍ وهمه؛ دا وړه لیلا؛ وی!

▲ منګی یې ووړ جوړ که کلاله
جلۍ وړه ده نرۍ ملا یې ماتوینه؛ دا وړه لیلا؛

▲ سینه دې بیم راته غبرګېږي
د چمچمار په شانتې هسکه غړۍ وړمه؛ دا وړه لیلا؛

▲ زلفې مې مه لنډه موري
مار چې لنډۍ شي دوې ځلي خولې لړوینه؛ دا وړه لیلا؛

▲ ما ته په لپه اوبه را کړه
زه تګی نه یمه ستا نیت معلوممه؛ دا وړه لیلا؛ وو

▲ لاس دې تر زنې لاندې مه ږده
ستا به ادت وي ما به ورک کړې له وطنه؛ دا وړه لیلا؛ وی

▲ لمر په تندي راغی غرمه شوه
ورځ مې کړه شوه لیلا خوله نه راکوینه؛ دا وړه لیلا
دا وړه لیلا؛ په کړا وو اوبه راوړینه
دا وړه لیلا؛ په کړا وو اوبه راوړینه

▲ که چا لونګ لیدلی نه وي
پیغله خوله کړه، او!؛ د لونګو بوی ترې ځینه؛ دا وړه لیلا
دا وړه لیلا؛ په کړا وو اوبه راوړینه

▲ د کټل څه اوبه څړې دي
د منځګل پېغلې منګي ترې ډکوينه؛ دا وړه ليلا

▲ منګي يې ټول په ډنډ غوټه کړه
د ياراني منګى په ليو ډکوينه؛ دا وړه ليلا

▲ په نيمو شپو بيداره و سه!
په غوږ به واورې د وېشتلو فريادونه؛ دا وړه ليلا

▲ جانان اتل دى راتلى نه شي
سپينه خولګى به په پاکټ کې ور ليږمه؛ دا وړه ليلا

▲ يوه د اخيره اخير دې دا وي
زه چې راتلم وربل يې نوى جوړه ونه؛ دا وړه ليلا

▲ يوه د اخيره مصرى دې دا وي
اخير يې مه کړې د ځوانانو مجلسونه؛ دا وړه ليلا
دا وړه ليلا؛ په کړا وو اوبه راوړينه
دا وړه ليلا؛ په کړا وو اوبه راوړينه

**۸. ۱۷ څلورمه ډله نیمکۍ مصرۍ: څې ,, خ ،،:. لرغوني لغمانۍ نیمکۍ مصرۍ: په کاستوري سور کې ګلکي اوستاد او ملاجان ملاګي اوستاد په ۱۳۲۸ لېږدي کې ویلې وې او قاري عبدالحادي او قاسم په ۱۳۶۸ لېږدي کې دوباره ویلې دي:.**

▲ یا یې کیچې کړه یا یې واړه وه سرونه
دا تورې زلفې دې پرمخ وهي ټالونه

▲ دې چا چې خپله ابۍ نه وي؛ لیونو!
دا تورې زلفې دې پرمخ وهي ټالونه
د دادا کور دې په کنډر حسابوینه؛ لیونو!

▲ وه!؛ منډې مې ډېرې په سې و کړې؛ لیونو!
دا تورې زلفې دې پرمخ وهي ټالونه
ورځ د اځل کې جدایي لیکلي ونه؛ لیونو!
دا تورې زلفې دې پرمخ وهي ټالونه
یا یې کیچې کړه یا یې واړه وه سرونه
دا تورې زلفې دې پرمخ وهي ټالونه

▲ وه!؛ خرګړی نه یم چې لمبه شم؛ لیونو!
دا تورې زلفې دې پرمخ وهي ټالونه
خاکي بنده یم غوښې ورو، ورو تویومه؛ لیونو!

▲ وه، ځما د سر په کار ده یاره؛ لیونو!
دا تورې زلفې دې پرمخ وهي ټالونه
مال ده ښه دروځي چې زه اور پرې لړومه؛ لیونو!

▲ وه!؛ خالي به پاتې شي میدانه؛ لېونو!
دا تورې زلفې دې پرمخ وهې تالونه
مسافر کېږي باروي وطن ته ځینه؛ لېونو!

▲ وه!؛ مسافري دې ډېره و کړه؛ لېونو!
دا تورې زلفې دې پرمخ وهې تالونه
خدای دې سوب په خپل وطن و کړه مینه؛ لېونو!

▲ راځه چې روغه يې سره و کړو؛ لېونو!
دا تورې زلفې دې پرمخ وهې تالونه
څوک چې خفه وي هغه دې خدای خوشحاله کړينه؛ لېونو!
دا تورې زلفې دې پرمخ وهې تالونه
يا يې کيچې کړه يا يې واړه وه سرونه
دا تورې زلفې دې پرمخ وهې تالونه

**۱۸.۸ څلورمه ډله نیمکۍ مصری: خې ,, خ ،،:. لرغوني لغمانۍ نیمکۍ مصری: ملاجان ملاګي اوستاد په بیروي سر کې په ۱۳۵۷ کې ویلې وې، نوموړې مصری نیمکۍ بڼه د مصری اېزو او چاربیتې تر منځ پول او ژی ده. ډېر نږدې پېر د دې پېیلو دی چې اېزې او چاربیتې ته واوړې؛ په بله مانا د دوی تر منځ پوله ده.:.**

▲ راځه ځلمیه! دنیا رڼا ده سر نه لرې کړه زړه برستنه؛ د تمبلی
راځه ځلمیه! دنیا رڼا ده سر نه لرې کړه زړه برستنه؛ د تمبلی

▲ وی! د پوهـــې لــمر دنیا رڼا کړه؛ را پورته شه ژر
▲ رڼا یې هســــــکه شا او خوا کــړه؛ راپورته شه ژر
راځه ځلمیه! چې تول ګلان کړې اریانا دا سپیره ډاګونه؛ په خپلواکی
راځه ځلمیه! دنیا رڼا ده سر نه لرې کړه زړه برستنه؛ د تمبلی

▲ د ازادۍ بیـــرغ کـــــه پـــورته؛ را وې رپه وه
▲ ځوانان یې تول کړه هرې لور ته؛ را وې رپه وه
راځه ځلمیه! ترخو به وایو ببولالې او زاړه ترزونه؛ په لوده ګی
راځه ځلمیه! دنیا رڼا ده سر نه لرې کړه زړه برستنه؛ د تمبلی

▲ د وینــــــو درد ســــره اشنا شه؛ په نن عصر کې
▲ د قــــام دردو لـــــره دوا شه؛ په نن عصر کې
راځه ځلمیه! خپلې کوډلې کره په علم طلایې قصرونه؛ په سیالی
راځه ځلمیه! دنیا رڼا ده سر نه لرې کړه زړه برستنه؛ د تمبلی

▲ ځان کړه مصدر د نوي نســـل؛ غیرت ده په کار
▲ له توپــانــو سره شه وصـــل؛ غیرت ده په کار
راځه ځلمیه! په غوږو وا وره د مختار تنکي شپرونه؛ په خوشحالی
راځه ځلمیه! دنیا رڼا ده سر نه لرې کړه زړه برستنه؛ د تمبلی

## ۸. ۱۹ لومړی ډله نیمکۍ مصرۍ: دې ,, د ،،:. لرغونې وګړنې نیمکۍ مصرۍ:

دا لرغونې وګړنې سروکه مصرۍ یا پام مصرۍ کاستوري غرنې  سور کې د افغانستان سرغندوي سندرغاړي الله بخښلي خان قره باغي چې د نورمحمد ترکي کليوال و، نومورۍ د خلقيانو واکمنۍ په دوران د پښتنو غوره دود او فرهنګ ساتلو خوندي کونکۍ وګړی و، د هغه دور د پښتنو د ټنګټکور او پيپلو سرغندوی سندرغاړی و، چې د نورمحمد ترکي سلطان يې باله، په  ۱۳۵۷ لېږدي ( ۱۹۷۸ ) زيږدي کې يې لاندېنۍ نیمکۍ مصرۍ ويلې وې.

کره موده يې راته معلومه نه ده، خو نوموړي له جګړو وړاندې څو وارې په ولس کې ويلې دي، او په ۳:۴۶:۲۶  ۰۷ /۱۱ /۲۰۱۳ زيږدي کې د سندرو هتۍوالو په غږېز پوستکالو کې يې دوباره ثبت او خوندي کړي له پيلنی پېتې څخه اتمه سندره ده، وخت : (وخت ټاکل، نېټه اينبودل: پرسور برابرول: مهال: د موسيکي شېبه: پروخت، پرټاکلي وخت.). .: ۰۰:۰۴:۵۴:۰۵۵ ( رپه: ثانيې: د کيکې: ساعته) په وخت کې ويلې ده.

بويمه، اړېنه ده، په چار ده چې د لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ له پاينۍ مسرې سره کسر څرګندېږي، برابر راځي او اوز يا لحن يې هم روغ اوډون مومي، پاينۍ ۲ مسرې چې سروکۍ دی، له دوې مسرو څخه چې لومړی مسره يې يا اوږده مسرې ۱۳ څپيزه ده؛ دوېيمه يوه ۹ څپيز ده او غږ په لوړ ساتې ۲۲ څپې کيږي. د نیمکۍ کسر( مطلع ) يې وګڼو چې لومړی يوه کسر ( مطلع  ) لري او ورپسې يې هره لنډۍ بندونه دي، کسر يې له دوې مسرو چې لومړۍ يې اوږد ۱۳ څپې او لنډه مسرې ۹ څپې څخه جوړ دی، چې بيا د پنېبله يې تړون له مخې له هر بند سره ځای، ځای يا ټول تکرارېږي.

رښته نیمکۍ يې مصرۍ ده چې له څلورو لنډۍيو سره بېخباري کيږي، ټولې سړو ته منسوبې دي.
ټولې نیمکۍ مصرۍ په دې بنه ويل شوي چې پيلنۍ مسرې يې وايې، غږ په کې په لوړ وي، پتليزه ورسره دوېيمه اوږده مسره دوې وارې وايې، او ,, اوو! ،، پارنوېکی پتليز ويل شوی په وت سره يا سرباري دی ورسره.
د سروکي دربيمه مسره يا کوشنۍ مسره ورسره لارغه پيست شوی، بيا ورسره اوږده مسره يا لومړی مسره پتليزه ويل شوې چې کسره لري.
او په همدې بنه دواړه له مسرې له دوېيمې لنډۍ مسرې څخه ورسته تکرارېږي. يا بيخباري کيږي.

چې نوموړې نیمګړی مصرۍ پینځه لارغې لري، ۵۹ څپې ده.
چې په ټوله کې ۴ داني پینځه سره نیمګړی مصرۍ دي چې
(( ۲۲+ ۲۲ ) + ( ۳*۵۹) + (۵۹+ ۴۸)) = ((۴۴ ) + (۱۷۷) + ( ۱۰۷)) = ( ۳۲۸
) څپې کېږي.

په سر کې د سروکي، پام، نیمګړی یا رښته نیمګړی یا رښته سروکي یوه وارې تکرار یا دوې وارې ویل د دې له پاره دي چې ځوانان د اتڼ له پاره او سندر غاړی د خوړلن غږ له پاره ځانونه چمتو( برابر، اماده، جوړ، تیار) کړي.
په پایني نیمګړی مصرۍ کې یا څلورمه نیمګړی مصرۍ کې رښته نیمګړی کوشنی مسري یوه وارې وایې او اوږده یې دوې وارې وایې؛ بیا یې په همدې بنه تکراروي یا دوې وارې بېخباري ویل یا کوشنی مسرۍ ویل؛ بیا اوږده، بیا د اوږدې تکرار، بیا کوشنی، بیا د اوږدې دوې وارې ویل؛ د دې له پاره دي چې ځوانان چټک، ګړندي، د اتڼ او د سندرې پای له پاره ځانونه چمتو( برابر، اماده، جوړ، تیار) کړي.

د میني پالني لوړ حس، د میني ستاې، سپېڅلې پښتیانه چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځې زېرنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې لرغوني پېر یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
حیات الله قراباغی زوی یې ورته رباب وهي، کوشنی زوی یې ورته ډول وهي، بل ځوی یې ټوله، زنګلرونکي دیرا او خپله ارمونیه ( باجه ) وهي.
په دې بنه یې لرغوني وګړني نیمګړی مصرۍ ویلې دي:.

بانه دې ان د میني غېشې وارووینه
سترګې دې ډېرې ښکلې دینه
بانه دې ان د میني غېشې وارووینه
سترګې دې ډېرې ښکلې دینه

▲ سترګې دې ښې دي څې واړې دي

وه!؛ که لړې غتې خو خوړلی به دې ومه
وه!؛ که لړې غتې خو خوړلی به دې ومه
سترګې دې ډېرې ښکلې دینه
بانه دې ان د میني غېشې وارووینه

▲ سترګو دې سرې ناغې پيدا کړې

وه!؛ د ناغه دارو سترګو څوک تاکت (طاقت) لرينه
وه!؛ د ناغه دارو سترګو څوک تاکت (طاقت) لرينه

سترګې دې ډېرې ښکلې دينه
بانه دې ان د مينې غېشې واروينه

▲ سترګې دې مړې را واړولې

وه؛ ګمان مې کېږي له يارۍ اخلې لاسونه
وه؛ ګمان مې کېږي له يارۍ اخلې لاسونه

سترګې دې ډېرې ښکلې دينه
د لومو غېشې له ململ وتلې دينه

▲ سترګو دې سرې ناغې پيدا کړې

وه!؛ د ناغه دارو سترګو څوک تاکت لرينه
وه!؛ د ناغه دارو سترګو څوک تاکت لرينه

سترګې دې ډېرې ښکلې دينه
بانه دې ان د مينې غېشې واروينه
بانه دې ان د مينې غېشې واروينه
سترګې دې ډېرې ښکلې دينه
بانه دې ان د مينې غېشې واروينه
بانه دې ان د مينې غېشې واروينه

## ۹. د نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ آړوتی (شرط)

د نیمکۍ لنډۍ (پام لنډۍ یا سروکه لنډۍ)، نیمکۍ ټپه (پام ټپه یا سروکه ټپه)، نیمکۍ ټیکۍ (پام ټیکۍ یا سروکه ټیکۍ) او نیمکۍ مصرۍ (پام مصرۍ یا سروکه مصرۍ) آړوتي (شرطونو) له پاره زما څېړنه داسې ښودل شوې، یا زما پلټنه داسې په ډاګه شوې یا زده کړه داسې ښایي:

د نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ آړوتي ( شرطي ) غني کول یې په دې بنه کېږي چې خپله یې ګڼلې و ګڼو؛ یادې یې کړو؛ وې لوالو؛ لورا لور؛ کور راکور، و یې نازوو، په خبرو اترو، یادونو، خپرونو، لیکلو، ترانې، سرلیک، سرلیکنه، سرلیکه، سرمخ، په ډېریو ځایونو کې ان په خپل سروېږدي باندې چې خپل سر ږدو لږ تر لږه لس داني یې له یادو یادې کړو او و یې لیکو په لیکانې یا په پوسټکالو کې.

په دې سره موږ کابو موندلی شو چې د خپلې خوږې او منلې ژبې رښت مو ادا کړی وي. په همدو کې د پښتونوالي او خپلې ژبې ټول کوډونه شتون لري. لکه: درناوی، هڅه، اړې، مرسته، لاسنیوی، غیرت، پګړۍ، تره، خپلوي، پالنه، لېوالتیا، ټولواکي، خپلواکي، لوړ د ټاټوبې پالنې حس ,, څټکړنو،، (صفي الله، ۱۴۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۶۷، ۲۳ ) بډاینه، د ژوند د نیکمرغۍ شفر، مینه، مېنه، مېرانه، اتلولي، کرکېله، کرکه، ودنه، جغات، پرېکړه، وته، جرګه، جګړه، سربښندنه، ولاړه، ننواتي، انشر، ورورولي، سوله ستاړه، سولېز، رښت، الله پاله، اسلاموالـه، تر ټولو خوږمن یې خپله ژبه او په خپله ژبه ودرېدل.

څکه چې ژبه مو په خپله خوله کې ده، اوړې او را اوړې په کې، له همدې ژبې باندې خپل نوموړي خواږه توکي را باستل او ویل خپل پښت مو زرو کلونو ته رسوي. په هغه بڼه چې له لرغون پېره څخه موږ ته سینه په سینه او خوله په خوله ځیني له ځني رارسېدلي دي. زموږ له لوري مو زوزان خوله په خوله او سینه په سینه خپلو زوزات ته رسوي. هغه برخي چې تر ټولو ستاسو ډېر په زړه پورې وي، همغه یې له یادو یادې کړئ او خپلې شېبې مو پرې خوښمنې ساتئ.

درنو!؟ د دې پایله ساده برابر وي د نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ آړوتي غني کول لکه د باندنیو هېوادونو وګړي چې خپله ژبه درنه ګڼې په خپله یې هم وایي، لیکي او خپلو زوزان ( وړو، کوشنیانو، زوزات) ته یې هم زده کوي. دا د دې سبب کېږي چې په نوموړو باندې ښوونه او روزنه و کړي؛ غوره تربیه ترې اخلي؛ په علمي برخه، وټېزه برخه او نوي عصري برخه کې یې د زهن چابککېدل، هوښیارېدل او بلا کېدل ډېروالی مومي. او د ژبني دښمن ژبې ور ته په خوله کې کړۍ کوي.

## ۱۰. د نیمکۍ لنډۍ، نیمکی ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ آر (اصل)

پښتو ژبې نیمکۍ لنډۍ، نیمکی ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ له آره د پښتون او پښتنې له خولې وتلې وینګونه، غږونه او پيېلې دي چې د آرياني قوم يوه څانګه ده. دا هغه آرياني پښت دی چې د ځمکې په سر پرې ۷۰۰۰۰۰۰ اوويا ميليونه ګڼه ګوڼه خبرې اترې کوي؛ د نړۍ والو د ژبې له ونې څخه هغه ښاخ دی چې تر ټولو ډېر د ژبو ونو ډډ ته نږدېوالی لري؛ هغه ښاخ دی چې د ګړيدونکي ژوي لاس ورته لومړی رسيږي؛ د ژبو له ډډ څخه ورته لومړی پل خوندي کېږي چې نورو ژبو ته پرې پورته کېږي. لکه خوندي ژبنی پل پوړ؛ د ژبو د ونې له څېړې پښتو هغه آرياني ژبې ښاخ دی چې د ژبو ونې ملې، ډنډر او ځمکې څخه لږ واټن لري؛ تر ټولو ژبو د ژبو ونې ملو يا رېښو ته ډېر نږدېوالی لري؛ تر ټولو زوړ ډنډر، ښاخ له ډډ څخه دی چې څانګه يې زړې خو ټينګې او قوي پاڼې لري.

د نړۍ ټولې ۶۵۰۰ ژبې کې چې رېښې يې خړوب کېږي، لومړی د همدې پښتو ژبې ښاخ دی؛ د لمر وړانګو روښنايي او اکسيجن يا هواويچه همدې ښاخ رېښو ورکړي ده چې د ويکيو وينګونو رېښې يې تر ډېره سره نږدېوالی لري.

,, د نړۍ پر ټولو ژبو کې لومړۍ، بډايه او پرمختللې ژبه زموږ د تربورانو ژبه ده چې زموږ څخه ورسته زوکړه شوې؛ ټول کال به يې يوازې سپينې وګرې خوړلې زموږ ګاونډۍ ژبه ده چې ځواک يې خپلو خپل ژبو په لاس کې دی؛ هغه د چين اساسي لهجه ده چې (۱،۲۱۳،۰۰۰،۰۰۰) يوه بيليون او دوې سوه او ديارلس ميلونه تنه پرې خبرې کوي.

بله دا چې که اېنګلېسي ژبه (۱،۲۰۰،۰۰۰) يوه ميلون دوې سوه زره وييکي ( لغات) لري، عربي او روسي ژبه بيا (۹۰۰،۰۰۰) نهه سوه زره وييکي لري، پښتو ژبه (۶۰۰،۰۰۰) شپږ سوه زره وييکي لري او دري يا فارسي ژبه بيا (۴۰۰،۰۰۰) څلور سوه زره وييکي لري.

دلته په يوه نه يوه نوم داسې کسان شتون لري؛ چې د خپلې ژبې له ويوکو سرا تربګني لري؛ په کومو چې نه پوهېږي؛ هغه بيا ناګڼلې ګڼي؛ په دې سره به لازمي وي؛ چې پښتو خپل کره وی (لغات) له منځ لاړ شي. ما ايله (۴۰،۰۰۰) وييکي نه دي زده کړي، نو دا د دې مانا نه لري، چې پښتو ژبه دې الله مه کړه نيمګړې وي. خو زه به په نورو پاتې (۵۶۰،۰۰۰) پښتو ويوکو نه پوهېږم.،، (صفي الله، ۱۳۸۸ لېږدی کال، ننه توزې (پيليزه، سريزه، مخکې وينا، مقدمه )، ۷۲ چوپړی).

د ژبو له ربښو څخه ټول آریاني ویکیي د نورو ژبو ویکیي د ډېرو آرپوهانو (ایټېمولوجېستانو) د څېړنو له مخې په ټکرویي (تصادفي لغات ) زباده شوي دي.

پښتو ژبه او د نوموړې ژبې وګړنې پیېلې نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ ډېر په حسن، ډول، ښایست، بډاینه، زېرمه او خوږلنتوب آراسته ده.

په آري رښت کې پیلنی د بشر پښت ډېرېدنه په ټوله نړۍ کې له بخدي څخه شوی، منځنی یا دوېیم له پنجاب د سیند غاړو هند څخه شوی او پاینی یا درېیم د چین له اغیور د سیند له غاړو څخه شوی. څومره چې د دوو ژبو تر منځ یا د دوو ژبو او درېیمې ژبې ترمنځ اړېکه او راکړه ورکړه ډېره وي، همغومره د دوی تر منځ په ژباړه کې د کارېدونکي مېټافریز او پارافرېز نسبت ډېر وي.

خو د غونډ د ایکولوژیکي مناسب ځای د بدلون له امله، ځینې پېر دودیزه آرپوهه (Etymology) په یوه او یا بله ژبه کې د شته مانا له پاره د یوه لارښود په توګه غلتوونکې وي. یوې وۍ غږ د بلې ژبې په بله او په بله ژبه کې په بله مانا وي.

لکه:. کور وۍ د پښتو ژبې هستوګنځي ته وایي چې وګړي په کې ژوند ګړ وي. او په دري، تاجکي، فارسي ژبه کې د ړوند مانا ورکوي هغه تن چې سترګې یې نه وي او یا یې سترګې کار نه کوي، په اېنګلېسي کې کور یا Core د هر شي منځ ( هسته )، مرکز، منځ کښل یا منځه یا هسته را اېستلو ته وایي. او په چینایي، روسي، جرمني، فرانسه، پشه یي، بلوچي، ازبېکي، ترکیي، عربي کي د کور وۍ بېیله، بېبله مانا لري.

ځای، ځای په نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ کې ترې ګټنې اخستل شوي دي.

د نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ آر ( اصل) په ډانګ پیېلې وینا له آریاني پښت څخه دی چې پینځه زره او اووه څلوېښت کاله پخوا په لمپاکا (لغمان) کې د مهترلام، الېنګار، الېشنګ سیند په غاړو او شا او خوا کې ژونګړ وو، د لمک زوی نوح ع په کې ژوند کړی او پلار یې په کې ښخ دی. له دې سیمې څخه د وګړو لېږ بلخ، بخدي او آمو سیند په غاړو او شا او خواته شوی دی، په آر کې پښتو د همدې خلکو ژبه وه.

اوس، اوس په روان پېر کې په ټوله پېنی (نړۍ) کې پښتون پښت کډوال شوی او استوګن شوي دي، په لومړي ځل په نړۍ وال فضايي تمځای (سټيشن) فضا يا مريخ کې په پښتو ژبه خبرې شوې، د غوړکي له لارې له ځمکې څخه پرې غورې او پلټني شوې دي، د ډګروال عبدالاحد مومند له لوري د پښتو ژبې نوموړې پېيلي ويل شوې دي او په ټوله نړۍ کې پښتون پښت نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټيکۍ او نیمکۍ مصرۍ يوې، دوې، درې دانې په يادو يادې لري او وايي يې په خبرو اترو کې. لکه فردوس

▲ ستا رنګ انـار غونډي ښکارېږي

▲ ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي

▲ بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

▲ زما دې رنګ د مکيانډې واړه ونه

▲ ګنهکار، ګنهکار چې په بل وطن کې دي

بختور، بختور چې په خپل وطن کې دي

د لنډپېره تعريفونو له پاره اې (ا). نیمکۍ لنډۍ؛ بې ( ب). نیمکۍ ټپه؛ پې ( پ). نیمکۍ ټيکۍ او تې ( ت). نیمکۍ مصرۍ پورې لکه څنګه چې اې (ا). څېره وايي او پيله يې ساده برابروي داسې: د آر (اصل ) له پاره و وينئ.

## ۱۱. د نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ پېښلیک (تاریخ)

د غوره نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ منلو له پاره لاندې پوړونه په پام کې نېسو:

د لرغون پېر څخه غوره پېښلیک په ټولیز بڼه هغه منل کېږي چې د نکلونو سلسلې (د روایاتو سلسلې)؛ زنځېري بڼې په ډول سره تړلې وي، ربښتنې وي، د وګړو پېژند یې څرګند وي، د غوره وکړو له لوري څخه نکل شوي وي چې د روغ هوښ (دماغ: حافظه، فکر، عقل، پام، اداره، میل، ذوق یادول، پام کول، په فکر کې ساتل، یاد لرل، پروا لرل؛ چورت خراپول؛ رای وهل؛ بوختېدل، په نظر کې لرل؛ پام کول، باندې څرل، پاملرنه کول) تن وي، د پښویي (ګرامر) له پامه بشپړ وي، بډایه وییزېمه ( د لغاتونو زېرمه یا ویکبلري) و لري، د پښت څېړنه و لري، په لیکني بڼه وي، له اریاني جغرافیه یې پېښلیک زوکړه شوی وي، د ټاټوبي له لویو ښکلیلاګرو د نادرې سوز ونې یا لولپه کېدلو پای کې خوله په خوله او سینه په سینه را رسېدلې وي ( ځکه په دې ټاټوبي کې له لرغون پېر څخه، بلواګرو او تړاکګرو لکه اېلېکزاندر مکېدانسکي اسکندر مقدوني، عربانو، فارسیانو، منګولیایانو چنګیز خان، اېنګلېسانو، روسانو، پنجابیانو، امریکایانو... . نادره نادودې کړې لیکني زېرمې یې سوزولې دي )، د نویو پېیلو او لرغونو پېیلو پرتلنه و لري.

دانو داسې نه ورته نه شو ویلی چې دا پېیلې دي لرغون پېر و نه لري، لرغون پېر لري، خو موږ ته د لرغون پېر ډېری پېیلې خوله په خوله راغلي دي، د ځینې پېیلو پېیلن او پېلنې پېژند یې هېڅ څرګند نه دی، دا نا څرګندتوب د دې مانا نه ورکوي، چې لرغونې دي نه وي، ځکه په دې ټوله غونډوسکه یا پینې کې لرغونی لیکی چې پاتې دی. هغه د بودا دی چې د ډبرو په مخ، پوستکو او دړو کښل شوی. زموږ د پښت د توکو، ځاینو، ستاینوم او هېښاندو یادونه په کې راغلې دي. تر روان پېره په سلګونو کتابونو د علومو اکاډمۍ، ملي ارشیف چې ما لیدلي او په کښلې بڼه شتون لري، نوموړې پېیلې چې یوه پر بل په سې پرله پسې راغلې دي د پېر په ستړه ما یې لمن راټوله کړې. ډېری یې چې له لرغون پېر څخه د پښتون پښت په خوله سینه په سینه لورا لور او کور را کور راغلې او زما ورته لاس رسی نه دی رسیدلی هغه را څخه پاتې دي.

بل لوري ته د دغو پېیلو پېښلیک ته چې ما لاس رسی په لیکني بڼه او یا په بربښنایي بڼه مندلي وو، په همغه پېر کې مې د لړ په شکل د ګڼې سره په لاندې بڼه خوندي کړې دي:.

١. لومړی خپلې د نوي پېر پېخلیک نیمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ یا سروکه لنډۍ) کښلې ( لیکلې) دي؛ د دې له پاره چې په خپلو وګړنې پېیلو خپله پوهه و نه لرې!!؟؛ پنځې دې پنځولې نه وي، د پښتو څېړنې پنځونې شپږ لورې ( مخته، شاته، ښکته، پورته ( سر ته او لاندې پخښو ته)، ښی او ګینې) ته نه وي کړې!!؟ او په نړۍ واله علمي بنه کښلی و نه شي نو د پیل پېر پېخلیک (لومړي وخت تاریخ یا اېرلي تیم هېسټري یا د لمک د وخت) د وګړو، لرغون پېر (مخزېږدي د وخت) وګړو، زوړ پېر (زېږدي د وخت یا د عیسا مسیح ع څخه تر محمد رسوال ص پېر پورې) و ګړو، نوي پېر (لېږدي د وخت د محمد رسوال ص څخه تر محمد ظاهر شاه واکمنۍ پېر پورې ) وګړو او رواون پېر وګړو د دې بڼه پېیلو د دننۍ سکالو، پنځې د پېخلیک کښلو لړۍ به په کومه بڼه و کړي. د دې له پاره مې لومړی خپلې پر له پسې و کښلې او بیا د دوی.

٢. ور پسې د لرغون پېر پېخلیک چې پېلن یې څرګند نه دي، خوله په خوله او سینه په سینه له یادو د و ګړو له لوري په ټنګور او نکل بڼه تر موږ را رسېدلې د لرغون ( لرغونی، ,, په تېره ،، د لغمانیانو او کونړیانو پښتنو په لاس د روم د باچا اېسکندر له وژلو او د روم د تمدن د لوېدو څخه پخوا ,, ٤٧٦ زېږدي یا میلادي،، : د پخواني زمانې سرې یا سرۍ یا پېیلن یا پېیلنې ,, شاعر یا شاعرې ،،: د تېرې زمانې سرۍ یا سرۍ، پېیلن یا پېیلنې پېیلې یا شبرونه چې یونیسکو یې لرغوني اسارو په نوم ثبت وي، هغه چې څوک ورته وړاندېز و کړي او د د دوی یادونې پوره کړي، سیاسي او ډیپلوماتیک بڼه یې و و مني او له ٥٨ کلونو ډېر عمر پرې تېر شوی وي هغه د یونیسکو لرغوني اسار نه یادوم.) پېر پېخلیک نیمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ یا سروکه لنډۍ) کښلې ( لیکلې) دي.

٣. ور پسې د زوړ (زېږدي) پېر پېخلیک نیمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ یا سروکه لنډۍ) کښلې ( لیکلې) دي. وار په وار یوه بل په سې په دې کښلې (کتاب) کې پورته شتون لري.

٤. ور پسې نوي پېر (لېږدي د وخت، د محمد رسوال ص څخه تر محمد ظاهر شاه واکمنۍ پېر پورې) پېر پېخلیک نیمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ یا سروکه لنډۍ) کښلې دي.

٥. ور پسې روان پېر (لېږدي ، د محمد داود د واکمنۍ پېر څخه پېل کېږي) پېر پېخلیک نیمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ یا سروکه لنډۍ) کښلې ( لیکلې) دي.

٦. دوېیم خپلې د نوي پېر پېخلیک نیمکۍ ټپې ( پام ټپې یا سروکه ټپې) کښلې دي.

۷. ور پسې د لرغون (مخزېړدي) پېر پېخلیک نیمکۍ ټپې ( پام ټپې یا سروکه ټپې) کښلې ( لیکلې) دي. وار په وار یوه بل په سې په دې کښلې (کتاب) کې پورته شتون لري.
۸. ور پسې د زوړ (زېړدي) پېر پېخلیک نیمکۍ ټپې ( پام ټپې یا سروکه ټپې) کښلې ( لیکلې) دي. وار په وار یوه بل په سې په دې کښلې (کتاب) کې پورته شتون لري.
۹. ور پسې نوي پېر (لېږدي د وخت، د محمد رسوال ص څخه تر محمد ظاهر شاه واکمنۍ پېر پورې) پېر پېخلیک نیمکۍ ټپې ( پام ټپې یا سروکه ټپې) کښلې دي.
۱۰. ور پسې روان پېر (لېږدي ، د محمد داود د واکمنۍ پېر څخه پېل کېږي) پېر پېخلیک نیمکۍ ټپې ( پام ټپې یا سروکه ټپې) کښلې دي.

۱۱. دریم خپلې د نوي پېر پېخلیک نیمکۍ ټیکۍ ( پام ټیکۍ یا سروکه ټیکۍ) کښلې دي.
۱۲. ور پسې د لرغون (مخزېړدي) پېر پېخلیک نیمکۍ ټیکۍ ( پام ټیکۍ یا سروکه ټیکۍ) کښلې ( لیکلې) دي. وار په وار یوه بل په سې په دې کښلې (کتاب) کې پورته شتون لري.
۱۳. ور پسې د زوړ (زېړدي) پېر پېخلیک نیمکۍ ټیکۍ ( پام ټیکۍ یا سروکه ټیکۍ) کښلې ( لیکلې) دي. وار په وار یوه بل په سې په دې کښلې (کتاب) کې پورته شتون لري.
۱٤. ور پسې نوي پېر (لېږدي د وخت، د محمد رسوال ص څخه تر محمد ظاهر شاه واکمنۍ پېر پورې) پېر پېخلیک نیمکۍ ټیکۍ ( پام ټیکۍ یا سروکه ټیکۍ) کښلې دي.
۱۵. ور پسې روان پېر (لېږدي ، د محمد داود د واکمنۍ پېر څخه پېل کېږي) پېر پېخلیک نیمکۍ ټیکۍ ( پام ټیکۍ یا سروکه ټیکۍ) کښلې دي.

۱٦. څلورم خپلې د نوي پېر پېخلیک نیمکۍ مصرۍ ( پام مصرۍ یا سروکه مصرۍ) کښلې دي.
۱۷. ور پسې د لرغون (مخزېړدي) پېر پېخلیک نیمکۍ مصرۍ ( پام مصرۍ یا سروکه مصرۍ) کښلې ( لیکلې) دي. وار په وار یوه بل په سې په دې کښلې (کتاب) کې پورته شتون لري.

۱۸. ور پسې د زوړ (زېږدي) پېر پېخليک نيمګی مصری ( پام مصری يا سروکه مصری) کښلي دي. وار په وار يوه بل په سي په دې کښلي (کتاب) کې پورته شتون لري.

۱۹. ور پسې نوي پېر (لېږدي د وخت، د محمد رسوال ص څخه تر محمد ظاهر شاه واکمنی پېر پورې) پېر پېخليک نيمګی مصری ( پام مصری يا سروکه مصری) کښلې دي.

۲۰. ور پسې روان پېر (لېږدي ، د محمد داود د واکمنۍ پېر څخه پيل کيږي) پېر پېخليک نيمګی مصری ( پام مصری يا سروکه مصری) کښلي دي.

د بې سربوله انګېرنې له پاره د روان پېر (لېږدي، د محمد داود د واکمنی پېر څخه پيل کيږي) پېر پېخليک نيمګی ټپې ( پام ټپې يا سروکه ټپې) کښنم او په لاندې بڼه يې دول په ګوته کوم:.

- زړګيه! مه مې وروله د يار په کلي بيا به و ژاړې
- کډې مې د يار له کلي ولاړې
- زړګيه! مه مې وروله د يار په کلي بيا به و ژاړې
- کډې مې د يار له کلي ولاړې

- لېونی لاړه کلی ړنګ شو؛ بيا به و ژاړې
- کډې مې د يار له کلي ولاړې
- لېونی لاړه کلی ړنګ شو؛ بيا به و ژاړې
- کډې مې د يار له کلي ولاړې
- اوس به په سرو لاسونو خوک ديرا وهينه؛ بيا به و ژاړې
- کډې مې د يار له کلي ولاړې
- زړګيه! مه مې وروله د يار په کلي بيا به و ژاړې
- کډې مې د يار له کلي ولاړې

▲ ما خو دروغ، دروغ ګڼله؛ بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې
▲ ما خو دروغ، دروغ ګڼله؛ بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې
▲ ښې لېونۍ مې رانه بل ته ودوینه؛ بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې
▲ زړګیه! مه مې وروله د یار په کلي بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې

▲ دیدنۍداره دې کړم خدایه؛ بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې
▲ دیدنۍداره دې کړم خدایه؛ بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې
▲ نصیب زما ده په ټکی یې بدلوینه؛ بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې
▲ زړګیه! مه مې وروله د یار په کلي بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې

▲ زړګیه! داغ به درته در کړم؛ بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې
▲ زړګیه! داغ به درته در کړم؛ بیا به و ژاړې
▲ کډې مې د یار له کلي ولاړې

▲ څې د شيرين جانان دې بيا و کړه پوښتنه؛ بيا به و ژاړې
▲ کډې مې د يار له کلي ولاړې

▲ ماته دې نه را کوي خير ده؛ بيا به و ژاړې
▲ کډې مې د يار له کلي ولاړې
▲ ماته دې نه را کوي خير ده؛ بيا به و ژاړې
▲ کډې مې د يار له کلي ولاړې
▲ په لېونى دې راته نه کوي ظلمونه؛ بيا به و ژاړې
▲ کډې مې د يار له کلي ولاړې
▲ زړګيه! مه مې وروله د يار په کلي بيا به و ژاړې
▲ کډې مې د يار له کلي ولاړې

## ۱۲. د نیمګړی لنډۍ، نیمګړی ټپه، نیمګړی ټیکۍ او نیمګړی مصرۍ پېر (وخت)

د نیمګړی لنډۍ، نیمګړی ټپه، نیمګړی ټیکۍ او نیمګړی مصرۍ پېر یا وخت: (وخت ټاکل، نېټه ایښودل: پر سور برابرول: وخت اندازه کول، وخت، دوران، نېټه: ټیك وخت، ټایم، وخت، بیدو، موده، موقع: دم، وار، ځل: ګړۍ، ساعت، شېبه، غوټه: مهال: د موسیکي شېبه: پروخت، پرټاکلي وخت.) سره بېلوالی لري.

نوموړې پېیلې چې د هر پېیلن او پېیلنې له خولې څخه را وځي. د پېر، ځای، د دوی دواړو بېلابېلو ډول او بڼو تابع ده. چې د پېر په څومره واټن سره یې بشپړ و لی شو.

د خوښۍ په پېر کې یوه ټاکلې شېبه د پېر په مېچه پښتون پښت وایي. د اندېښنې، مستۍ، سوکالۍ، غم په پېر کې په بېلا بېلو کچو د پېر کې وایو او بېلې ټاکلې مودې په لاس را کوي.

د یوې پېیلې د ویلو له پاره که د نوي پېر پېځلیک نیمګړی مصرۍ [نوي وخت تاریخ، لېږدي د وخت تاریخ، د محمد رسوال ص څخه تر محمد ظاهر شاه واکمنۍ پېر پورې، یا دې پېر کې کښل شوې نیمګړی مصرۍ یا پام مصرۍ یا سروکه مصرۍ] پېر مېچه کړم (پام مصرۍ پېر مېچه کړم یا سروکه مصرۍ پېر مېچه کړم).

۱. په کراره ویل یې یوه بڼه پېر ټاکي؛
۲. ګړندی یې بل بڼه پېر ټاکي؛
۳. په اواز کې یې بل بڼه پېر ټاکي؛

لکه ازان په کراره ناسته، مجلس کې په خبرو اترو یا نارمل خبرو کې په یوه بڼه پېر کې ویل کېږي؛ ازان په اقامت کې په یوه ګړندی بڼه پېر کې ویل کېږي؛ په ازان کې بیا په ډېر خوند او اواز سره اوږد بڼه ویل کېږي. چې په ګیځ کې په یوه واټن او خوند؛ په ماسپښین کې بل ډول او د پېر په واټن؛ مازیګر، ماښام او ماسخوتن په بل ډول په ټاکلي پېرمېچه لوستل کېږي؛ او ما کړی دی.

په همدې بڼه په ټنګټکور (موسیکۍ یا موسیقي) کې او پرته له ټنګټکوره بېلابېل واټن د پېر په لاس را کوي. که یوه لېواله خپل لېوال ته دا نیمګړی مصرۍ وایي په ویلو کې به په لاندې ډول د پېر وخت په پېرمېچه و ټاکو:.

▲ اووا؛ ساپــو ډېر وژلـــي دينه؛
د كونړ غلامحمده! باډېل له مه ځه!!
▲ اووا؛ خانه! مړ به دي روړينه؛
د كونړ غلامحمده! باډېل له مه ځه!!

▲ اووا؛ رب دي ابــــــاد لـره كونړه!؛ د كونړ غلامحمده!
سر دي ښورى اوا؛ چي لړم چيچلى يمه؛
د كونړ غلامحمده! باډېل له مه ځه!!

▲ يا الله!؛ وركوتى ما په يارئ پوى كه!؛ د كونړ غلامحمده!
په سره ښالو كي، اوا؛ ياالله!؛ د كونښو ترې بندونه؛
د كونړ غلامحمده! باډېل له مه ځه!!
اووا؛ ساپو ډېر وژلي دينه؛
د كونړ غلامحمده! باډېل ته مه ځه!!
اووا؛ خانه! مړ به دي روړينه؛
د كونړ غلامحمده! باډېل ته مه ځه!!

▲ اووا؛ كه ليونى در پسي نه شوم!؛ د كونړ غلامحمده!
اوا، نو؛ سودايي نوا؛ به تر كيامته پوري شمه؛
د كونړ غلامحمده! باډېل له مه ځه!!

▲ اووا؛ ګردنۍ تويک تر ملا كه!؛ د كونړ غلامحمده!
اوا، باډېل ته شا كه!؛ مهترلام ته ځه مينه؛
د كونړ غلامحمده! باډېل له مه ځه!!

▲ اووا؛ خلک له ځنې نه يار نيسي!؛ د كونړ غلامحمده!
اوا، ځه تاته ښو واري پخښنو ته ولويدمه؛
د كونړ غلامحمده! باډېل له مه ځه!!

▲ اوو!؛ غلی شه دمه شه کرار شه!؛ د کونړ غلامحمده!

او!، که الته لاړې او؛! په ولاړه مې ساه ځینه؛
د کونړ غلامحمده! بادېل له مه ځه!!

▲ اوو!؛ کاله نه راغلم مور ته ژاړم!؛ د کونړ غلامحمده!

کمپس مې لند دی په کې نه کېږي ډولونه؛
د کونړ غلامحمده! بادېل له مه ځه!!
اوو!؛ ساپو ډېر وژلي دینه؛
د کونړ غلامحمده! بادېل ته مه ځه!!
اوو!؛ خانه! مړ به دې روړینه؛
د کونړ غلامحمده! بادېل ته مه ځه!!

▲ اوو!؛ ماته په سترګو کې حال وایه!؛ د کونړ غلامحمده!

لاړې کوسې، یاالله!؛ له غمازانو ډکې دینه؛
د کونړ غلامحمده! بادېل له مه ځه!!

▲ اوو!؛ په خولې دې غږ راته و نه کړه!؛ د کونړ غلامحمده!

او!؛ د سترګو کونج کې دې او!؛ بانه و رپونه؛
د کونړ غلامحمده! بادېل له مه ځه!!

▲ اوو!؛ سودا د هغه دا په کې ده!؛ د کونړ غلامحمده!

او!؛ بل فرمایش د اپنځرګول راغی مینه؛
د کونړ غلامحمده! بادېل له مه ځه!!

,, دا نیمکۍ مصرۍ محلي سندرغاړو سید محمد او سید علم هم ویلې دي،،

**په ساده بڼه:** ۰۰:۰۲:۱۸:۱۷ (رپه: ثانیې: د کیکې: ساعته) په وخت کې وایي.
**په اواز بڼه:** ۰۰:۰۳:۶۰:۹۸ (رپه: ثانیې: د کیکې: ساعته) په وخت کې وایي.
**په خواږه غږ بڼه:** ۰۰:۰۴:۵۴:۰۷ (رپه: ثانیې: د کیکې: ساعته) په وخت کې وایي.

## ۱۳. د نیمکی لنډۍ، نیمکی ټپه، نیمکی ټیکۍ او نیمکی مصری پېبره (حاصل یا ثمره)

د یوې بې سروبوله انګېرنې له مخې نیمکۍیو د څېړنچوپړي انګړ یا نیمکۍیو د ریسرچ پانې (د ختېځ لومړي نمبر څېړونکي ماسټر اېنجینېر صفي الله فردوس په دې کښلې کې) د نیمکی لنډۍ، نیمکی ټپه، نیمکی ټیکۍ او نیمکی مصری پېبره (حاصل یا ثمره) کې عیبونه، تېروتنې او زما څرګندول چې رونوي کتنه داسې:

څېره ۱. اې (الف، ا) د ختېځ لومړي نمبر څېرونکي صفي الله فردوس ,, نیمکۍیو د څېړنچوپړي انګړ (نیمکۍیو د ریسرچ پانې) ،، لیکې کې د نیمکی لنډۍ (سروکی لنډۍ، سروکه لنډۍ یا پام لنډۍ)؛ نیمکی ټپه (سروکی ټپه، سروکه ټپه یا پام ټپه)؛ نیمکی ټیکی (سروکی ټیکۍ، سروکه ټیکۍ یا پام ټیکۍ) او نیمکی مصری (سروکی مصرۍ، سروکه مصری یا پام مصری) کچه، ۱۴۰۳ لېږدی (۲۰۲۴ زېږدی)،
( ګنه یې په: دانې)

زما پلټنه داسې په ډاګه شوې یا زما څېړنه داسې ښودل شوې ده په څېره ۱. کې:

۱. څېره ۱. اې (ا، الف) د ختېځ لومړي نمبر څېرونکي صفي الله فردوس ,, نیمکۍیو د څېړنچوپړي انګړ (نیمکۍیو د ریسرچ پانې) ،، لیکې کې د نیمکی لنډۍ، نیمکی ټپه، نیمکی ټیکی او نیمکی مصری کچه، ۱۴۰۳ لېږدی (۲۰۲۴ زېږدی)، ( ګنه یې په: دانې)
۲. ګنه:
۳. راټولونکي / لیکونکي نوم: ماسټر اېنجینېر صفي الله فردوس
٤. لیکی: نیمکۍیو د څېړنچوپړي انګړ (نیمکۍیو د ریسرچ پانو انګړ)
٥. چاپ کال: ۱۴۰۳ لېږدی
٦. ټول ټال نیمکی لنډۍ، نیمکی ټپه، نیمکی ټیکی او نیمکی مصری کچه: ۲٦۰
٧. ټول ټال سړو ته منسوبې ( اړوند) نیمکی لنډۍ، نیمکی ټپه، نیمکی ټیکی او نیمکی مصری کچه: ۱۶۱
٨. ټول ټال ښځو ته منسوبې (اړوند) د نیمکی لنډۍ، نیمکی ټپه، نیمکی ټیکی او نیمکی مصری کچه: ۹۹
۹. نیمکی لنډۍ Nimakéy Lánḍéy: ٦٥
۱۰. نیمکی ټپې Nimakéy Ṭapé: ۳۱
۱۱. نیمکی ټیکی Nimakéy Ṭikéy: ۸
۱۲. نیمکی مصری Nimakéy Mésréy: ۲۹

۱۳. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ نیمکی لنډی Nimakéy Lánḍéy: ۹٤

۱٤. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ نیمکی ټپې Nimakéy Ṭapé: ۳٦

۱۵. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ نیمکی ټیکی Nimakéy Ṭikéy: ۱

۱٦. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ نیمکی مصری Nimakéy Mésréy: ۳۰

۱۷. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ نیمکی لنډی Nimakéy Lánḍéy: ۲۲

۱۸. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ نیمکی ټپې Nimakéy Ṭapé: ۳۱

۱۹. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ نیمکی ټیکی Nimakéy Ṭikéy: ۱۸

۲۰. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ نیمکی مصری Nimakéy Mésréy: ۲۸

۲۱. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - :waná (ځرګند واو یا وې بېواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې نیمکی لنډی Nimakéy Lánḍéy: ۱۶

۲۲. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( ځرګنده یې یا لنډه یې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه او ینه؛ سره بشپړې شوې نیمکی لنډی Nimakéy Lánḍéy:

۲۳. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور ولري یا ربنتې پېښلې هې ,, ه ،، څخه مخکې ابېځه نې ,, ن ،، زور و لري) نه؛ سره بشپړې شوې نیمکی لنډی Nimakéy Lánḍéy: ۲۸

۲٤. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ( maná منه مجهوله هې) مه؛ سره بشپړې شوې نیمکی لنډی Nimakéy Lánḍéy: ۵

۲۵. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی , ه یا ـه :، maγolə, xwalə, tralə xpalə, ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې نیمکی لنډی Nimakéy Lánḍéy: ۱۲

۲٦. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورواله هې (زور) , ه یا ـه :، kaftará, zargará, konatawará baxtawará, aṛ, ará (کفتره، زرګره، کوناتوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې نیمکی لنډی Nimakéy Lánḍéy: ٤

۲۷. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ ونه - :wanáَ (ځرګند واو یا وي بېواک ,,و،، په غړ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې نیمکی تپې Nimakéy Ṭapé: ۱

۲۸. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( ځرګنده یي یا لنډه یي ,, ي،، په غړ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه او ینه ؛ سره بشپړې شوې نیمکی تپې Nimakéy Ṭapé:

۲۹. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور و لړي) نه؛ سره بشپړې شوې نیمکی تپې Nimakéy Ṭapé: ۲۷

۳۰. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ) maná منه مجهوله هي) مه؛ سره بشپړې شوې نیمکی تپې Nimakéy Ṭapé: ۳

۳۱. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زورکی ، ه یا ــه ،: maγolə, xwalə, tralə, xpalə ) ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې نیمکی تپې Nimakéy Ṭapé:

۳۲. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زورواله هې (زور) ، ه یا ــه ،: konatawará, zargará, kaftará, ará, aṛ, baxtawará (کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې نیمکی تپې Nimakéy Ṭapé:

۳۳. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ ونه - :wanáَ (ځرګند واو یا وي بېواک ,,و،، په غړ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې نیمکی ټیکی Nimakéy Ṭikéy:

۳۴. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( ځرګنده یي یا لنډه یي ,, ي،، په غړ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه او ینه؛ سره بشپړې شوې نیمکی ټیکی Nimakéy Ṭikéy:

۳۵. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور ولړي) نه؛ سره بشپړې شوې نیمکی ټیکی Nimakéy Ṭikéy:

۳۶. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ) maná منه مجهوله هي) مه؛ سره بشپړې شوې نیمکی ټیکی Nimakéy Ṭikéy:

۳۷. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زورکی ، ه یا ــه ،: maγolə, xwalə, tralə, xpalə ) ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې نیمکی ټیکی Nimakéy Ṭikéy: ۸

۳۸. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زورواله هې (زور) ، ه یا ــه ،: konatawará, zargará, kaftar ará, aṛ, baxtawará (کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې نیمکی ټیکی Nimakéy Ṭikéy:

۳۹. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ ونه - :waná (څرګند واو یا وي ېېواک ,,و،، په غړ کلمي سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې نیمکۍ مصرۍ Nimakéy Mésréy: ۰
۴۰. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( څرګنده يي یا لنډه یي ,, ي،، په غړ جملي، غونډلي سره راشي ) یینه او ینه؛ سره بشپړې شوې نیمکۍ مصرۍ Nimakéy Mésréy: ۳
۴۱. وروستاړي غړSuffix Voice؛ زوزکۍ - :ná (نون زور ولري) نه؛ سره بشپړې شوې نیمکۍ مصرۍ Nimakéy Mésréy: ۱۹
۴۲. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زورکۍ مه – má ( maná منه مجهوله هي) مه؛ سره بشپړې شوې نیمکۍ مصرۍ Nimakéy Mésréy: ۷
۴۳. وروستاړي غړSuffix Voice؛ زورکۍ , ه یا ــه ،: maγolə, xwalə, daṛə, xpalə, tralə ( ترله، خوله، مغوله، خیله، دړه) ډېرې لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې نیمکۍ مصرۍ Nimakéy Mésréy:
۴۴. وروستاړي غړ Suffix Voice؛ زورواله هي (زور) , ه یا ــه ،: ará, aṛ, baxtawará, konatawará, zargará, kaftará(کفتره، زرګره، کوناتوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې نیمکۍ مصرۍ Nimakéy Mésréy:
۴۵. ټول ټال د نیمکۍ لنډۍیو، نیمکۍ ټپو، نیمکۍ ټیکۍیو او نیمکۍ مصرۍیو د مسرو ( پټ، نیم بیتۍ، نیمه کړۍ، نیم بند یا مسره د پیبلې نیمه کړۍ، نیم بند یا نیم بیت) کچه: ۳۲۰
۴۶. ټول ټال د نیمکۍ لنډۍیو، نیمکۍ ټپو، نیمکۍ ټیکۍیو او نیمکۍ مصرۍیو د لړونو ( چې یکړ، یوون، مفرده وۍ یې لړ یا ردیف دۍ؛ د هي ,, ــه ،، ابېڅه ) کچه: ۲۶۰
۴۷. د د نیمکۍ لنډۍیو، نیمکۍ ټپو، نیمکۍ ټیکۍیو او نیمکۍ مصرۍیو د نه ماتیدونکي پښبله (حکمي قافیه) کچه: ۲۶۰
۴۸. ټول ټال د نیمکۍ لنډۍیو، نیمکۍ ټپو، نیمکۍ ټیکۍیو او نیمکۍ مصرۍیو د څپو ( څپیزو، څپې، سپلابو، هجاوو ,, سیلیبلس Syllables،، د ابېڅو شمېرلو) کچه: ۶۱۳۱
۴۹. ټول ټال د نیمکۍ لنډۍیو، نیمکۍ ټپو، نیمکۍ ټیکۍیو او نیمکۍ مصرۍیو د زورنو( خجیزو، خجونو، اکسنټو ,, لفظ، د موسیقي نوټونه: د خج نښې: د توري په سرنښې , چې د تلفظ د جګوالي او ټیټوالي زور، او ږدوالی، کیفیت ښیي،: ټینګې , لهجې ،: تاکیدي: بیلوونکۍ نښې: د وینا , ځانګړي، خاص او بېل ، ډولونه. :Accents, Morphemels ،،) کچه: ۱۷۱۱
۵۰. ټول ټال د نیمکۍ لنډۍیو، نیمکۍ ټپو، نیمکۍ ټیکۍیو او نیمکۍ مصرۍیو د ترنګټوک میچې کچه: ۲۶۰

٥١. ټول ټال د نیمګړی لنډیو، نیمګړی ټپو، نیمګړی ټیکیو او نیمګړی مصریو د لوړ ترنګتوک (د پاینی مسرې پاینی څپه یا خوږه غږي اواز په لوړه وي چې ډېری یې په ینه، او نه سره راځي چارباغی لغمانی یې بولي یا د کیسو (داستاني) لنډی، ټپې، ټیکی او مصری یې بولي او پاټیشوني نورې چې وروستاړي غږ په ځوړ راځي دي ) مېچې کچه: ۱۷۰
٥٢. د د نیمګړی لنډیو، نیمګړی ټپو، نیمګړی ټیکیو او نیمګړی مصریو د ځوړ ترنګتوک مېچې کچه: ۹۰
٥٣. دیفتنګونه (غبرګغږون)، ناټروییکي، ټروییکي، سټربل، اوسټربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې او هیېجاني چغې لکه: الله، وی، وه!، وا، نو، او، ګرانه!، یه کربانه! ... . چې له دوی سره سر باري، منځباري او بېخباري راځي:
٥٤. کړه شوې Action Req’ed ( ویار (عیبونه) او تېروتنې سمې شوې) ■ : ۲۰۰
٥٥. خبرداری (Caution) ● : ۲۳
٥٦. کنټرول کې (In control) ✓ : ټول

په پورتنی لیکنه کې عیبونه او تېروتنې چې سمې شوې وې په ۲۰۰ ګڼه کې یا کړه شوې، خبرداري ۲۳ ځایه وې، چې کنټرول کې شوې یا په بله وینا روغې یا سمې یا سیې شوې دي او په سور رنګ سره په متن کې ښودل شوي دي.

زه په ډاګه دا سپنې ته را باسم، چې څوک ښه لیکي، د پښتون پښت لیکیتون یا برپښلیک لیکیتون ته یې رسوي او یا یې په سختکالي (کتاب) ښه له چاپه روغ رمټ تېروي او په ټاټوبي کې خپروي. ډېر ښه کار کوي؛ زموږ وګړي ترې ګټنې اخستلی شي؛ د لید او لرلید د بریا جوګه یې ګرځي؛ که جغات په یوې کره پښتو و شي؛ ډېر به غوره او بېبره یا ثمره به یې هم ډېره وي؛ په دې کې زموږ ژبې یوې کره لارې په لور مزل وهي؛ نېغ د بریالتوبونو په فضایي سټېشن لوري ته ورځي او خپل تمځای یې جوړ وي.
او دښمنانو ته، د هغوی شومو او ناګڼلو موخو ته خولې ماتوي، ژبه یې په خوله کې کړی کوي، په سړه سا او ټېټ اند، وند او پند چې غلي، پټ، شوم او ځل سګنالونه زموږ د ټاټوبي، وګړو، د پښتو ژبي، د پښتونوالې، پښتونپالې کوي. د هغوی مخه نیسي او مخنیوی یې کوي. په کومه ښه چې څرګندونې کوي هو بهو کټ مټ په همغه ښه په سټکړنه (عکس العمل ) ورته ورکړئ او ورکوي.

په ډانګپېيلي بڼه وايم چې زموږ تاريخونه او نوې د دښمن سويې ګټورې موخې زموږ د دښمنانو له لورې کښل کېږي او خپرېږي هڅوی ته اړينه ده چې په رټ رمټ سوب کې و دربېږو او ځواب ورته و وايو.

بله داسې ده چې په سيمه ييزو پيلو کې ګورو چې، عيبونه او تېروتنې له هر انسان څخه کېږي، ژوی (انسان) په آر کې نيمګړی دی، ټولو زموږ درانه ليکوالو چې څه يې کړي دي، عيبونه او تېروتنې لري. خو ليکنې او ليکي يې کښلي دي چې عيبونه او تېروتنې لري. که ليکنې يا کښلي يې نه وی نو هېڅ به نه وو او موږ به داسې په پوخ کې کړي شيان نه درلودل.

ځکه وايم چې څه يې کښلي دي چې څه په کې شته دي. که هېڅ يې کښلي نه وی، نو بيا به هېڅ نه وو، د هېڅ څخه خو څه کښل غوره دي، بابېزه (نا څېزه) ده چې عيبونه او تېروتنې لري. کوم بوژن (وهشت) نه زوکړه کوي، خو ځينې بيا د يوې پښتو د نوي ليک دود، دود ته بوژن کېږي، د نوي پښتو کړی په خوله تنګه او په کښلو را کړی کوي.

په نوي عصر کې که کښلې عيبونه او تېروتنې و لري. په غاړه يې واخلي او د کره کولو لور ته يې رټ لنډپېري ګامونه پورته کړي، نو د بريا او پرمختګ پيله به بې يېبره (بې ثمره) نه وي. ځکه په تېره کې به د تېرې کړنلارې او کړنو څخه ګټنې اخېستل کېدلې. خو روانېږ (اوسمهاله) نوي ټکنالوژۍ په نويو کړنلارو سره ترې ګټنې اخېستل کېږي. لکه د رنځورانو پرېکونې (عملياتونه) پخوا په زړه بڼه وو او اوس په ښه، اسانه بڼه همغه پرېکونې يا عملياتونه کېږي.

د تېرو پخوانۍيو وختونو کښونکو چې څه کښلي او اوس دلته نه شته، الله دې ډېرې بدلې او ثوابونه ورکړي ورته؛ خو نوي ليکوال اړين بايد په يوه پښتو کره پښتو کړ شي.

زموږ ټول پښت په دې بوخت دی چې په پردۍيو ژبو کې څه و مومي. ياد يې کړي، ترې ګټه پورته کړي. خو د خپلې علمي پښتو ژبې سره کرغېړنتوب، بې ميني، بې پروايي له دې بې کبرې، وفادارې، بډايې، رښتنې، سپېڅلې، ګڼلې، غښتلې او پياوړې پښتو ژبې سره هم ښه کار نه دی.

کوم عیبونه او تېروتنې چې په , ۱، ګڼه څېره یا برخه کې سیمه ییزي پایلې د نیمکړی لنډی، نیمکړی ټپه، نیمکړی ټیکی او نیمکړی مصری کې له تېر پېر پېیلن او پېیلنې څخه تر روانپېره پورې پېیلن او پېیلنې؛ لیکوالو او لیکوالې په کښلو کې کړې دي. ما په سور رنګ اړولي یا سور رنګه کړې دي. لومړی کره شوي بیا مې سرې کړي دي. چې په وار، وار به یې د اوډوون (ترتیب) ډډون (پلټنه) و کړم. د دې له پاره زما څرګندول چې رونوي کنته داسې:

په دې کښلې کې چې ځینې کښلې څېړل شوي یا یې د اجزاوو څېړنه (تجزیه، تحلیل، برخه، برخه کول یا Analysis) شوې، ځنې عیبونه او تېروتنې یې لرلې؛ عیبونه او تېروتنې چې سمې شوې وې یا کره شوې ۲۵ ځایه وې؛ چې کنټرول کې شوې یا په بله وینا روغې یا سمې یا سیې شوې. ۱۷ ځایه خبرداری ورته په لاندې بڼه دی په نوموړي لیکي کې چې یا به یې خپله ټیپ کړې وي او یا به یې کوم زده کړیال خو تېروتنې په کې شتون لرلو:

۱. ځنې پېیلن او پېیلنې و، وېصل او خوی یې نا کره کښنې؛ وییپوهه (لغاتپېژندنه) دې پیاوړې کړي. و، وو، او، اوه!، اوو!، اووه تر منځ دې کره ځای کې ګټنه واخلي، نټه ( انکار، نه منل ) دې نه کوي، ښه وپلاړ ( تصمیم، عزم، اراده) دې و کړي، هره وی دې کره و کښنې ځکه همدا د یوې پښتو کره پښتو سرغندوی یوون (یکړ، واحد) رښت دی چې هېڅ وییکی ( وی، لغات ) به نا کره نه کښنې. په پېیله کې په سور رنګ کړه شوي او درې خبرداري ورته وو.

۲. ځنې لیکوال هندو، دې او داسې نا کره کښنې ( لیکي)؛ د خپلې خوږې پښتو ژبې وییزېرمه (ژبپانګه، وییپانګه، ویکبلري، ډیکشنري یا ,, ذخیره زبان،،) دې پیاوړي کړي پر ما دې ځاځ ( غصه، قهر) نه کوي، زما ورم (نصیحت) دې زغرتېری ( زغرواسکټ، زرې) کړي ځان ته. د پښتو ژبې هر وی ( لغات) دې کره کښنې دا به ده ته دوې ګرایه ( دوې همره، دوچنده) کټور شي. یاد کړل شوي یې زما د الواک ( نظر، تیوري) اړنګلاندې ( اړنګمن، مشکوک د اشتباه لاندې) وو، همدا یې نمونې

( اصطالحات، تیرمسز) وو چې ورته مې نغوتنه و کړه. کړه شوې (عیبونه او تېروتنې سمې شوې) او درې خبرداریه ورته وو.

۳. ځنې لیکوال سترګې، کولې، مې او تېر نا کره کښې؛ د اوږدې یې ,, ې ،، پیلنی ( لومړی) ربنت ( قانون) چې له اوږدې یې ,, ې ،، څخه مخکې هر ابېڅه ( حروف) راځي هغه به د اوږ زېر په بڼه غږ لوستل کېږي. تل دې ور ته پام و کړي؛ همدا یې اغېزښندنې ( اثرلرونکې) انګړ (اکر، وضع او حالت) دی. دا زما محضې ګوتپېر ( ګوتڼلید، زاویه دید) و دوی ته؛ همدا یې نمونې ( اصطالحات، تیرمسز) وو چې ورته مې نغوتنه و کړه. کړه شوې (عیبونه او تېروتنې سمې شوې) او څلور خبرداریه ورته وو.

٤. ځنې پېیلن او پېیلنې ( لیکوال او لیکوالې) پارنویکې های!، های، خدای، دې، چې او دې یې نا کره کښې؛ د خپلې خوږې پښتو ژبې وییزېرمه (ژبپانګه، وییپانګه، ویکبلرې، ډیکشنري یا ,, ذخیره زبان،،) دې پیاوړې کړې. په پېیله کې په سور رنګ کړه شوې او څلور خبرداري ورته وو.

٥. پوهاند مجاویر احمد زیار یې، دوېیمه، اووه، تول او تال، یوه، د را اخستنې نخښه ( ,, ،، )، نه، په کې او د ترنګتوک دغه توک یا توک ,,ترنمې څپه،، پېژند ورسته راتللو نخښه یا کوشنی کربنه (-) په لاندې ډول داسې نا کره کښلې دي. لکه:
,, ۱:. (یې) اړېکنوم یې داسې ناکره کښلی، ۲:. (دویمه) شمېرنوم یې داسې ناکره ناکره کښلی، ۳:. (اوه) شمېرنوم یې داسې ناکره کښلی؛ ۴:. (تول وتال) ویکیي کې یې ۴. ۱:. لومړی وت یا واتېن، فاصله یا سپیس وې ( و) ابېڅی له تال وییکي یا وی یا لغات سره کډ یا نږدې یا خوا په خوا یا یوه ځای لیکل شوی دی. ۴. ۲:. او اړېکویکی یې د درې ژبو غوندې وې (و) ابېڅی لیکلی. لکه من و شما، زن و مرد، شوهر و همسر. پیسر و دوختر. خو دری ( فارسې، تاجیکي) بېله ژبه ده په هغې کې همغه سې راځي. خو پښتو ژبه ځان ته بېله ژبه ده بېل علمي ربنت لري لکه داسې:
تول او تال، زه او ته، څه او څه، په دا او دا، دا او دا، نیکه او نیا، پلار او مور، خور او ورور، ترور او ترېله، لوښي او اېنګیندې، بربڼ او پټ، ...

. ۵:. (یو) شمېر نوم یې داسې ناکره ناکره کښلی، ۶:. دوې لیندیو (( ))
د را اخستنې نخښه یې داسې ناکره ناکره کښلی، ۷:. (نه) شمېرنوم یې
داسې ناکره ناکره کښلی، ۸:. (یکې) یې داسې ناکره ناکره کښلی، ۹:. (-
م) یا (-ن) د ترنګتوک دغه ټوک یا توک ,,ترنمې څپه،، پېژند ورسته
راتللو نخښه یا کوشنی کرښه یې داسې ناکره ناکره کښلی ،،
په پېیله کې په سور رنګ کړه شوی او څلور خبرداري ورته وو.

پوهاند مجاویر احمد زیار ته شپږ ( ۱۱ ) ځایه خبرداری ورته په لاندې بڼه دی، په نوموړي لیکي کې چې یا به یې خپله ټیپ کړی وي او یا به یې کوم زده کړیال خو تېروتنې په کې وې:

۵. ۱ (یي) اړېکنوم یې داسې ناکره کښلی دی باید داسې یې و کښل شي او روغه راځي. اوږده یې لا کره و کښي.

۵. ۲ دویمه ۲ شمېرنوم، عدد یې یا ګڼه پوړی کښلی دی باید داسې دوېیمه و کښل شي او روغه راځي.

۵. ۳ اوه ۷ شمېرنوم، عدد یې کښلی دی باید داسې اووه و کښل شي او روغه راځي دوېیم پرته له وټې هم و نه غورځول شي.

۵. ٤ او اړېکوییکی یې و کښلی دی، اړین باید او و کښل شي، لکه د دری ژبو په شان ترې ګټنې اخلي. ( لکه : مرغ و روبا. په پښتو کې کره بڼه لکه: چرګ او ګیدړ. یا تول و تال اړین داسې و کښل شي: تول او تال ).
یا :. (تول وتال) ویکیي کې یې

۵. ۴. ۱:. لومړی وت یا واټن، فاصله یا سپیس وې ( و) ابېڅی له تال وییکي یا وی یا لغات سره کډ یا نږدې یا خوا په خوا یا یوه ځای لیکل شوی دی.

۵. ۴. ۲:. او اړېکویکی یې د دري ژبو غوندې وې (و) ابېڅی لیکلی. لکه من و شما، زن و مرد، شوهر و همسر. پیسر و دوختر. خو دری ( فارسي، تاجیکي) بېله ژبه ده په هغې کې همغه سې راځي. خو پښتو ژبه ځان ته بېله ژبه ده بېل علمي ربښت لري لکه داسې: تول او تال، زه او ته، څه او څه، په دا او دا، دا او دا، نیکه او نیا، پلار او مور، خور او ورور، ترور او ترېله، لونې او اېنګیندې، بربڼ او پټ، ...

۵.۵ یوه یې یو کښلی دی، په دې وینګ لکه you یا U چې په کار ده چې د یو پرځای یوه وکښي ځکه چې ګنوییکی دی.

۵.٦ دوې ,, ،، یې په دوې د را اخستنې نخښه، نقل، اقتباس بل تن خبرې یا وینا، یې په دوې لیندۍیو (( )) بڼه کښلې ده. دا ,, ،، بڼه روغه او کره راځي د اخځوک له پاره هم.

۵.۷ نهه ۹ عدد یې نه، کښلی دی باید نهه و کښل شي او روغ راځي.

۵.۸ په کې یې پکې کښلې په دې بڼه ناسمه راځي ( لکه : د دېرې پکې پېنځه پرې لري او یا د یوې پکې رنځورې جلۍ د سر په شان ښکارېږي) لکه وییې زورنه یې هم ورته ده، باید ستربل په له ناټروییکي کې څخه یوه وت یا فاصله یا واټن و لري، ګډ را نه شي سره.

۵.۹ ترنګتوک دغه ټوک یا توک ,,ترنمي څپه،، کې (م-) یا (ن-) کره و کښي په دې بڼه نا کره راځي (-م) یا (-ن) ځکه له نومونږو ابېڅو څخه ورسته د هې ابېڅی راځي.

# ۱.۱۳ څېړه ۱. اي ( الف، ۱ ) صفي الله فردوس د نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپې، نیمکۍ ټیکی او نیمکۍ مصرۍ پیبرې لښتیلیک ،، جدول ،،

| | | | | | | | | |
دواړه تنه په دې بېلګه سره تړه تړې چې که هر څه ما تا ته لاس په لاس درکاوه نو د هغه سېز له نیولو او اخستلو نه وړاندې به راته یاد وایې. که یاد بې و نو له نیولو وړاندې ورته واي چې یاد، که هېر یې و، مقابل لوری ورته وایې چې ,, ستا هېر زما په یاد.،،

نو په دی حالت کې چې یې سره په کوم څه باندې شرط تړلی وي هغه به ورکوي. لکه: وړو او غریبو د چېناغ ګټلو ناغه: بېلګه- اینداره، ږومنځ، د بوټانورنګ، کالي، لونګۍ، پکول، د میلې مصرف.

ځوانانو او مینو د چېناغ ګټلو ناغه: بېلګه- نوی کتابونه، ښه قلم، غوږکۍ، ټېسوټ ساعت، کمپیوټر، د سرو زرو ګوته، له ټنډې مچه، په زړه پورې ختي او کالي.

شتمنو د چېناغ ګټلو وبه: بېلګه- د ښادۍ مصرف، موټر، د لوړ پوړو ودانۍیو کور، د حج مصارف، په نړۍیوالو هوټلونو کې مېلمستیاء، د باندنې هېوادونو د ډیسکوټیک مصرف، باندنې هېوادونو د قمارخانو مصرف پری کول.

؛. ۳۰۹

## ۹. ځې (ځ)

ځاځ: غصه، قهر. ؛. ۲۸۱

ځاځل: قهرول، په غصه کول. ؛. ۳۱۰

ځانځارونی: ځاریدونکی، فیدایي، قربانیدونکی. ؛. ۳۱۰

ځانګړې: خاصه. ؛. ۲، ۶، ۷، ... . او ۳۵۷ ( ټول ټال ۶۲ وارې نور.)

ځانمرګی: ځان وژونکی، انتهاري، خودکش. ؛. ۳۱۰

ځانمني: کړجنی، مغرور. ؛. ۳۹، ۴۹، ۵۷، ۶۵، ۷۳، ۸۳، ۹۳، ۱۲۵، ۱۶۸، ۱۷۷، ۲۰۴، ۲۲۶، ۲۳۵ او ۲۴۴ چوپړی

ځدرانې: ځدران په پکتیا کې د یوه نامتو او مشهورې قبیلې نوم دی. ؛. ۳۱۰

ځغ غویانو په اوړو یې ږدي، سپاره تړ، موټې، پال، تیر، رسۍ(تپړ)، ځونډې او غویه کنټرول وي. ؛. ۳۱۰

ځغونځونکی: په ډېره اوبې ترتیب ګڼه ګوڼه راوستونکی. ؛. ۳۱۰

ځلان: ځلانده، درخشانه. ؛. ۳۱۵

ځواکونه: پوځ، لښکر. ؛. ۵۲

ځنځوونکی: څاڅکی څاڅکی تویونکی، ټکی ټکی کوونکی، څڅوبی کونکی، قطره کوونکی. ؛. ۳۱۱
ځینګړ: ګڼ. ؛. ۳۱۱
ځینګوړا: لغمان ولایت د الېنګار ولسوالۍ د نورلام بابا کلي سر ته لوري ته یو دنګ سپین په واورو پټ د اوږدو پربنو لرونکی غره څوکه ده. ؛. ۲۹۲

## ۱۰. څې (څ)

څاڅکی: څڅوب، چکک، څکک ، څڅیدنه، څڅوبی، قطره، څڅواکی. ؛. ۳۱۱
څار: کتوکه، تعقیب، تر پام لاندې ساتل. ؛. ۴۳ او ۳۲۱
څارل: تعقیبول. ؛. ۱۲
څارکښې: پلټونکې، ډډونکونه، پلټنه کونکې، کتوکې، هغه وګړې چې د باز په بڼه رټه، رمټه، چابکه، ټېنګه منګولې لرونکې وي او د ځېرکو کړنو پوهه و لري. ؛. ۲۹۳
څارګره: کتوکه، ډډونه، د ځانګړو خدمتونو جلۍ، هغه پېغله چې د ټاټوبي د غلتو هامیانۍیو، ورانکارو، د ټاټوبي د رښت نه منونکو مخه نیسي. ؛. ۲۹۳
څارونکې: پلټونکې، تر پام لاندې رواوستونکې، هغه جلۍ چې د باز څخه تېزې سترګې او پام و لري چې ټاټوبي د غلتو هامیانۍیو، ورانکارو، د ټاټوبي د رښت نه منونکو په پټه او ښکاره ترلاسه کوي. نر یکی نوم یې څارونکی او ډېر نوم یې څارونکي دی.؛. ۳۱۳
څاړي: بې اتفاقي. ؛. ۳۱۱
څپان: د اوبو توپان. ؛. ۳۱۱
څپاڼ: کتار، قطار، صف، چیل. ؛. ۳۱۱
څپرکی: فصل، برخه. ؛. ۳۴۲ او ۳۶۳
څپوڅو: څپوڅی، خاپوړی. ؛. ۳۱۱
څپیز: څپه ییز، ښځه نوړی یا ښځه نوم یې څپیزه ده. ؛. ۱۸، ۱۹ او ۲۰
څپیزو: څپه ییزو. ؛. ۳۱۱
څځلو: سجدو. ؛. ۳۱۱
څځلې: سجدې، مفرده وۍ یې څځله یا سجده ده. ؛. ۳۱۱
څڅبکی: ګړندی، چټک، تیز، ژر، رټ، بیړه. جمع وۍ یې څڅبکي ؛. ۲۹۳ او ۳۱۷
څڅوبکی: څڅواکی، قطره، څاڅکی. ؛. ۳۱۱

څخڅخکي: د اوبوپوکڼی، د اوبوپړومبی، بړبوکۍ. ؛. ۳۱۲
ځربولیړه: غټول کېږه، چاغول کېږه. ؛. ۳۱۲
ځرخباڼ: بازینګر، ځرخبانی. ؛. ۳۱۲
ځرګړو: ځرګړی، یو نوع غرنی بوټی دی، چې تارتار وابنو په شان دی، په زړه پورې بوی لري او اکسره د کوټو په غولي او جماعتونو کې یې د فرش له پاره اچوي لکه بروځې. ؛. ۳۱۲
ځرګه: بزبو، ترړی، حق دوسته مارغه، یوه ډول مرغۍ ده چې د شپې له خوا ځان په ونه کې ځوړند وي او حق نارې وهي. ؛. ۳۱۲
څېرمه: ځرمه، نږدې، کم وخت. ؛. ۷۳، ٤٥، ٥٤، ... . او ۲۴۱ (ټول ټال ۱۳ وارې نور )
ځرو: د اور رڼا. ؛. ۱۵۰ او ۲۲۳
څکل: کم واټن، لږه فاصله، لږه لاره، ۲: څبنل، چبنل، چیبنل، چیکل، ۳: څکل: په ژبه د یو شي کیفیت. ؛. ۳۱۲
څکل: د یو شي خوند کتل په ژبې سره، د یو شي کیفیت معلومول. ؛. ۳۱۲
څکه: څکاکه، روزي، هغه څه چې خوړل کېږي. ؛. ۱۱۲
څلنۍ: چهار شنبه. ؛. ۴۹
څلورځنډی: څلورکونجی، اطاق، کوټه، خونه. ؛. ۳۱۲
څلور لارې: چوک. ؛. ۳۱۲
څلی څولی: لوړې ژورې، څلې څولې۲ : د لارې توښه. ؛. ۳۱۲
څلېر: د بېدیا تالاو، د صحرا تالاب، د مېرې ډنډ، د سارا حوض، د صحرا ډنډ، د ټټنګ حوض، د ښتې ډنډ، په دشته کې ډنډ، په ټیټنګ کې ډنډ، په بیدیا کې تالاو، جووړ، ترېلی، اود. ؛. ۳۹، ۱۶۱، ۲۱۰ او ۳۶۴
څورلبځ: څورلبځی، چورلبځ، لټ، محور. ؛. ۱۱، ۳۱۲ او ۳۱۳
څمڅه: د ځمکې په مخ درځ (درز) یا د ځمکې په مخ چاود. ؛. ۳۱۲
څمغېلی: وړه او زړه خیمه، وړه او زړه کېږدۍ، ۱: څېره، شیشی، برلک ډوری، د مرغانو شکنو (شکانانو) او نورو ځناورو د ډارولو دپاره په پټي او فصل کې درول شوی وي. ؛. ۳۱۲
څمغېلي څمغېلي: وتره (ځمکه) ، وچه او لمده ځمکه. ؛. ۳۱۲
څنګزان: په ډډه، په اړخ، په یوه طرف. ؛. ۳۱۲

څو تر څو: ترڅوپورې، تر څومره پورې، ترڅومره زمان پورې. ۶. ۳۱۳
څورله: خنځیر، خنزیر، سرکوزی. ۶. ۳۲۰
څورلېڅی: لټ، محور. ۶. ۳۱۲
څوسیس: جاسوس، سوسیس، د میرڅمن پټ مالومات، ځای، کچه، له لیکي شاته شتمني او ځواک پېژندونکی، دښن څارونکی. ۶. ۳۱۳
څوکړ: کوڅه، چوکړ. ۶. ۳۱۳
څوګیر: انتظار کې ناست، منتظر، په څوکۍ ناست، د ښکار په طمعه ناست ښکاري. ۶. ۳۱۳
څولسیزې: سو دپې لس، لس کاله. ۶. ۳۱۳
څه او څه: پلانی او پلانی. ۶. ۲۸۲ او ۲۸۳
څه نه څه: کم او زیات، لږ او ډېر. ۶. ۳۱۳
څښتن: الله، رحمان، رحیم، ساتونکی، الله تعالی، رب.۶. ۵۳ او ۳۴۲

## ۱۱. خې (خ)

خاوند: رب، الله، څښتن، ساتونکی. ۶. ۳۱۳
خاوند: مېړه، ساتونکی، شا یا شاه. ۶. ۸۵، ۱۱۵، ۲۸۹ او ۳۲۵
خپنځېدو: خپنځېده، په ځمکه اواریدل، په ځمکه تېنته کېدل. ۶. ۳۱۳
خپې غوړی: غوړنرمۍ، غوړپوستکی، د غوړپېڅلۍ، د غوړ پوڅکۍ.۶. ۳۱۳
ختېځ: شرق، لمر خاته، هغه ځای چې لمر ترې را پورته کېږي، هغه سیمه چې لومړی پرنورو سیمو رڼا او روښنایي خپروي. ۶. ۲، ۱۱، ۳۹،... . او ۳۶۸ (ټول ټال ۲۳ وارې نور)
خځوک: خخوکی، د ځمکي مخ چاودنه. ۶. ۳۱۳
خچلی: ټپله کړی، پورې وهلی، اچولی، غورځولی، پورې وهل شوی. ۶. ۳۱۳
خدایږو: په الله قسم، په الله سوګند، په څښتن تعالی سوګند، په څښتن قسم. ۶. ۳۱۳
خدریوان: هغه څوک چې د کلي مالونه بیایي او بیا ترې د مال په سر ډوډۍ غواړي، خدری، د غوبه ډوډۍ، غوبانه ډوډۍ. ۶. ۳۱۳
خدړ: ګدا، مسکین، خوار، غریب. ۶. ۳۱۳

خدشه: شوکاره، په نوکانو ګرول. ؛. ۳۱۴
خدعه: دوکه، فریب، چل. ؛. ۳۱۴
خرپته: یو ډول خړرنګه واښه دي چې اواره دښته کې شنه کېږي، نرۍ پاڼې لري او خلک یې خوري. همدارنګه د پېچ مرض یا د نسناستي دوا ده. ؛. ۳۱۴
خرپیاځه: یو ډول بوټی دی چې سپین ګلان کوي او نرۍ اغزی لري. ؛. ۳۱۴
خرټی: غونډ، ګردی. ؛. ۳۱۴
خرټسکی: یو ډول بوټی بېخ چې ګرد یا غونډ منډ شکل لري او تریخ خوند لري. ؛. ۳۱۴
خرډګ: یو ډول سارنی بوټی دی چې پلنې او لویې پاڼې لري. ؛.
خرډیګ: د بوټي نوم ده، موږکۍ، هغه کوشنی لرګی چې د مرغۍیو په دام ( تلک ) کې وي او ډوډۍ یا غوښه یا بل شی په پېل کېږي. ؛. ۳۱۴
خر زوره: یو ډول واښه دي چې دوه جلګه او شین لریو دا واښه په ځمې کې ځاروۍیو ته ورکول کېږي. ؛. ۳۱۴
خرسومبه: پېښۍ ( رواش ) غوندې یو بوټی دی چې په غره کې ساره اوشګلن ځای کې شین کېږي، په اوړي کې تازه په تازه خوړل کېږي او په ځمې کې حیواناتو ته د خوراک په ډول ورکول کېږي. ؛. ۳۱۴
خرسونه: د خرس جمع ده، یو ډول خوشبویه واښه دي چې د ریشکې (ریشقې) په شان تخم کوي او خلک یې خوړ وا ته ور اچوي. ؛. ۲۵۱
خرغوږی: خرغوږ، یو ډول خړ رنګه پټ لرونکی بوټی دی چې خلک یې د ځینو ناروغۍیو له پاره استعمالوي. ؛. ۳۱۴
خرغوله: یو ډول بوټی دی چې د ویالو په غاړه کې شین کېږي او ځیني خلک یې پخوي، همدارنګه د هغه دانو له پاره چې سر یې نه وي وهلی د ملهم په ډول استعمالوي. ؛. ۳۱۴
خرغیڼی: خرډګی، خرګۍ، خریړی، یو ډول مرخیړی، ګوڅی ( د هنوانو ستوری، کاپرخولۍ، لیوه پسکۍ ) دغه ډول مرخیړی نه خوړل کېږي. ؛. ۳۱۴
خرمېږی: یو ډول نبات دی چې په سارا کې شین کېږي، که له ځمکې را وکښل شي په ولیو (ریښو) باندې یې ژولې نښتي وي. ؛. ۳۱۴
خرواږه: یو ډول سارانی سابه (ساک) دي چې سورګل کوي او د پسرلي په سر کې پیدا کېږي. ؛. ۳۱۴

خرورک: یو ډول سارانی سابه دي چې سپین او سره ګلان کوي د پسرلي په اولو وختونو کې پیدا کېږي او اومه خوړل کېږي. ؛. ۳۱۵

خروه: د شین شوبی (شمشوبی) په څېر یو بوټی دی. (بل لوري ته انسان هر بوټي او پاڼي خوړلی شي خو چې غوړ و نه لري. لکه څېړی، نارنج، بلېټۍ یا روسۍ وله او داسې نور) ؛. ۳۱۵

خره کی: یو ډول اغزی دی چې خلک یې په ژمي کې د پسونو له پاره وچوي. ؛. ۳۱۵

خره واژ: یو ډول سابه دي چې د جوارو د بمبل په ډول ګل کوي او څاروي (حیوانات) یې خوري. ؛. ۳۱۵

خریټی: ازدحام، د خلکو ګڼه ګوڼه . ؛.۳۱۵

خړا وه: د سپو جنګ. ؛. ۳۱۵

خړسان: کوره سان ، یو ډول نخي او سپین ټوکر دی. ؛. ۳۲۴

خړنګی: شینشوبی، یو ډول سارنی بوټی دی چې ګل یې شین اوپاڼې یې خړ دي او لوړوالی یې ۵۰ څخه ۷۵ سانتي متره پوري رسیږي. ؛. ۳۱۵

خولګۍ: وړه خوله، کوشنۍ خوله، مچو، مچې، مچکه، چپو، خولګوټی. ؛. ۱۲۷، ۱۳۴، ۱۳۸، ۱۴۹، ۱۸۸، ۲۲۱، ۲۵۵ او ۳۳۱

خولګوټی: مچو، مچکه، مچه. ؛. ۳۳۱

## ۱۲. دې (د)

داج: ناوې د واده کالي، هغه کالي چې ناوۍ ته د پلار له کوره ورکول کېږي. ؛. ۳۱۵

دا په دا: په دې سبب، په دې وجه، په دې خاطر. ؛. ۳۱۵

دانګ: ټوپ، خیز. ؛. ۴۳

داني: ګڼه. ؛. ۲۲، ۲۸، ۳۴، ... . او ۳۶۴ ( ټول ټال ۱۶۶ واري نور.)

داوڼ: ټکری، شال، زړوکی، پوړنی، پړونی. ؛. ۱۴۹

دوچار: ګرفتار، اخته، مبتلا، ګیر، ککړ. ؛. ۳۱۵

دد: ځناور، ځیرونکی څاروی، ځیرونکی ژوی، وحشي حیوان. ؛. ۸۳ ، ... . او ۳۶۴ (ټول ټال ۱۸ وارې نور)

ددو: د دد جمع ده، ځناورو، ځیرونکي ځاروي، ځیرونکي ژوي، وحشي حیوانات. ؛. ۳۹ او ۳۶۴
درخشان: ځلان، ځلاند، روښانه. ؛. ۳۱۰ او ۳۱۷
درزنۍ: پلن هوار میدان ، سم ډګر. ؛. ۲۶ او ۴۰
درووښته: ګډې وډې، درشته. ؛. ۳۱۶
درغل: مکار. ؛. ۱۱۶
درکار: یو بوټی دی چې زېړګول (ګل) او سپین بیخ لري. ؛. ۳۱۶
درکړ: د بګۍ د ارابې ګردی الفه، د ګاډۍ ګردۍ ارابه، ګاډیله لرګی. ؛. ۳۱۶
درکړۍ: غوجل، د کورني ژویو خونه، د اهلي حیوانات کوټه. ؛. ۳۱۶
درغلي: خیانت، درغلنه، منافقت، چل ( چریکي لار ). ؛. ۳۱۶
درناوي: د درناوی یې مفرده وی ده، احترام، قدر کول، ځیګی، ځیګتوب. ؛. ۱۹۰، ۳۴۰ او ۳۵۹
دریځ: ممبر. ؛. ۴۹، ۳۳۷، ۳۳۹ او ۳۴۱
دښن: دښمن، میرڅې. ؛. ۹۳، ۲۴۴ او ۳۱۳
دښانو: دښمنانو، میرڅمنو. ؛. ۳۱۶
دم ګړۍ: روانپېر، اوس محال، اوس. ؛. ۳۱۶
دنګ: لوړ، جیګ. ؛. ۱۵۰ او ۳۱۱
دود: دستور، د ژوند تګلاره، رواج . ؛.۲۰، ۲۱، ۲۳ او ۳۷۰ ( ۴۵ وارې په نور په نورو چوپړو کې شتون لري.)
دوسیه: کېس، د کېسې تړلي چوپړي، د مسلې غونډی، مکتوب. ؛. ۳۱۶
دوهنۍ: دوشنبه. ؛. ۳۱۶
دوې ګرایه: دوې هومره، دوې چنده. ؛. ۲۸۱

**۱۳. ډې (ډ)**

ډاډ: مطمعین، باوري. ؛. ۱۷۸
ډګډګۍ: توروزرې لېږد را لېږد څرخي الوتکه، توره باروړونکې څرخي تیاره، لېږد را لېږد مرغۍ (شینوک). ؛. ۳۱۶
ډاډینه: تسلي، ډاډګیرنه. ؛. ۳۱۶
ډډون: تلاش، لټون، پلټنه، لټونه، پلټون. ؛. ۲۸۱

**۱۴. رې (ر)**

راخپنځم: پړ کوم، نسکوروم، راچپه کوم، چپه کوم. ؛. ۳۱۶

راستـــې: کوځې، لارې، کشونه. ؛. ۲۰
راستی: رښتیا. ؛. ۱۴۵
رپ: ثانیې ۱۰۰ برخه. ؛. ۱۳۳، ۱۳۶، ... .
رټ: تیز، ګړندی، څڅبېکی . زړور، په زړه ببر، تکړه سر تېره: بې باکه: څرګنکد، بر جسته، وتلی ؛. ۹۳، ۹۶، ۹۹، . ...
رټه: تېزه، بیړه، . ؛. ۳۱۱ او ۳۱۷
رټې: رټه یې مفرده وی ده، جمع وی یې ده بیړه، . ؛. ۱۹۰
رټی: تېزپیغله، ګړندی پیغله، څڅبېکې پیغله. ؛. ۳۱۷
رفتار: تګلاره، کردار، کړندلاره. ؛. ۳۱۵
رغاوه: صنعت. ؛. ۳۶۸
رنده: د ترکانی یوه اله (وسله) ده چې لرګي پرې تراشي، اواره، ثیقل کوي. ؛. ۳۱۷
رند: تېز غوڅ ونکی، چالاک تن. ؛. ۳۱۷
رنګړي: رنګی، رنګړی یې مفرد وییکي دي ، لکه پټی چې له خځلو څخه پاک کړي او کښت خپله اصلي بڼه وه ښایې. ؛. ۳۱۷
روان سیند: الف: بېلهجې وییتون، ساده لغات نامه، اسان قاموس ( ساده فرهنګ)، بې: سویي ولاړ سیند ( دریا یا رود جریان دار). ؛. ۳۱۷
روښـــانه: ځلانده، زلانده، درخشانه، معلومداره. ؛. ۳۱۰
روغناوی: ساختاري، بڼه یي. ؛. ۳۱۷
رېږدان: ځوځیدنه، تریدنه، لړزیدنه، رېږدیدنه. ؛. ۳۱۷

## ۱۵. ړې (ړ)

ړبن: لېرجن، نارجن، لاړجن. ؛. ۳۱۷
ړنجې: د غاښ رښې، ولیې، ولې، او د مات شوي غاښ پاتې شوې جرړې (رښې)، مغري ړنجه. ؛. ۳۱۷
ړنګری: د چلم دروی، د چیلم نل، چلم نی. ؛. ۳۱۷
ړبنه: هغه څوک چې لېر یې بهېږي، هغه څوک چې لېرجن وي، هغه څوک چې نارجن وي، هغه څوک چې لاړجن وي. ؛. ۳۱۷

## ۱۶. زې (ز)

زانګو: ماشومانو د خوب ټال. ؛. ۳۱۷

زده کړه: تحصیل. ؛. ۱۴، ۹۵ او ۲۶۲

زرغون: شین ، سمسور، زراع، شنه. ؛. ۱۱۷، ۱۴۹، ۱۷۲، ۲۷۸ او ۳۲۱

زرغون شاه خان: زما غور نیکه و چې د عبدالرحمن خان په واکمنۍ کې د لغمان د شپه میرو (پولیسو) مشر و.؛ ۳۱۸

زړان: زړامبو، ژړاندو، زړاندو. ؛. ۳۱۸

زنکیان: هغه ماشومان چې پر مور باندې ډېر زیات ګران وي؛. ۳۵۹

زغرټيرۍ: زغرواسکټ، زرې. ؛. ۲۸۱

زوزات: ماشومان، واړه، کمکیان، اولاد، خیل خانه ؛. ۲۶۲، ۳۱۸، ۳۱۹، ۳۲۳، ۳۶۳ او ۳۸۱

زوزان: زوزات، ماشومان، واړه، کمکیان، اولاد،خیل خانه ؛. ۲۶۲

زوزان: تریخ اغزی، د اغزیو یو بېلګه ده چې ډېر زیات تریخ وي او د اوښانو خاص خوراک دی؛. ۲۶۲

زوکړه: پیدایښت ؛. ۱۲، ۹۴، ۹۵ ... . او ۳۵۸ (ټول ټال ۲۲ واري نور راغلی دی.)

زیان: تاوان، نقصان، سوی ګټه، نا ګټه، بې فیدې، سوی فیده، لامفید؛. ۲۷ او ۲۹۱

زیرسر: ذخیره ؛. ۳۱۸

زیګي: د زیرګی جمع ده چې په دي مانا سره ده :
جیړه ګی؛ ششګی؛ جزګی؛ ځیوګی؛ ځوځکی ؛جیشګی؛ سیزګی؛ ژېژګی؛ شیژګی. په لغمان ولایت کې ځوداني ځلی ته ورته ډول غر دی، زیګی یې مفرده وۍ ده . ؛. ۳۱۸

زیندي: له ستونی خفه ول.؛. ۳۱۸

زیندۍ: له ستونی خفه ول ؛. ۱۵۰

## ۱۷. ژې (ژ)

ژاپن: جاپان. ؛. ۳۱۸

ژاخو: بې ډوله، بدرنګه. ؛. ۳۱۸

ژبپانګه: وییپانګه، وییزېرمه، ویکبلري، ډیکشنري، (ذخیره زبان). ؛. ۲۸۱ او ۲۸۲

ژرنده: د غنمو، وریجو، جوارو او وربشو اوړه کولو ځای. ؛. ۳۱۸

ژړکوری: یو ډول غرنی بوټی دی چې خوندورې دانې کوي او خلک یې خوري په بدن کې د پټ زخم ښه کولو له پاره استعمالیږي او لرګي یې سوزوي. بله بېلګه یې تورکوری ده. ؛. ۳۱۹

ژغورند: ساتونکی، ژغورندونکی، نجاد ورکونکی. ؛. ۳۱۹

ژغونډی: هغه لرګی دی چې د غوایانو په ښت کې راځي په ژغ کې موقعیت لري اوغویان د کولبې حالت کې یوبل سره نه لرېږي. ؛. ۳۱۹

ژمنه: وعده. ؛. ۳۱۹

ژمنې: وعدې. ؛. ۳۱۹

ژنل: مېنل، شاربل، زګول. ؛. ۳۱۹

ژنی: ځوان، ځلما، بلغا، مرد. ؛. ۳۱۹

ژونکه: حجره، سیل. ؛. ۹۳

ژوو: انسانان، اشرف المخلوقات، د حضرت ادم (ع) اولاد یا زوزات. ؛. ۵۱

ژوی: انسان، اشرف المخلوق، بني ادم، د حضرت ادم (ع) اولاد. ؛. ۲۸۰ او ۲۹۰

ژوی: دوې یمه مانا یې حیوان، ځناور. ؛. ۳۱۵

ژۍ: غاړه، کناره، جۍ، پیڅه، څنډه، ۲) ژی: د اوبو مشک، ۳) ژې: د پښتو الفاباء لیکل شوی او کاپي شوی ۲۰ حروف، ۲۰ حوف. ؛. ۹، ۹۲، ۱۰۲، ۲۵۸، ۲۸۰، ۲۹۴ او ۳۵۹

## ۱۸. ږې (ږ)

ږبن: وعده لرونکی، ژمنه لرونکی. ؛. ۳۱۹

ږغرل: د زړه په غوړو او ریدل، د زړه له کومې اوریدنه. ؛. ۳۱۹

ږغېږي: اواز کول، ږغېدا،غرېدا. ؛. ۳۱۹

ږوږ: کوکارې، زوږ، شورماشور،غوریدا. ؛. ۳۱۹

## ۱۹. سې (س)

سابټ: بیخی، سوچ، بالکل. ؛. ۳۱۹

سابیرۍ: الوتکه، طیاره، جوز. ؛. ۳۱۹

ساډی: بې عقل، کم عقل. ؛. ۳۱۹

ساډۍ: بې عقله، کم عقله. ؛. ۵۲

ساډو: لاپو، باټک، دوړمار. ؛. ۳۱۹

ساډیزم: روحاً او جسماً څوک په غذاب کول. ؛. ۳۱۹

سار: وچ، سوی، تږګی، تیندی نه لوله. ؛. ۳۲۰
ساړه: سړه هواوېچه، یخ کېدل، د سړوبو وږمه، د یخچالونو اوا. ؛. ۳۲۲
ساز: برابر، ورته، مساوي، هم شکله، یوه بڼه. ؛. ۳، ۱۹، ۲۱ او ۱۲۲ ( ټول ټال ۳۸ وارې نور)
سالار: مشر، میر، سرلوړی. ؛. ۳۴۲
ستو: کوشنۍ قطره. ؛. ۳۲۰
سپورې: کنځلې، پوچې، بدی، زیرې، ژیړې. ؛. ۳۲۰
سجدې: ښتن ته ځان ټیټ راوستل، ښتن لویې ویل، له ښتن سره د انسانانو د غږیدا موقع. ؛. ۳۱۱
سحک(سحق): د دوې ښځو سره سامان مښلو ته وایې. دوې ښځې چې له یو بل سره سامان جنګوې او خپل شهوت پوره کوي. ؛. ۳۲۰
سخهار: سخه هار، دباد دالوتلواواز. ؛. ۳۲۰
سربلند: سرفراز، سرلوړی. ؛. ۳۴۳
سربېره: له دې سره. ؛. ۱۳ او ۱۴
سرداران: مالیکان، د مالدارۍ مالیکان. ؛. ۳۲۰
سرفراز: سرلوړی. ؛. ۳۲۰
سرکار: دولت، حکومت. ؛. ۳۲۰
سرکوب: خرس، سرټیټی، مختورن ، نسکور، ژېړمخی، زېړمخی، ملامت. ؛. ۴۳
سرکوزی: ۱: سرټیټی، مختورن ، نسکور، ژیړمخی، زیړمخی، ملامت ۲: سرکوب، خنځیر، ځورله، خنزیر، خرس. ؛. ۳۱۳
سر لیک: سرلیکنه، عنوان، سر خط. ؛. ۴، ۶، ۲۳۷، ... . او ۲۴۵ ( ټول ټال ۴۲ وارې نور )
سر لیکنه: سر لیک، سر مقاله. ؛. ۵۰، ۵۸، ۷۴، ۱۷۰، ۱۷۹، ۲۲۷، ۲۳۷ او ۲۴۵
سر لیکه: سردړه، سرلوحه، بورډ. ؛. ۵۰، ۵۸، ۷۴، ۱۷۰، ۱۷۹، ۲۲۷، ۲۳۷ او ۲۴۵
سرمخ: سر صفحه. ؛. ۵۰، ۵۸، ۷۴، ۸۴، ۹۶، ۱۱۸، ۱۲۶ ۱۷۰، ۱۷۹، ۲۲۷، ۲۳۷ ، ۲۴۲ او ۲۶۲
سروېږدی: بالښت، سرایږد، سروېږد، سروېښت. ؛. ۳۲۰
سزنۍ: د ماشوم تړلو پړی، هغه پټۍ چې ماشوم پرې تړي.. ؛. ۳۲۰
سستو: بې ایمانو. ؛. ۳۲۰

سقر: دوزخ، جیهون. ؛. ۳۲۱
سوکړکو: جواری. ؛. ۳۲۱
سکالو: موضع، مضمون، مطلب، مسله. ؛. ۲، ۴، ۶، ۷، ... .او ۳۶۴ (ټول ټال ۶۸ وارې نور )
سوزني: د ماشوم تړلو پړی، هغه پټۍ چې ماشوم پرې تړي. ؛. ۳۲۱
سوکړکې: جواري. ؛. ۳۲۱
سول: عقل. ؛. ۲ او ۱۱
سوله ستاړه: سوله ستاره، سوله بوله. ؛. ۲۶۲
سوله ییز: روغه ییز، سولیز. ؛. ۳۲۱
سماوار: سماوات هغه مسي شی چې پکې اوبه جوشوي . ؛. ۳۲۱
سمه ده: سیې ده، صحیح ده، صیې ده. ؛. ۱۶۹
سنډا: د یو حیوان نوم دی چې په منځني ختیځ کې زیات پیدا کیږي. ؛. ۳۲۱
سواستفاده: ناوړه ګټه اخستنه، سوی استفاوه، بده استفاده. ؛. ۳۲۱
سوب: حاضر. ؛. ۳۵۳ او ۳۵۸
سودايي: چورتي، په سوداکې. ؛. ۲۷۳
سوډی: لټ، تمبل، مټه. ؛. ۱۵۰
سوډۍ: لټه، مټه، تمبله. ؛. ۵۲
سوړ بخری: الکترون. ؛. ۳۵۷
سوسیس: جاسوس. ؛. ۱۸۶، ۲۵۹ او ۳۴۹
سوګند: ږو، قسم. ؛. ۲۱، ۱۶۴، ۱۸۹، ۱۹۳ او ۳۴۹
سویل: جنوب. ؛. ۷۰، ۱۴۱، ۱۴۳، ۱۵۷، ۱۵۹، ۱۶۲ او ۳۷۳
سیوا: زیات، اضافه. ؛. ۲۵۰
سیوس: په شمالي اروپا کې یو نامتو هېواد نوم دی، چې د نړۍ ناوې او زرغون هېواد دی، د دنیا جنت یې هم بولي . ؛.۳۵۷
سیوسیوۍ: توره سابیرۍ، توروزرې څرخي الوتکه، توره څرخي تیاره، توره مرغی (بلکبرډه). ؛. ۳۲۱

## ۲۰. شې (ش)

شاړه: ویرانه، خرابه ، شاړو . ؛. ۳۲۱
شباب: ځواني، ځوان کیدل. ؛. ۳۲۱
شپه غاله: لیلیه، د زده کړیالو له پاره د هستوګند ځای. ؛. ۵۳، ۵۷، ۶۰، ۶۶، ۶۸، ۷۳، ۲۲۶ او ۲۲۶

شتی: تیر، سوفار، خدنګ. ؛. ۲ او ۱۱

شلګر: هغه نرم پټې چې د شولو کرکیلې له پاره یې چمتو کړی وي، د شولو نهل کولو له پاره تیار پټی له چې له ابو ډنډ. ؛. ۳۲۲

شلیتې: کنجرې. ؛. ۳۲۲

شمن ګل: شمن ګال: د مهترلام په ولسوالۍ کې سویل لورته پروت د پښتنو کلی دی. خاله خیلو نه کوز او له جوګي کلا نه پورته. ؛. ۳۲۲

شنډ بخری: نیوترون. ؛. ۳۲۲

شوغکی: یو نوع واښه دي چې د پسرلي په موسم کې په دښته کې شنه کېږي او شغې یې خلکو پسي نخلي. ؛. ۳۲۲

شیبر: په بامیانو کې د یوې سمې نوم دی چې ډېر ساړه وي په کې او یو ډېر لړلی زوړی ( کوتل) هم لري چې د شیبر کوتل یې بولي. ؛. ۳۲۲

شیطان: ابلیس، ازازئیل. ؛. ۲۲۹

## ۲۱. ښې (ښ)

ښکرور: زورور، طاقت ور، زناور، ځناور، سوپر فاور. ؛. ۳۲۲

ښکالو: د پخښو غړ. ؛. ۳۲۲

ښکالوه: سرخج، بحث، مباحثې. ؛. ۱۱

ښوونځو: مکتبونه، ښوونځي، د ښوونځی جمع ده. ؛. ۳۲۲

## ۲۲. غې (غ)

غجکې: لکه دوې تاره (دمبوره) غوندې د ولسي موسیکۍ یوه ډېره ښه اله ده. ؛. ۳۲۲

غزال: هوسۍ. ؛. ۳۲۲

غړیالي: ړوب، عضلاتي، تنومند. ؛. ۳۲۲

غړلېږدی: ژغ لېږدی، لوړغږی، لوړویونکی، لاوډ سپېکر. ؛. ۳۲۲

غوټه: ډمبوسکی جلۍ، غوښه ور. لکه: هېلمندۍ جلۍ غوټه وي. **غ**وټه لنډ وې ( و یا واو) باندې زورنه ده، مخکینی ابېڅه غې (غ) دی پر دې زور په ښه غږ راځي لږ لوړ لوستل کېږي.؛. ۳۲۲

غوټه: سر ورمنډل په اوبو یا توکو کې. لکه: وا!؛ لغمانۍ‌یه! دا د لغمان سین دی په کې غوټه شه! له اوبو دې وېره ورکوي. غـوټـــه منځنی کچې غبږ د وې ( و یا واو) باندې زورنه ده، مخکینی ابېڅه غې (غ) دی پر دې پېخ په بڼه غبږ راځي لږ لوړ لوستل کېږي.؛. ۳۲۳

غوټه: ټرل. لکه: ای!؛ لغمانۍ جلۍ د ټیکري پیڅکې دې غوټه کړه. غـــوټه اوږد وې ( و یا واو) باندې زورنه ده، مخکینی ابېڅه غې (غ) دی پر دې اوږد پېخ یا اوږ مد په بڼه غبږ راځي لږ لوړ لوستل کېږي.؛. ۳۲۳

غوټۍ: د ګل هغه حالت چې خلاص شوی نه وي. ؛. ۳۲۳

غورځاوڼ: د یوې ډلې غړی. ؛. ۳۲۳

غورینه: ګلماله. ؛. ۳۲۳

غوړغوړ: په اسمان کې د الکترونونو د تصادم صوت دی، غوړغوړی بابا، په وربځ اسمان کې سړو بڅرو د ټکرونو غږ. هغه غږ چې له تندر او تالندې څخه وړاندې وي؛. ۳۲۳

غوږکی: ټیلېفون. ؛. ۳۱۰

غوندې: ورته؛. ۱۸، ۱۹، ۲۰، او ۳۵۵ (ټول ټال ۱۲ وارې نور)

## ۲۳. کې (ک)

کاروان: پیر محمد کاروان، شاعر لیکوال زما د ادبي بهېر د ۲۰۰۴ کال اشنا. ؛. ۳۲۳

کاروان: وچه بېړۍ، د اوښانو کتار، قطار، قافله، کافله. ؛. ۳۶۱

کاکۍ: د کاکا ښځه ، د کاکا مندینه، د کاکا ارتینه، د کاکا مینا، د تره میرمن، د تره ښځه، د تره کور ودانه، تینداره. ؛. ۲۹۱ او ۲۹۸

کانه: هغه څوک چې اوازنه اوري. ؛. ۳۲۳

کبلۍ: د هوسۍ زوزات، د هوسۍ اولاد، د هوسۍ بچی. ؛. ۳۲۳

کابلۍ: هغه انجونه چې د کابل د سیمې وي، ټاټوبي د پلازمینې پېژند پانه و لري. ؛. ۳۲۳

کټ مټ: یوه شان، ورته، هم شکل. ؛. ۳، ۱۲، ۱۶، ... . او ۳۶۳ ( ټول ټال ۱۶ وارې نور )

کټینه: د چرسو پرې شوې ګرده چې پټې ډډ ساتي. ؛. ۳۲۳

کډوالۍ: مهاجرت، کډوان، کډوال، مهاجر. ؛. ۹۵

کری: ټول، درسته، واړه، ګر سره. ؛. ۶۰
کړی: ګردی، حلقه، دایره. ؛. ۱۵۶، ۱۵۷... . او ۳۵۸ (ټول ټال ۶۴ وارې نور)

کلام: ویناوې، خبرې. ؛. ۳۲۴
کلام: خبره، وینا. ؛. ۳۲۴
کله خور: سر خوړونکی، کله خورک، یوه بیلګه الوتونکی دی چې زېړه سینه، تور سر، اوږده لکۍ او ډبله چنګه مښوکه لري. چتکی یو بلګه وړوکی الوتونکی دی (امریکایې وړه مرغۍ) خوري. او ماشومان یې کافر الوتونکی هم نوموي.. ؛. ۳۲۴
ککری: کپړۍ، سر، ځکیسر. ؛. ۳۲۴
ککی: ځنکی، زانکی، ننکی، ښکلی ماشوم، ډولي ماشوم، هغه ما شوم چې په مور ډېر ګران وي. ؛. ۳۲۴
کم اصل: بې نسبه، سوی اصیل، ډم، ناین، جولا، نداف، قوال، بازینګر، نځی. ؛. ۲۲۹
کوراک: غوزانو یو ستره بېلکه چې ډېر سخت وې او ماشومان یې د څلورمغزو په لوبو کې د ټکي په ځای استعمالوي. ؛. ۱۴۹
کوره سان: خړسان یو ډول نخی اوسپین ټوکردی. ؛. ۳۱۵
کوړ: ناسم، سوی سم. ؛. ۳۲۴
کولمان: په لغمان کې یو غرنۍ سیمه ده چې وګړي یې په کولماني( پشه یي) ژبه خبرې کوي. ؛.
کوکۍ: ډولیوزې، شا وزرې، ( پکه بي بي، شاه پرک) ۲. مشره خور ؛. ۳۲۴
کوټۍ: کیسکی ،د خره بچی. ؛. ۳۲۴
کونده ګل: د الینګار په ولسوالۍ کې شمال ختیځ لورته پروت د کلی نوم دی. په نورلام کې د ډکرې کلا نه پورته. ؛. ۹۲
کونړي: د کونړ، د کونړونو، د کونړ ولایت چې مرکز یې اسد اباد او ښار یې چغسرای دی ( ځکه یې کونړونه بولي چې څو کونړونه لري لکه خاص کونړ، بر کونړ، کوز کونړ په کې دي). ؛. ۲۹۰
کوهی: ساه. ؛. ۳۲۴
کهول: کورنۍ. ؛. ۱۲۴، ۱۶۸، ۱۷۷، ۲۰۳، ۱۲۶، ۳۰۲ او ۳۶۰
کیږدۍ: خیمه. ؛. ۳۲۴

کېلمان: په لغمان مرکزکې د میدانیو سیمې څخه کوز د ملایانو کلی دی، تانده سیمه ده ورته کېلمان وايي:. ؛. ۳۲۵

**۲۴. ګې (ګ)**

ګاډیلي: ګرده ګردی، تاوه حلقه، د ګاډۍ تیر. ؛. ۳۲۵
ګتیالۍ: ګتونکې ښځه. ؛. ۳۲۵
ګډا: نڅاء، بازي. ؛. ۳۴۳
ګر: ظلم، ستم. ؛. ۳۲۵
ګریان: ژړا. ؛. ۱۱۲ او ۱۲۲
ګس: کین، چپ. ؛. ۳۴۰
ګسټ: کین، چپ. ؛. ۳۲۵
ګسمتي: کینمتی، چپکو. ؛. ۳۶۱
ګسمتۍ: کینمتې، چپلاسې، په کین لاس د لیک لیکلو جلۍ. ؛. ۳۲۵
ګواښ: ګواښنه، ګوت څنډنه، خبرداری، اخطار. ؛. ۲۴۷
ګوټپېر: ګوټلید، زاویه دید. ؛. ۲۸۲
ګوټنه: خیشاوه. ؛. ۳۲۵
ګور: قبر. ؛. ۱۰۹ او ۱۴۲
ګور: کټل، د شپه میرویا د ساتونکو په سیستم کې هغه حالت دی چې تر پېنځه قدمه واټنه پورې امیر ته پاتې شو لاسونه سره تړي په ورنو کلک نیسي او د میر په لور ګور کوي د تعلیم قدم په ښه تیرېږي. ؛. ۲۹۶ او ۳۲۵
ګویا: وینا، په خبرو اخته. ؛. ۳۲۵
ګویان: په خبرو، ږغا، غږا، وینا. ؛. ۳۲۵
ګیځ: سهار. ؛. ۴۹ او ۲۷۲

**۲۵. لې (ل)**

لالا: ستر ورور، ستر اوښی، ستر کاکا، مشری ورور، خوږ مشر. ؛. ۳۲۵
لالیه: پر مېرمنې چې خپل خاوند ډېر ګران وې نو په لالیه یې رابولي. شرین، خوږ، شات. ؛. ۶۷، ۶۸، ۱۴۹ او ۳۲۵
لالۍ: پر مېړه چې خپله مېرمن ډېر ګران وي نو په لالۍ یې رابولي. شرینه، خوږه، شاته، ګبینه، جنتبوی، اومتۍ. ؛. ۳۲۵
لانجه: جنګ او جدل. ؛. ۳۲۵

لا ویاړي: سوی ویاړ، بې ویاړه، نا فخره، لاغروره. ؛. ۳۲۶
لرلید: دوربین. ؛. ۳۲۵
لرلید: ورستی ګنه، راتلونکي بڼه. ؛. ۸۳... . او ۳۶۱ ( ټول ټال ۳۴ واري نور)
لرې ویشتونکی: لېندوک، سنیپر، لرېویشتونکی ټوپک، لېندوک باندې تارول (یوه ډول مرغه) په غلچکي ډول وېشتل، خپل ښکار په پټ او لرې ځایه وېشتل، له لرې او پټ ځایه وېشتل، یوړ یو وېشتل. ؛. ۳۲۵
لړ (ردیف): لړ (ردیف) داسې تعریف کوو چې هغه غونډلې، وییکي ( ویوکي یا وی) او ابېڅې چې په تول او تله برابر یا مقفي شعر په پای کې د ټولو قافیه والو مسرو په یوه بڼه او یوه مانا تکرار راځي ورته ردیف وایو.
تر ټولو ډېرې پېیلې (پیړانو، شېرونو، شعرونه یا اشلوک) د پښتو ژبې د , ه ، ابېڅې باندې پښبله (قافیبه) او لړ (ردیف) شوي دي. که د , ه ، ابېڅې د هرې وییکي له بېل بېل ابېڅې و منو نو د , ه ، ابېڅی په کې لړ (ردیف) راځي. لکه وینه، دینه، شینه، ځینه، پینه په د غو وییې پښبلې کې د , ه ، ابېڅې لړ ده. یا قافیي دې چې د ه ردیف لري. ۲، ۱۱، ... .او ۳۵۲ (ټول ټال ۱۲۹ وارې په بېلابېلو چوپړو کې راغلې)
لـړان: د سطرونه غونه، رووې، قطار، ځنځیر، د عنوانو مخ، لکه: لیکلړ، د لیک یا موخو د عنوانو مخ، لیک د سطرو غونه. ؛. ۳۲۵
لړزان: ریږدان، ځوځیدنه، تریدنه، لړزیدنه، اینې دیدنه. ؛. ۳۲۵
لړی: پروسه. ؛. ۳۴، ۹۲ او ۳۵۹ (ټول ټال ۹ وارې نور)
لغاز: طنز. ؛. (ټول ټال ۱۲۹ وارې په بېلابېلو چوپړو کې راغلې)
لغمانی: هغه کس چې په لغمان سیمه کې زوکړه شوی وي، هغه تن چې په لغمان سیمه کې پیدا شوی وي، د نوموړې سیمې ژوند ګړ او پېژن پانه یې و لري. ؛. ۸، ۷۵، ۷۹، ۱۴۴، ۱۴۶، ۱۹۵، ۲۱۲، ۳۴۲، ۳۴۴، ۳۴۸ او ۳۵۷
لمپاکا: د لغمان ولایت پخوانی نوم دی. ؛. ۹۲ او ۲۶۴
لنډ پر لنډی: لنډ ګنډ، په لنډو. ؛. ۳۲۶
لنډپیری: لنډ پړاوی. ؛. ۳۲۶
لنډ منګی: لنډ عمری. ؛. ۳۲۶
لنډ لیدی: لنډ وینی. ؛. ۳۲۶

لنډون: مخففات، چې د اصلي کلمو پر ځای یې د سر، پیل ابېڅی یا د پیل پېژند ابېڅي راځي. لکه: ت. و ( تخنیکي وی)، ا. غ ,, و. غ ،، ( اقتصادي غونډله یا وتېزه غونډله)، اېنج ( اېنجینېر)، س ( ساینسي)، ک ( کیمیا)، ر ( ریاضي)، ح ( حساب)، ا.ا.ج ( افغانستان اسلامي جمهوریت)... ؛. ۳۶۴

لنډۍ: په لغات کې لنډۍ هغه دوې سرې شعر ته وایي چې د لټکې سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړی، غښتلی، هېښونکی، سندریز، خوږ، ګڼلی، منلی، له اند، پند، احساس او تخیل ډک شعر دی چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

لنډۍ د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. ( دفتنګونه د لنډۍ توکي دي لکه: وی، او، نو وی!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، ګرانه، وروره، یه کربانه! کنه او داسې نور) د قافیې کلمې یا غونډلې نه لري.
خو د دوېیمې مسرې په پای کې اهنګینه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړ وي. هره لنډۍ باید د ه ( زموږ خپله ,,ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول شعر ( البته په همدې وزن او اهنګ)

څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی.
پرتولو لنډۍیو، باندې یوه رښت (قانون) د تطبیق وړ دی، یانې دا چې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره باید ۹ له دفتنګونو پرته او دوېیمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.
د هرې لنډۍ، د لومړۍ څلورمه او اتهمه څپه او د دوېیمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسیږي له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل کیفیت نه پاتې کیږي او په نیمه سیمه کې توپیر لري. ؛. ۲، ۱۱، ۱۲ او ۳۶۶. ( ټول ټال ۱۱۱۰ وارې په دې کښلې کې راغلی دی.)

لنډۍیو لنډۍ یې یوون ( یکړ یا مفرده ) وۍ ده، د لنډۍ ډېرنو یا جمع وۍ یا لغات لنډۍیو کیږي. ؛. ۱۱ او ۳۶۶. ( ټول ټال ۲۱ وارې په دې کښلې کې راغلی دی.)

لنډۍ ایزې: د وۍ یا ویکیي له پامه لنډۍ ایزه هغې درې سرې پېیلې ته وایي چې د لټکې سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګیړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه وګړنۍ، پیاوړې، غښتلې، هښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (پلجیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.
د کوشنۍ لنډۍ ایزې د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې یا کلمې دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږ وي، په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب، هغه اوازو ته وایي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته رازې او لکه یوستووی اواز یوه وار پټلیز له خولې راوزې د یوه غبرګغږ لومړی ټوک یوه خپلواک او دوېیم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکۍ واله

يې يا نرمه ,,ی،، او زرکې واله يې يا درنه يې ,,ئ ،، او داسې نور. ديفتنګونه ,غبرګغږونه، ناترويیکي، ترويیکي، سټربل، اوسټربل، پارنويیکي، بلنويیکي، اندېښني، هيجاني چغې، لکه: الله وئ!، وئ، او، نو وئ!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شيرينه، ګرانه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وئ!!، وا وئ، وای وای. نو، الله، او، ګرانه!، يه کربانه!، يه پښتيانا!، يه ځلميه!، هه بچيه!، يه کربانه!، ای الکه! وروره!، بخته ميره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د لنډئ ايزې توکي دي، چې کله د هرې مسرې پيل کې، کله منځ او ډيری وخت په پای کې ويل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېروالی راولي.

د پښتلې کلمې يا غونډلې لړې لري. خوډېری وخت د لومړئ، دوېيمې او درېيمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړ وي. هره لنډئ ايزه بايد د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ يا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنئ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,,ه، وايو) چې د پښتو ژبې ،نهويشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول يا غږن اواز پايته رسېدلې وي، لنډئ ايزه د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. او درېيمه مسره يې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې لنډئ ايزې، د لومړئ او دوېيمې مسرې څلورمه او اتهمه څپه او د درېمې مسرې څلورمه اتهمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي.

له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سيمه کې بېلوالی لري. په بله وينا لنډئ ايزې مېچې د څپيزه او خجيزه ټولوالي سره سره پر يوه نازورنه څپه يا يوې خوږ غږې يا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستئ نهمې، اتلسمې، او يوه دېرشتمې څپې خوږ غږي د لنډئ ايزې مېچې د څپيزه او خجيزه ټولوالي ترڅنګه د لنډئ ايزې يوه بل رغنده توک ګڼل کېږي او نه شتون يې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېيلې په توګه يې يوه څپه کمېږي او له

موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پايني ټوکون په يوه پير کې له دغو دربواړو څپو څخه هره يوه د ور مخکي نهمې، اتلسمې، او يوه دېرشتمې زورنې څپې له يوه څه اغېز سره لنډۍ ايزې ته يوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وريته هره يوه څپه هم ايوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول يې ترنګتوک يا ترنمي توک کېداى شي. غوره سټه د ترنګتوک په پاينۍ مسره کې دى چې نوموړې مسره د ايزې رغښت پنځ کوي، د ايزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ايزې هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټپکۍ او مصرۍ، له هرې يوې مسرې سره ورته لړونه، پښيلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګينه پاينۍ څپې ولري، د ديفتنګونه او پارنويکي سره، خو له نيمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګټۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربيتۍ، سپينۍ (ازادې پېيلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هايکويۍ، مونډۍ ( سر پربکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېليزۍ، ناپېيلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پېيلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی ولري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېراى بڼه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده درې غونډله ايزه وينا او يادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رټ بېلوالی يا ګړندی فرق يې وکولی شي، ورته ګڼلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی وشي.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپيني ته را اوباسې چې زه خپل د ژبې يوه څو سره پېيله د څو سره لنډۍ ايزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو درې سرى پېيله له درې سرې لټکې يا درې سرې لنډۍ ايزې، څلور سره لټکې له څلور سره لنډۍ ايزې سره، پېنځه سرې لټکې له پېنځه سرې

لنډۍ ايزې سره، شپږ سره لټکي له شپږ سره لنډۍ ايزې سره، اووه سرې لټکې له اووه سرې لنډۍ ايزې سره، اته سرې لټکې له اته سرې لنډۍ ايزې سره، نهه سرې لټکې له نهه سرې لنډۍ ايزې سره او لس سره لټکې له لس سره لنډۍ ايزې سره... . ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لري. ؛. ۱۴۴، ۳۰۰، ۳۲۹، ۳۲۹، ۳۳۰ او ۳۳۱. (ټول ټال ۱۹ وارې راغلی دی)

لوبغالې: لوبغاله يې مفرده وی ده، سټېډيوم، د لوبې ميدان. ؛. ۳۶۱

لور: سمت، اړخ. لکه: د لمپاکا لور څخه د وګړو ګڼه ګونه په لوړي پېر کې افريکا، اروپا، ته تللي دي.
**لـور** لنډ وې ( و يا واو) باندې زورنه ده، مخکينی ابېڅه لې (ل) دی پر دې زور په بڼه غږ راځي لږ لوړ لوستل کېږي. ؛. ۷۶، ۸۲، ۹۱، ۱۰۹، ۲۵۷ او ۲۷۸

لور: بچۍ، لورکۍ. لکه: بلا (بلحه) د لغمانۍ لور ده.
**لـور** منځنی کچې غږ د وې ( و يا واو) باندې زورنه ده، مخکينی ابېڅه لې (ل) دی پر دې پېخ په بڼه غږ راځي لږ دروند لوستل کېږي. ؛. ۹۳، ۹۴، ۱۰۳ او ۱۸۷

لور: دروزګر له وسپنې جوړ کړی لور، لکه: د اکا لور پخ دی.
**لـــور** اوږد وې ( و يا واو) باندې زورنه ده، مخکينی ابېڅه لې (غ) دی پر دې اوږد پېخ يا اوږ مد په بڼه غږ راځي ډېر روند لوستل کېږي.
دا د پښتو ژبې يوه رښت دی چې ځينې وی لکه ۱) لور، ۲) لور، ۳) لور په يوه بڼه ليکل کېږي خو لوستل کېږي په بېل بېل سا باندې، چې په کره بڼه يې د اواز په لوړ والي او ټېټوالي ( اينټانيشن ) کې او د ابېڅې او غونډ په زورنه کې بېلوالی او بېلې بېلې مانا لري. چې پښت يې په غونډلو کې وايي په غږ يې روغ پوهېږي او مانايي روښانه کوي. لکه هدا درې وی او پورتنی د ۱) غوټه، ۲)غوټه، او ۳) غوټه ماناوې. په همدې بڼه د (!) غږ چې د اواز بېلوالی په ګوته کوي. ۱) حامده! راځه. په دې غونډله کې (حامده!) نر نوری دی يا نر نوم دی، يا نر ته غږ کوو. خو په ۲) حامده راغله. په دې غونډله کې (حامده) ښځه نوری دی يا ښځه نوم دی، يا ښځه ته غږ کوو. چې دا څرګندونه په کره بڼه په لاس راکوي چې له نر نوم سره به اړېنه غږه (!) راځي او ښځې نوګه نوم بې غږې

(ندایې) وي. غږه (!) یا ( ندایه: Exclamation ) چیغه، کری که، د تعجب نه ډکه چیغه. که!! شي دوې برابره او که درې !!! شي درې برابره لوړه چیغه غږه غږ ور کوي. ؛. ۳۳۱

لوري: سمتونو، طرفونو، له اړنه، د لوری یې مفرده وی ده. ؛. ۱۴، ۹۱، ۹۲، ۹۳ وا ۳۶۴ ( ټول ټال ۶۰ وارې نور راغلی دی)

لوښه: خاصه. ؛. ۳۱۰

لوکاټ: یو بڼه میوه ده چې په لغمان کې خورا ډېر دي او په زیاته ګڼه ثمره هم نېسي، ژیړ رنګ اوقهوه یې دانې لري. ؛. ۳۳۲

لوګر: وګر ولایت چې مرکز یې پل عالم دی. ؛. ۳۳۲

لولی: شلیته، ورانه ښځه، سپکه جلۍ، له خبرې اوړېدونکي ښځه، بېوفا. ؛. ۴، ۵۱ او ۵۷

لوېدېځ: لمرپرېوته، غرب. ؛. ۳۳۲

لیکلړ: د لیک د عنوانو مخ، لیک د سطرو غونه، لړ لیک. ؛. ۳۲۶

لینده ماره: غیشي ویشتونکي ربړي غولکه. ؛. ۳۳۲

لېیل: شاهدي ویل، لل. ؛. ۲ او ۱۱

لېیلي: هڅولي، جغات ورکولي، تشویق کولي. ؛. ۳۳۲

**۲٦. مې (م)**

مالګڼي: مالګاڼي، مالګڼي. ؛. ۳۳۲

مانده: هغه ځای ته ویل کېږي چې پر سړک باندې اوبه په لنډو واوړي، چې نوموړی ځای پر سړک د سیلاب یو ناساپي راتلو له پاره جوړ شوی وي. او هلته سړک موړ او یا چړایي جوړه وي. نو که پر سړک داسې ځای شتون و لري چې اوبه ترې اوړي نو پښتو ژبه کې ورته مانده وایي. ( واش) او د اېنجینېرۍ له پامه که پر سړک داسې ځای شتون ولري چې اوبه ترې اوړي د اوبو اندازه په کې تر دېرشو سانتۍیو پورې او یا د کوشنۍیو موټرو تېرونه په کې ډوب نه شي نو مانده پرط جوړه وي.
که د دېرشوسانتۍیو نه اوبه زیاتې وي نو پولچک پرې جوړه وي. د بېلګې نومونه یې. لکه: د محمد ګل باچا مانده،

کندې مانده، خروټو مانده، باغ میرزا مانده، هرمل مانده، کټل مانده او د شخترای ماندې. ؛. ۳۳۲ او ۳۳۳

مندینه: ارتینه، مینا، میرمن، ښځه، کور ودانه، د ژوند ملګرې. ؛. ۲۹۱ او ۳۲۳

مټاک: سخت منځی، پوچ، خالي غوز، تش منځی، کورک، چارمغز چې منځ یې لرګی وي. ؛. ۱۴۹

مانیز: معنایي، معنوي. ؛. ۲۸

مچو: مچه، مچکه، خولګی، چپو، خولګوټی. ؛. ۳۱۵

مردان: په کوزه پښتون خوا کې یوه منطقه ده، چې تخبی څخه سو واټن ړومبی راځي. ؛. ۳۳۳

مرغومی: پشیرلی، د پسه هغه بچی چې عمر یې له یوه کاله کوچنی وې مرغومی یې بولي، که له یوه کاله یې عمر لوړ وې وری یې بولي، او که چیره یې عمر له دوې کلو پورته شي نو مګ یې بولي. ؛. ۳۳۳

مړوندان: مړوندونه. ؛. ۳۳۳

مسجد: مومنانو د څځلې ګډ ځای، مسلمانانو د عبادت تمځای، د لونځ ځای، چې یوازې الله تعالی ته په کې عبادت کېږي. ؛. ۳۳۳

مسره: د پېیلې نیمه کړی، نیم بند یا نیم بیت ته مسره وایي چې یوه لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ دوې مسرې لري. ؛. ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۳، ... . ۳۷۱، ۳۷۲ (ټول ټال ۶۰۱ وارې په بېلابېلو چوپړو کې راغلې)

مسرې مسره یې یوون نوم دی یا د مسره ډېرنوم دی؛ د پېیلې یوې کړۍ یا کړۍ، بند یا بیت ته مسرې وایي چې یوه لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ یوه مسرې وي. ؛. ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۳، ... . ۳۷۱، ۳۷۲ (ټول ټال ۵۳۸ وارې په بېلابېلو چوپړو کې راغلې)

مصباح: څراغ، چراغ، د شیدو یا د شرابو پیاله. ؛. ۳۳۳

مصرۍ: د وۍ یا وییکي له پامه مصرۍ هغه دوې سرې پېیلې ته وایي چې د لرغون مصرۍ توري، مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري. او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګټلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ۍ او ... .،، د مصرۍ لرغون اهرمو غوندې چې ترننه یې

نه جوړونکو او نه د هغوی نومونه معلوم نه دي ځخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدايښت سره جوښت يې جوت کړي دي. پښت يې هم کولی شي چې لرليد (راتلونکي بڼې) يې پرته له ادبي بيرغي کولو (فلګياريزم، د بل چا افکار او ليکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

مصری د مسرو شمېر يې ۲، د څپو شمېر يې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوييکيو پرته. ( دفتنګونه د مصری توکي دي لکه: وی، او، نو وی!!، جان، اشنا، شيرينه، ګرانه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وی!، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای، نو، يه کربانه!، وروره!، کنه، ولې اواسې نور ... .)، د پښېلې (قافيې) غونډلې (کلمې) نه لري. خو د دوېيمې مسرې په پای کې اهنګينه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره مصری بايد د ه ( زمونږ خپله ,,ه، هـ يا هي ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګي والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,,ه، وايو) چې د پښتو ژبې ،نهويشتم, ګڼه ابېځې ده.

په واول يا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، مصری د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول پېيلې ( البته په همدې وزن او اهنګ) ځرک ليدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د مصری په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل شوی دی. پرتولو مصری يو، باندې يوه رښت (دودی يا قانون) د پلې (تطبيق) وړ دی، ياني دا چې د هرې مصری لومړی مسره بايد ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېيمه ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې مصری، د لومړی ځلورمه او اتهمه څپه؛ د دوېيمې مسرې ځلورمه اتهمه او دولسمه څپه، خجنه وي. ډېری وخت په کې کومه څپه په کې نه احساسېږي له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل کيفيت نه پاتې کېږي او په نيمه سيمه کې توپير لري. ؛. ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۳، ... . ۳۷۱ او ۳۷۳. (ټول ټال ۳۲۷ وارې نور)

مصرۍیو: مصرۍ یې یکړه وۍ ده، یا د مصرۍ ډېرګنی نوم دی. ۴. ۱۱، ۱۷، ۱۸، ... . ۳۶۷. (ټول ټال ۱۴ وارې نور)

مصرۍ ایزې ( مصریزې) د وۍ یا ویکیي له پامه مصرۍ ایزه هغې درې سرې پېیلي ته وایي چې د څو سره مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، ځرنګوالی او ځرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه وګړنۍ، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېځو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ۍ او ... .،، څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ مصرۍ ایزې د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلي یا کلمې دي چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږوي، په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته رازې او لکه یوستووی اواز یوه وار پټلیز له خولې راوزې د یوه غبرګغږ لومړی ټوک یوه خپلواک او دوېیم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکۍ واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکۍ واله یې یا درنه یې ,,ۍ ،، او داسې نور. دیفتنګونه ،غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، سټربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وۍ!، وۍ، او، نو وۍ!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانا!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، فردوس خانه!، لغمانیه!، یه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د مصرۍ ایزې توکي دي، چې کله

د هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېری وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښتو کلمې یا غونډلې لړې لري. خو ډېری وخت د لومړۍ، دوېیمې درېیمې، څلورمې، پېنځمې او شپږمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. هره مصری ایزه باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي، مصری ایزه د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. د لومړۍ مصری ایزې پېنځمه او د دوېیمې مصری ایزې شپږمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې مصری ایزې، د لومړۍ او دوېیمې ( د پورتنۍ پېنځه سره مسرې څلورمه، او د شپږ سره مسرې پېنځمه) مسره څلورمه او اتهمه څپه او د پېنځمه او شپږمې مسرې ( پاینۍ مسرې،) څلورمه، اتهمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا مصری ایزې مېچې د څپیزه او خجیزه ټولوالي سره سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. د هې ابېڅې دی چې غږ یې نس څخه هوا په حنجرې کشوي، چې خولې مخکې مو ورغوی او نیسئ او ه یا هه ووایئ نو هوا ویچې او د نس ډکیدل او تشیدلو باندې پوهېږۍ چې همدې ته ترنګتوک وایي، مانا دا چې د پیلنۍ مصری ایزو نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې (د پېنځه سره مصری ایزې یې ایزو نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې، پېنځه څلوېښتمې او اته پېنځوستمې) څپې خوږغږي د مصری ایزې مېچې د څپیزه او خجیزه ټولوالي ترڅنګه د مصری

یوه بل رغنده توک ګڼل کېږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پاینې توکونه په یوه پېر کې له دغو درېوارو څپو څخه هره یوه د ور مخکې وروستۍ نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې (د شپږ سره مصرۍ ایزې نهمې، اتلسمې، اووه ویشتمې، شپږدېشتمې، پېنځه څلوېښتمې او اته پېنځوستمې ) زورنې څپې له یوه څه اغېز سره مصرۍ ایزې ته یوه خوږغږي وربښې او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفونې (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کېدای شي. غوره سته د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د ایزې رغښت پنځ کوي، د ایزې غوره توک او منځې راځي.

په تولہ کې غوره ایزې هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې ولري، د دیفتنګونه او پارنویکي سره، خو له نیمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پېیلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هایکویۍ، پتۍ ( تې خورو اړوندې پېیلې)، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېښتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلېزۍ، ناپېیلۍ او سلسلۍ، دې تولو پېیلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی ولري، د دې له پاره چې دا تول په ډېرۍ ښه له درې مسرو څخه رغښت مونډلی دی او زوکړه شوې، ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نوموړو تولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رټ بېلوالی یا ګرندی فرق یې وکولی شي، ورته ګڼلې وي او د تولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې تول پښتون پښت کولی وشي.

د مصرۍ ایزې د څپې شمېر بېلګه داسې ده چې درې سره لرې ۳۱ څپېزې وي، څلور سره مصرۍ ایزې ۴۰ څپېزې وي، پینځه سره مصرۍ ایزې ۴۹ څپېزې وي، شپږ سره مصرۍ ایزې ۵۸ څپېزې وي، اووه سرې مصرۍ ایزې ۶۷ څپېزې، اته سره مصرۍ ایزې ۷۶ څپېزې وي، او نهه سرې مصرۍ ایزې یې ۸۵ څپېزې وي او لس سره مصرۍ ایزې ۹۴ څپېزې وي. چې تر ټولو غوره یې څلور سره مصرۍ ایزې ۴۰ څپېزې رانښلولې لړۍ لري او څلور داني وویل شي. خوندور رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکاروندو په سته ولاړ راځي، ډېرې ښې یې اته سره مصرۍ ایزې ۷۶ څپېزې وي چې دوې داني وویل شي، ښې به بیا درې سرې مصرۍ ایزې دې اته داني یا دولس وویل شي، لږې ښې بیا پینځه سره مصرۍ ایزې یا پینځیزونې مصرۍ ایزې دي چې پینځه داني وویل شي ښې راځي، دا بیا له څلورو دانو شپږ سره مصرۍ ایزو سره خوا په خوا ځای نیسي.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسې چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله د څو سره یا څو مخه مصرۍ ایزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو پینځه او شپږ سره پېیله له پینځه سره او شپږ سره مصرۍ ایزې، مصرۍ تورې او مصرۍ ایزې سره ورته ډېرې ځانګړې ځانګېرنې لري، چې ورته مصرۍ ایزه وایي، په دغه ډول څېرې لري، درې سره مصرۍ ایزې، څلور سره مصرۍ ایزې، پینځه سره مصرۍ ایزې، شپږ سره مصرۍ ایزې، اووه سره مصرۍ ایزې، اته سره مصرۍ ایزې، نهه سره مصرۍ ایزې او لس سره مصرۍ ایزې... . په ښه مندل کېږي. او مصرۍ ایزې ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې داسې دي. ؛. ۳۳۵، ۳۳۶، ۳۳۷ او ۳۳۸

مطعم: خوراک. ؛. ۳۳۸

مل: بډه، ملګری، انډېوال، دوست، اشنا، یار. ؛. ۴... . ۲۹۳ او ۳۳۸ (ټول ټال ۲۰۵ وارې نور)

ملګري: دوستي، اشنایي، بډه والی. ؛. ۱۳، ۱۷۰، ۲۴۸، ۲۹۲، ۳۶۳ او ۳۸۰

منبر: دریځ، د تبلغ د ودرېدو ځای، ( مونږ ورته ډېر زیات درناوی لرو او همیشه دا په پام کې نیسو چې غلته خبره او کوم ناوړه وینا، ترېنه سوی استفاده ونکړو.
ځکه چې حضرت محمد(ص) به له منبر نه د اسلام دین، کره شیان، مقدس کتاب، قرآن پاک چې د حضرت جبرائیل امین ملائک په واسطه پر حضرت محمد (ص) نازل شوی د الله العظیم له لوري، هغه پوره مسلمانانو ته و رسوه او ابلاغ کاوه یې. چې زموږ ژوند، قانون، نظام دې کتاب پورې تړلی دی او منوونکو ته یې مسلمان وایي.
الله تعالی مونږ ته له یو لړ شیانو څخه په کلکه منعه کړې چې حرام دي ( حرام یې بولي) او نه به یې کوو، لکه:.
په ځمکه کې فساد، قتل، غلا، زنا، سود، شراب څښل، د خوږ غوښه خوړل، د یتم مال خوړل، ظلم، منافقت، له یهودو او عیسویانو سره لاس یو کول او پیسې تر اخستل، پټ پردی کېدل، یووالی نه کول... ، او له هغه سره شریک نیول.
بل لړ شیانو یې حلال ګرځولي دي چې همیشه به یې کوو، کله:. د مېرمن ټول رښت ورکول، له هغوی سره ښېګڼه کول، کالي او خواړه ورته چمتو کول، لمونځ، روژه، زکات، حج، یوازې او یوازې د الله تعالی د رضا له پار جهاد، ښه سلوک، ښه رویه، ارام خوراک کول په ټېټ اواز غږېدل، د مشرانو درناوی، پاک خواړه خوړل، جغات، د مور او پلار په وړاندې د اوف کلمه هم نه ویل...
؛. ۳۳۹

منځه: منځی، هسته. ؛. ۲۲، ۸۲، ... . او ۳۶۱ ( ټول ټال ۵۹ وارې نور)

منځه ګل: د الېنګار په ولسولۍ کې سویل لوېدیځ لور ته پروت د کلي نوم دی. بدیاباد (بدیع لاباد) کې. ؛. ۳۳۹

منځی: هسته. ؛. ۳۳۳ او ۳۳۹

منګي: د اوبو لوښي، ګړي، مفرده وی یې منګی دی. ؛. ۷۶، ۱۳۱، ۲۰۵ او ۵۵۵

موټي: مفرده وی یې ده ، موټی، سوک. ؛. ۳۱۰

موخي: سوله وي، موخل، مخل. ؛. ۳۳۹

مورچل: ډګر، سنګر. ؛. ۴۳

موزي: حسود. ؛. ۲۰ او ۲۴

موزون کدم ( قدم): د کدم هغه بـېلګه ده، چې زموږ د هېواد افغانستان د شپه میرو په سیستم کې له لمړني حالت پیل څخه شروع، تر ۲۵ متری واټنه پورې چې د شپهمیرو میر ته نږدې کېږي.
کله چې د شپه میرو ټول ټولګی له شپغالي او یا له ټولګي څخه د پریټ میدان ته را وضي. نو د پریټ په میدان کې د کشونو په پیلني ځای کې شپهمیري په لمړني حالت او سکون حالت کې ولاړ وي.
چې دایي لومړی حالت دی. نو کله چې میر یا کومندان یې ورته و وایي:- اسلام علیکم ورحمته و برکاته؟
په ځواب کې شپهمیري وایي:- وعلیکم ورحمته و برکاته!
او بیا ورته (کومندان) وایي:- ستړي مشئ؟
په ځواب کې شپهمیري وایي:- ژوند!، ژوند!، ژوند!. او که چېرته سر پټي ودانی، تالار، ټولګی، ځغاسته، حال، وې نو بیا ورته شپهمیري په ځواب کې یوه ځل له پاره ژوند! وایي.
او یا (کومندان) وایي چې څنګه یئ؟ ژوند!، ژوند!، ژوند!. او که خدای په امان وایي؟ نو بیا ټول شپهمیري یې علمي او نظامي د درجه (رتبه) ګوري او وایي :- بریالي اوسئ مل پاڅوال صیب!!! (یا نور......).
په دوېیم حالت کې ورته وایي:- تیار شئ!
نو شپهمیری هر یو تن ځان برابروي.
په درېیم حالت کې ورته وایي:- ارام شئ!
نو شپهمیری هر یو تن ځان پټه خوله کوي.
په څلورم حالت کې ورته وایي:- مرش!!!!؟
شپه میری هر یو تن (یوه کدم یا یو قدم) ښني پر ځمکه یو وارې وهي او په ګډه سره یو اواز کوي (هوو!).
په پـېنځم حالت کې ورته وایي:- یو- دوه!!!؟
شپه میری هر یو تن دوې کدمه پر ځمکه وهي او په ګډه سره یو اواز کوي له هر قدم سره (هوو!)، وایي.
چې هر کله میر ( یا دریځ، مشرانو، لویانو، درې ګونو چارو استازو، د افغانستان دننهنیو چارو وزیر، ولس مشر یا د هېواد د ازادۍ په ورځ د تېرېدوکې ) ته ۲۵ پـېنـځه وېشت قدمه واټن پاتې شوه.
تعلیم کدم پیله وي؛

پاتې شونې د نه وي چې د ښوونکي یا د میر له امر نه ورسته. په تعلیم قدم کې پښې په ځمکه وهي او ورسره اواز کوې.
هر کله چې تر پېیځه قدمه واټنه پورې امیر ته پاتې شوه لاسونه سره تړي په ورنو کلک نیسي او د میر په لور ګور کوي.
په شپړم حالت کې ورته وایي:- تعلیم کدم !.
بیا شپهمیري سره په ګډه وایي یو!، خپلو پښو ته ډب ورکوي.
بیا وایي دوه! بیا خپلو پښو ته ډب ورکوي.
بیا وایي درې! بیا خپلو پښو ته ډب ورکوي.
او موضون کدم ( ارامه تېرېدل، ارام قدم، هوسا حرکت) کوي.
د کرښې (صف) تړلو یا برابرول د شپهمیرو (پولیسو، څارواکي) په تېرېدوکه (رسم ګزشت، پریټ) کې د هېواد د ازادۍ په ورځ نهه، نهه تنه په اوړدو او نهه، نهه تنه په لنډو وي ۹X۹ په هره یو ټولي وې چې ټول سره ۸۱ تنه کیږې.
چې نوموړي ټولي په لس ګونو ګڼه وي.
او افغانستان د شپه میرو سیستم تیارونه د ښي لور ته لوړ تنان وي او ګس لور ته ټېټ تنان (کسه) وي.
له ښي لوړ لور څخه د ۹X۹ تنیز کرښه یا (لین، صف) تړلو پیل کوي او په ګس ټېټ لور یې پای ته رسوي.
او د افغانستان د ملي پوځ سیستم تیارونه د لومړي کرښه یا ( لینکه، صف ) ته لوړ تنان وي.
نههم صف ته ټېټ تنان وي. له پیل لوړ لور څخه د (سرتېرو، ساتونکو، پوځیانو، اردو) ۹X۹ تنیز کرښه یا صف تړلو پیل کوي او د پای په ټېټ لور یې پای ته رسوي.
کله هم چې تېریدوکه بشپړیږي. د ګڼې شمېره یې سل زرو تنو شپه میرو، ساتونکو ته رسیږې.
نو ځکه د هر یوه شپهمیر او ساتونکي د درناوي (احترام) او سلامۍ له پاره د دوی ستر میر( هر یو :- د شپهمیرو ستر میر د افغانستان دننهنیو چارو وزیر... نوم یې... پلانکي صیب او ساتونکو ستر میر افغانستان د ملي د فاع

وزیر... نوم یې... پلانکي صیب ) په سر لوڅي موټر کې تیار سی ولاړ وي.
د ټولو برا بر شویو او ترړل شویو ټولګیو په وړاندې تېرېږي.
نو ځکه په پښونه شي کوی چې د دوره ډېرو تنو په وړاندې په پښو تېر شي.
ځکه په سر لوڅي موټر کې تیار سی ولاړ وي او د څودانو د ټولګیو په خواکې و درېږي.
د دوی په لور ګور کوي په نظامي سلامی ولاړ وي او ورته وايي:- اسلام علیکم ورحمته وبرکاته؟
په ځواب کې ټول همغه ټولي یا ځانکړې بېلګه د شپه میري یا ساتونکو وايي:- وعلیکم ورحمته وبرکاته!
او بیا ورته وايي:- ستړي مشئ؟
په ځواب کې ټول همغه ټولي یا ځانکړې بیلګه د شپه میري یا ساتونکو وايي:- ژوند!، ژوند!، ژوند!.
او بیا ورته وايي:- د شپهمیرو ستر میر د افغانستان دننه نیو چارو وزیر...... پلانکي!، یا د ساتونکو ستر میر د افغانستان د ملي دفاع وزیر...... پلانکي!
